## کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** اور او مینه
**لیکوال:** نورګل اندړوال ۰۷۸۳۳۲۴۶۹۹
**چاپ زیار:** بغلان ادبي بهیر
**خپرندوی:** شهباز خپرندویه ټولنه- جلال اباد
**کمپوز:** عبدالمبین صافی
**چاپ وار:** لومړی
**چاپ شمېر:** (۱۱۰۰)
**چاپ کال:** ۲۰۲۱ زېږدیز. ۱۴۰۰لمریز کال
**د لیکوال فیسبوک:** نورګل اندړوال
**دلیکوال وټساپ:** ۰۷۹۲۲۰۹۵۴۵

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له
خپرندویې ټولنې او لیکوال سره خوندي دی

**د عتیق الله نیازي د کتاب او قرطاسي پلورنځی، د لوګر ولایت مرکز. کابل پکتیا عمومي سرک د ښاروالۍ مارکېټ**
**۰۷۷۲۲۳۳۴۹۴/۰۷۸۷۰۰۶۶۰۳۰**
**جدید مکتبه رشیدیه: جاده میوند سرچوک کابل ، ۰۷۸۲۶۹۰۸۵۰**
**جدید اسلامي کتاب خانه، خوست ښار افغان پلازه نوی کتاب بازار ژېرزمیني ۰۷۶۵۲۲۵۵۳۴رڼا کتابخانه، ژوندون کتابخانه :خوست**
**پښتو اکېډېمي بک شاپ، پېښور یونیورسټی:۰۳۱۲۰۰۹۴۹۴۰**
**ثاقب پبلشرز، رحمت مارکېټ، عقب قصه خوانی، پېښور:**
**۰۳۰۰۵۹۵۵۷۶۷**
روغانیوال خپرندویه ټولنه؛ اسحاقزے مارکیټ، لاندینے پوړ، جلال اباد ښار، افغانستان.
اړیک شمېرې: ۰۷۸۷۸۳۰۳۰۲
**شهباز خپرندویه ټولنه، اسحاقزي مارکیټ، دویم بلاک دویم پوړ لومړی دوکان**
**۰۷۹۷۹۲۰۰۰۸ / ۰۷۷۶۹۲۰۰۰۸ / ۰۷۸۷۸۸۶۸۱۶**

Ketabton.com



او مینه
(ناول)
نورګل اندړوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالۍ

هغوی ته چې د هیواد د اوږدې جګړې یې د مینې ارمانونه سوځولي دي.





# مننه

د سوېډن په مالمو ښار کې د مېشت هېوادوال ښاغلي استاد احمد خان اندړ څخه نړۍ مننه، چې د کتاب د چاپ لګښت یې په غاړه واخیسته او همداراز د بغلان پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د استاد پوهنیار ګل رحمان رحماني دې کور ودان وي چې د کتاب د کتنې زحمت یې په ځان وګاله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښوونځي زده کوونکي د خپلو ورکړو ازموینو د پایلو اعلان ته په تمه وو ، بالاخره دا ورځ هم را ورسېده، د چهارشنبې په سهار له اوږده انتظار وروسته د ټولو پایلې اعلان شوې، د ښوونځي انګړ شور ماشور په سر واخیست، هر زده کوونکي د خپلو نومرو پوښتنه کوله، اول نومره، دویم نومره او درېیم نومره زده کوونکي خو دې پایلو ته تر ټولو زیات وارخطا او تلوسه کې وو ، شمشاد هم په همدې ډله کې راته، دی تر لسم ټولګي پورې له درېیمې نومرې نه و مخته شوی، خو په دې کال یې د بخت بېړۍ میره شوه او په خپل ټولګي کې یې تر ټولو لوړې نومرې وړې وې.

داسې ورځې به معمولا د ښوونکو لپاره هم ډېرې جالبې وې، غوښتل یې هم زده کوونکي لږ په تلوسه او هیجان کې پرېږدي او هم یې لږ تر لږه د کال په یوه ورځ خندولو او خوښۍ ته کومه نیمه پلمه جوړه کړي، ځکه یې له وړاندې ورباندې د ناکامیو او یا خو مضامینو کې د مشروطۍ ناسم زېري کول.

د ښوونځي سر ښوونکي اړوندو ښوونکو ته د پایلو پارچې ووېشلې او هر یوه خپل زده کوونکي ټولګي ته غوښتل، په دې ورځ معلم عبدالبصیر هم راغلی و ، له پارچو سره مخامخ ټولګي ته ننوت او له سلام ورکولو وروسته یې وویل:

خبرې مه کوئ، غلي شئ، د عملنامو د وېش ورځ ده، کوچنی قیامت به ورته وو ایو ، په دې ورځ باید سړی غلي او زبون وهلي وي، زموږ په رنګ کې به په داسې ورځو وینه هم وچه وه، خو تاسې دا دی جشن جوړ کړی او غالمغال مو ټول ښوونځی په سر اخیستی.





د ښوونکي بصیر په څېره کې د خوښۍ او رضایت نښو ، چې ده نه شوی پټولی، زده کوونکو ته ښکاروله چې نه دا یې د زړه خبره نه ده، د پایلو پارچو کې اصلاً نور څه لیکل شوي دي.

زده کوونکو شور بند کړ، غلي شول او سترګې یې په ښوونکي بصیر وګنډلې، غوښتل یې تر ټولو وړاندې پوه شي چې د ناکامۍ او مشروطۍ خبره یې څنګه شوه؟ هسې نه چې د معلم صاحب خبرې رښتیا وي.

د زده کوونکو په منځ کې نرۍ، دنګ او د ښکلې څېرې تنکی ځوان شمشاد هم سرګردانه و ، د خپلو ټولګیوالو په منځ کې یې کله په یوه او کله په بله پښه تکیه کوله، د فزیک مضمون پارچې ته یې زیاته سودا وه، که څه هم پوښتنې یې حل کړې وې؛ خو زیات ورباندې ډاډمن نه و ، ځکه د ازموینې په شپه د خپل ټولګیوال ګلاب د ورور واده کې بند و ، درس ته یې وخت او موقع ونه مونده، نه یې غوښتل د فزیک په پارچه دا بې باوري چا سره شریکه کړي، یوازې یوه ټولګیوال او سیال بابر شاه ته یې کیسه کړې وه.

ټولو زده کوونکو ښوونکي ته کتل، خو شمشاد په مېز سر اېښی و ، د نورو ټولګیو د زده کوونکو شور ماشور هم روان و ، د ښوونکي خبرو د شمشاد حوصله هم ختمه کړه، لړزې واخیست، خو غلی و. ښوونکي یې په منځ کې د انګیزې په موخه د لیک لوست تخته وډبوله او په غوسه ناک انداز یې وویل:

ښاغلو ټنبلانو او نقالانو! په کور کې به هم مور او پلار، یا وروڼه درته خوښ وي، چې زامن مو ښوونځي ته تللي، ښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومرې بـه يې اخيستې وي، خو متاسفانه چې د هغوی دا هيله مو نه ده پوره کړې.

يوه شپېه د ټولو په منځ کې چوپتيا خپره شوه، چا ساه هم په زوره نه وېسته، ټول هک پک و، لکه د مرغانو په سېل چې باښه ور ګډه شوې وي، ټول هک پک پاتې شول، هلکانو يوه او بل ته کتل خو تر داسې روحي فشار لاندې راغلي وو، چې د ښوونځي فضا هم وربانديې د قفس په څېر راټولېده، بابرشاه چې لس کاله اول نومره پاتې شوی و، زړه يې ټوپونه وهل، ټولګيوال يې لالو ورته ګلان راوړي و، خو اوس يې لاندې کتل، له غوسې يې د خپلو راوړو پلاستيکي ګلانو پاڼې پرې کولې، ځان ورته بد ښکارېده، د بابرشاه په استعداد يې هم باور خامېده، د ګلانو په راوړلو په زړه کې پوره پښېمانه و. معلم بصير خان هم وضعيت او د هغوی خپګان درک کړ، ټوکه يې همدومره بس وګڼله، غاړه يې تازه کړه، ويې خندل او بيا يې غږ کړ: زما ښاغلو شاګردانو! وبښئ چې په خپله شوخي مې وځورولئ، حقيقت خبره دا ده چې تاسې د ښوونځي تر ټولو ممتاز زده کوونکي ياست، ستاسې د نګران په حيث په ډېر وياړ وايم چې نه څوک مشروط دی او نه هم ناکام شوی، مخکې له مخکې ټولو ته د ځان او ادارې له خوا مبارکي وايم.

د معلم صاحب د دې خبرې په اورېدو سره د صنف فضا ۳۲۰ درجې بدلون وکړ او خوشالي شوه، ټولو چک چکې وکړې او د ځينو په رنګ کې ايله چې وينه وغورځېده، جنت چې ددې ټولګي تر ټولو شوخ زده کوونکی و استاد ته يې په خندا وويل:





معلم صاحب! باور وکړه موږ دې له اندېښنې مړه کړو، زړه مې ولوېده که تر راتلونکو شپږو مياشتو مړ شوم، نو خون به مې ستا له غاړې وي.

ټولو وخندل او دې وخت کې د ښوونځي سرښوونکی ارمان ټولګي ته راننوت، درې کتابچې، دوه کتابونه او يو درجن قلمونه يې په لاس کې وو.

په خندا يې ويل:

هلکانو! تاسو ټولو موږ ته وياړ رابښلی، زما سرمو جګ کړی، پلرونه او ميندې که بچي راوړي، نو ستاسې غوندې دې وي، لايق او با استعداده اولادونه، د سږ کال ازموينو تر ټولو لوړه سلنه ستاسې ټولګي جوړه کړې ده.

بيا سرښوونکي ارمان شمشاد ته وکتل چې په فکرونو کې ډوب دی، ورته يې ويل: شمشاده! څنګه خپه يې، خدای مه کړه بار موټر خو به دې د سالنګ په لاره نه وي چپه شوی؟

له مزاجه شوخ جنت بيا غږ کړ

هلکه! څنګه خپه يې، خوابښې خو به دې نه وي مړه شوې؟

بل ټولګيوال يې، هېواد وخندل او وې ويل:

ملګرې به يې ترې خپه شوې وي.

د شمشاد تندي چې له ډېرې اندېښنې، ويرې او په خپل ځان د غوسې ګونځې کړې و او په وچلي يې دولس بجې ښکارېدې سرښوونکي ته يې په تريو تندي وويل:

ښاغليه! نه پوهېږم چې نن مې ولې هسې طبيعت ګډوډ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربښوونکي ویل: ښا نو، زه نو نور ستاسې وخت نه نیسم، نن به تاسې زیات خوښ یاستئ، نومرې به اعلان کړم، خو ګورئ چې ماته به شیریني راوړئ.

د سربښوونکي خبرې لا پای ته نه وې رسېدلې، چې معلم بصیر ورغبرګه کړه:

زده کونکو! څه فکر کوئ چې سږ کال به لومړی مقام چا ګټلی وي؟

لکه د ښوونکي پوښتنه چې خورا سخته وي، هېڅا هم څه نه ویل، ټول په خپله خیالي دنیا او ګومانونو کې ورک وو، د ډېرو علمي سوبې نږدې سره برابرې وې، ځکه خو مخکې له مخکې ورته دا اټکل ګران و.

ښوونکي بیا وپوښتل:

ووایئ، اول نومره به څوک وي؟

یو ځل بیا په یوه او بل کې سترګې خښې شوې، خو ډېرې سترګې په شمشاد او بابر شاه راټولې وې، دوی پخوا هم خپلو کې سیالي کوله او په لوړو نومرو به کامیابېدل، خو دا ځل شمشاد خپله هم بابر شاه ته وکتل او په سترګو یې ویل چې دا ښاغلی دی.

شوخو هلکانو په خپلو کې په ټوکو ویل:

د اول نومره ګۍ میراث خور خو معلوم دی، واقعا تکړه دی، د چا پلار یې هم نه شي ورڅخه نیولی، بابر، بابر... بابر شاه او په همدې کې شمشاد هم د هغه نوم واخیست او ویې ویل:

ماته مه ګورئ، بابر شاه ته دې مبارک وي.

بابرشاه ددې خبرو په اورېدو، په ویاړ او غرور سره اوږې وغورځولې، په فاتحانه انداز یې ټولو ته وکتل، خو نظر یې د منني پر ځای له غروره ډک و:





زه درس وایم، په ځان پیسې لګوم، ستاسو په څېر تنبل نه یم چې میراثي اول نومره شم، بیا یې شمشاد ته وکتل او د پېغور په ډول یې ورته وویل:

د شمشاد په څېر هم نه یم چې د ازموینې په شپه واده ته لاړ شم او بیا مې استاد مشروط کړي.

ددې خبرو په اورېدو سره سربښوونکي ارمان په دېوال ټومبلې توره تخته وډبوله او بابرشاه ته غوسه شو، په لوړ غږ یې وویل:

زده کوونکو! زما په مخ کې تاسې د هېچا د سپکاوي حق نه لرئ، په چا ملنډې مه وهئ، نه شمشاد او نه هم بل څوک ستاسې د ټوکو دي، اوس به ربښتیا هم نومرې اعلان شي او څوک چې د لومړي مقام مستحق وي او خواري یې کړې وي؛ نو ټول به مبارکي ورکړو.

بیایې غاړه تازه کړه او شمشاد ته یې وکتل

هلکانو! تاسې ټول زموږ د سر سترګې او اولادونه یاست، شمشاد ستاسې په ټولګي کې هغه تکړه ځوان دی چې له بل تکړه زده کوونکي بابرشاه جان څخه یې یوه لسیزه وروسته اول مقام ګټلی، سږ کال مو همدی اول نومره دی، له زړه نه دې ورته مبارک وي.

شمشاد او ځینو ملګرو یې د لاسونو په شوخې پړکا شور جوړ کړ، ځینې خپه او ځینې خوښ شول، شمشاد په خپل ځای کې ودرېده، د واه چیغه یې کړه، ټولګیوال یې غورځنګ د شمشاد خواته ورغی، خوشحالي وه، شمشاد یوه شېبه په دې فکر کې لاړ چې هسې دی ویده دی او خوب به ویني، په غورځنګ یې سترګې خښې کړې، په ځیر ځیر یې ورته وکتل، د هغه په سترګو کې یې خپله خندانه څېره ولیده چې اننګي یې د خوښۍ ګرمې اوښکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمبوي. غورځنګ شمشاد په غېږ کې ټینګ ونیوه هغه یې ښکل کړ، د ولاړو ټولګیوالو د لاسونو شوخې پړکا ښوونځی په سر اخیستی و او سترګې یې په غورځنګ او شمشاد خښې کړې وې، څو شېبې وروسته ټول سره کېناستل.

د شمشاد اول نومرګي چې تول هک پک کړي وو، ټولګي کې یې یوه او بل ته کتل، ټولګیوالو یې د بابرشاه لپاره راوړي ګلان د شمشاد په غاړه کې وراچول او مبارکیانې یې ورکولې.

چې غوټې پسې وهې په لاس به درشي
چا ویل چې په دریاب کې ګوهر نشته

د مبارکیو تر ځنګ په ټولګي کې ګونګوسې په دې خپرې شوې چې ځنګه بابرشاه ندی اول نومره شوی؟

سرښوونکي غږ کړ:

شمشاده! اوس د تختې خواته راشه او خپله ډالۍ ترلاسه کړه.

شمشاد د خوښۍ قدمونه اخیستل، خو د ساعت وړاندې وېرې او اندېښنې اغېز یې لا اندامونه رپول، په لړزېدلو قدمونو ور روان شو، سرښونکي شمشاد په تندي ښکل کړ، اطلاعنامه، مبارکي او ډالۍ یې ورته په خپل لاس وسپارله.

شمشاد بېرته خپل ځای ته راغی، غورځنګ هم د شمشاد په غاړه کې لومړی ګلان او بیا خپل لاسونه واچول، دواړو دومره وخندل چې آن له سترګو یې اوښکې روانې شوې، بل ټولګیوال یې اباسین شمشاد ته غېږه ورکړه، په تندي ده هم ښکل کړ، بیا یې تر څو شیبو خندا وروسته ټوکې پیل کړې، ویل یې کېدای شي بله ازموینه کې زه اول نومره شم، ددې خبرې په اورېدو په ټولګي کې خندا زور واخیسته ټولو خندل، غورځنګ لومړی په غوسه او بیا





یې په کړس وخندل، ویل یې د خدای ج بنده ګانو د شمشاد د اول نومره ګۍ فکر د چا په سر کې و؟ دغه دی اوس اول نومره شو.

شوخ مزاجه جنت راودانګل د سترګو په رپ کې یې د شمشاد له مخه د پنځه مچکو ټقونه ووېستل، ورغبرګه یې کړه بچو د جنت یاران تل په غرونو کې لارې باسي دا زما خبره ومنئ او سبقونه ووایئ داسې به اول نمره یاست، خپلواک ورغږ کړ.

لنډیه! لږ دا خواږه نصیحتونه ځانته هم ووایه.

جنت په ځانګړي انداز د خولې ډول ورته شروع کړ او په خندا یې وویل: لالا مو تیار د حاضري کلینر دی، شمشاد مو له پیل او زه مو له پایه اول نمره یم.

بل ټولګیوال یې خپلواک په خندا ویل:

ګلان مو بابر شاه ته راوړل خو د شمشاد په غاړه کې مو واچول،
څوک د چا نصیب نه شي خوړی.

شمشاد چې له ډیرې خوشالۍ خبرې نه شوې کولی په ټولګي کې یې قدمونه ووهل بیا یې ویل:

نصیب مې خپل دی رارسیږي
خلکو زما په نصیب مه تړئ شرطونه

شمشاد او ټولګیوال یې د لېسې له دروازې بیرون ووتل، د شمشاد په مخ د خوشالۍ اوښکې راروانې وې. مخامخ د نجونو د لېسې دروازه هم خلاصه شوه او د شمشاد د ګاونډي لور سوله په ژړا له لیسې راووته، هغې د ښنتر په څېر دنګ قد،
زړه راښکوونکې څېره، د مارانو په څېر تاوتاو تورې زلفې،
غټې بادامي سترګې، د خنجر په څېر تېره ښو یې د سترګو خمار

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا پیاوړې کاوه، یوه لوښت غړې، سپین کاغذي مخ، نرۍ پوزه او د ململو په شان پستو لاسونو یې د هر نظر تېر خپل ځانته راکاږه، هر پل یې په ناز لکه د زرکې اخیسته او په ټوله کې یوه بې جوړې نجلۍ وه چې سترګې ترې نه اوښتې.

سولې ددې لپاره ژړل چې سږکال په ټولګي کې نه وه اول نومره شوې، د اوښکو لیکې یې په سپینو اننګو کې لارې جوړې کړې وې او د دغې ناخوښې بار یې په اوږو پروت وه، ورو ورو د سړک په خوا رهي شوه، چې نا ببره یې د هلکانو په ښوونځي یې سترګې ولګېدې، پام یې شو چې د شمشاد په غاړه کې ګېډۍ ګلونه پراته او په مخ یې د خوښۍ ځپې خورې دي.

لس متره لرې ودرېده، څو دقیقې د شمشاد په ننداره کې ډوبه وه، بېرته یې مخ د خپل ښوونځي خواته واړوه، ویې کتل چې چا نده څارلې او هېڅوک هم له خپل ښوونځي نه ورته ګوري، د خپل ښي لاس د شهادت ګوته یې په غاښ کړه، بیا یې غاښونه په خپلې لاندنۍ شونډه خښ کړل، ټیکرې یې له ځانه تاو کړ، د ځان د سمبالولو هڅه یې وکړه، له لاسي دستکوله یې کاغذي دستمال راوویسته، مخ یې پرې پاک کړ، بیا یې بل کاغذي دستمال راوویسته او له سترګو راغلې اوښکې یې پاکې کړې، خپل ګلکسي ټیلیفون یې راوویست، مخ یې بېرته د نجونو د ښوونځي په لور واړوه، د ګلکسي ټیلیفون په ښیښه یې خپلې نازکې ګوتې تېرې کړې، درې واره یې د ټیلیفون کوډ دننه کړ خو خپل شاتګ او د شمشاد پرمختګ اغېز، بیخي یو ډول کړې وه چې آن د خپل ټیلیفون کوډ یې هم هېر شوی وو، څو دقیقې یې سوچ وکړ او بیا یې په خپل وچلي لاس کېښوده، د مبایل کوډ یې دننه کړ،





سکرین خلاص شو، د ټیلیفون د مخې په کمره کې یې خپلې څېرې ته په ځیر وکتل، په ښي لاس یې چپه غومبورې وسولاوه او د اوښکو راغلي نښې یې ترې پاکې کړې، بیا یې ځانته په ډېر ځیر ځیر وکتل، پښه نیولې روانه شوه، د شمشاد خواته راغله خو بیا یې هم جرات ونکړ چې هغه ته نژدې ورشي.

له ځانه سره ویل:

چې هاغه زما د انا خبره ده څوک له غمه او څوک له خوشالۍ ژاړي.

سولې خپل مخ په پړوني کې راپټ کړ، یو خوا او بله خوا یې وکتل، غوښتل یې شمشاد ته د اول نومره ګۍ مبارکۍ ورکړي ځکه چې د شمشاد څېره، پوهه اوخوی یې خوښېده، خو ورسره د مخامخ کېدو پلمه یې نه موندله، همدا ښه موقع وه چې له شمشاد سره خبرې وکړي او د هغه زړه ته لار پیدا کړي.

پښه نیولې د شمشاد خواته ور روانه شوه، په زړه کې یې څو خبرې تاو راتاو شوې، بیرته ودرېده، لړزېده، اندېښنه یې وه چې څوک یې ونه ویني، د خپل پلار فتح خان او ورور روښان غوسه یې ذهن ته راغله، لومړیو کې یې ویل نه به ځي، که کورنۍ یې خبره شي ژوندۍ به یې پرې نه ږدي، دوه قدمونه یې واخیستل، شمشاد ته یې وکتل،بیا یې ویل ما خو دا وخت په خوب لیده خو الله ج په وېښه رانصیب کړ، زړه یې وړاندې او بېرته کېده چې که له شمشاد سره وګوري څه به وشي، بیا یې په ټولې بینا نرۍ د ړندې ګمان وکړ او د شمشاد خواته ور روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد ته مخامخ په داسې حال کې ودرېده چې په څېره کې يې له ورايه له شمشاد سره د کلونو وړاندې څه پټه رشته ښکارېده، ورته يې ويل:

شمشادجانه مبارک! بيايې د خپل ټيکري څنډه په خوله کې ونيوله، خپله شونډه يې په غاښ کړه، شمشاد ته يې مخامخ وکتل او د هغه په سترګو کې يې د هېنداري په څېر خپله څېره وليده، شکي شوه چې شمشاد هم دې سره دلچسپي لري او په زړه کې يې د سولې لپاره څه شته.

سولې خدای پامانې وکړه خو شمشاد لا په خپل ځای ولاړ و، ټولګيوالو يې سوله او شمشاد يوځای ولاړ وليدل، هغوی يې څنګ ته راغلل، ټوکې يې پيل کړې، په نيمه يې شمشاد پوه کړ چې نجلۍ څوک وه؟

شمشاد وخندل، ويل يې سبا راپسې نورې خبرې جوړې نه کړئ، هغه نجلۍ مې د اکا لور وه، غورځنګ، پښتون ته او پښتون بيا خيبر ته وکتل، د هر يوه په شونډو د شيطانۍ موسکا خپره وه، خو د شمشاد د خپګان وېرې په زوره د خندا اجازه نه ورکوله.

شمشاد چې د بخت ستوری يې نن ښه بيدار شوی و، يوه شېبه په يوه خيالي دنيا کې سوچونه وکړل، هغې سره يې د يوځای والي تصوير په خپل ذهن کې رسم کړ، بيا په بل فکر کې ډوب شو، زړه کې يې ويل سوله هم..

د ښار په لور روان شول، په لاره کې يې فکر کاوه چې سوله زموږ د کلي د خان لور ده، د پلار مېږې يې چې په رياضي کې تکړه سړی نه وي نه شي شمېرلی، د پلار په ځمکو کې يې اته سپارې ګرځي، شپږ بزګر يې په کروندو کې شپې سبا کوي او د





غواګانو د ذکات په پيسو يې زمونږ درې کاله ګزاره کېږي، مونږ او هغوی د ځمکې او آسمان په څېر توپير لرو، نه سره جوړېږو.

بيا يې زړه کې وګرځېده، چې د سولې ريباري هم هر سړی نه شي کوی، د ولور پوره کول خو يې يو خوب دی، د هغې د پلار په مېلمستون کې زما په څېر کسان پيالو کې چای اچوي او ميلمنو ته بوټونه سموي.

شمشاد پنځه ورونه درلودل، پلار يې کلونه وړاندې ناڅرګندو کسانو له ښاره کور ته په لاره په شهادت رسولی و، او مور يې ملالۍ د ورځنيو چارو د مخ ته وړو لپاره په خپل کور کې خياطي کوله.

شمشاد د خپل پلار څېره نه وه ليدلې، دوه کلن ترې پاتې و، په تخيلي ډول به يې د هغه څېره په ذهن کې انځوروله.

د شمشاد او سولې دوې کورونه له ښاره پنځه کېلو متره لرې و، له درې هديرو، زرګونه ونو، شپږو نهرونو او د کندوز تر مست سيند به تېرېدل او بيا به د مرکزي بغلان ښار ته رارسېدل.

د ښوونځي د رخصتيو له پيل سره سم سولې په ښار کې د انګليسي او رياضي کورسونه پيل کړل، څو د روښانه راتلونکې لپاره خپل منزل لا ګړندی کړي، سبا يې د کورس په خوا کې شمشاد وليده چې هغه هم راغلی، حيرانه شوه، چې شمشاد به دلته څه کوي، د ورتګ لپاره زړه نا زړه وه، دنيا او د خلکو سل خبرو يې ذهن ورګډوډ کړ، ځان سره يې خبرې پيل کړې او سوچونو کې د شمشاد ليدو لپاره يې لارې جوړولې، لږه شېبه په خپل ځای کې غلې ودرېده، زړه کې تېر شو کاش

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد يې خواته راشي او سلام ورکړي، نا ببره يې فکر ته ورغله دا خو کلي ندی ښار دی، دلته خو د ليدو لپاره څه ناڅه رڼا شته، په شمشاد يې سترګې خښې کړې،خواته يې ورغله، سترې مشي يې ورسره وکړه د هغه په ديدن يې سترګې رڼې کړې او بيايې ترې پوښتنه وکړه:

چې اې! تاهم کورس پيل کړی؟

شمشاد چې د سولې په ليدو يې د زړه څپې په ښوربدو شوې حيران وه، چې سوله دلته څه کوي، د قسمت وېش او کار ته بيخي سوچي وه، شمشاد لکه د قاضي په ړاندې محکوم مجرم، هېڅ هم د خبرو لپاره نه درلودل، يوازې يې سولې ته کتل او په خيالي نړۍ کې يې لکه د تور باز په ټول ښار د واکمنۍ وزرې خورې کړې وې.

سولې ورغبرګه کړه:

اې ! سبا راځې؟

شمشاد د سولې په څېره خپلې سترګې ګنډلې وې، ورته يې ويل:

هو کورس وايم، زرياالي لالا راولېږلم چې درسونه دې وواېه او زمونږ په څېر بايد نالوستی ونه اوسې.

بيا يې ويل:

هو راځم نو نور څه کار لرم.

سولې چې تر څو نورې خبرې له خولې ويستې نزدې ټولګی رخصت او زده کوونکي راووتل، سوله پرته له خدای پاماني ترې روانه شوه.





شمشاد چې د سولې سره يې ورځ تر بلې د زړه تارونه لا ورنزدې کېدل د زده کوونکو په راتګ يې ورته ويل:

زما چې وار راغی ستا پلار راغی

شمشاد سولې پسې، چې د ټولګي په لور يې ګړندي قدمونه اخيستل ورکتل او شته ماحول يې ډېر زيات خوښ شو ، پرېکړه يې وکړه چې اوس خو به خامخا همدې کورس کې درس وايي، نو ړوند له خدای څه غواړي دوه سترګې، ځان سره يې راغبرګه کړه:

يو پلو مې يار لونګين مې په دا بل پلو
يه! وړوکې دې پلو راواوړه
جانان زما د ګلو ونه
له هرې څانګې يې ځولۍ ګلونه وړمه
يه! وړوکې دې پلو راواړه

سولې چې د شمشاد په اړه يې فکرونه ورځنۍ دنده ګرځېدلې وه، ځيني وخت به ترې نا ببره کارونه هم ترسره شول، يوه ورځ سولې په کور کې ديګ پخاوه، د شمشاد په اړه دومره سوچونو کې ډوبه وه چې د مالګې پرځای يې ديګي ته په ناپامۍ کې بوره ور واچوله، وريجې يې پخې کړې، کاسو کې يې وريجې واچولې خو سوله د شمشاد زړه رابښکوونکې څېرې يوې بلې خيالي نړۍ ته وړې وه، د هغه ليدو خوند يې له هېڅه سره نه شو پرتله کوی، لاس تر زنې د کوټې په کُنج کې کېناسته،مور يې غوټۍ پوښتنه وکړه چې سولې راځه ډوډۍ وخوره، سولې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځواب کې ویل چې زړه ته مې نه کېږي، پلار یې فتح خان ویل، سولې لوري ناروغه خو به نه یې؟
سولې ورته په ځواب کې ویل نه پلارجانه هسې مې زړه ته نه کېږي، دا وخت د سولې لالا روښان د وریجو خوړل پیل کړل،لومړۍ مړۍ یې چې وخوړه ویې خندل،ټول هک پک شول چې روښان د څه لپاره او ولې خاندي، پلار، مور، ورونو، او د ورونو مېرمنو یې سترګې پرې راخښې کړې، پلار یې په غوسه ورته ویل هلکه د څه لپاره خاندې؟
روښان بیا وخند ل، ویل یې سولې داسې وریجې ندي پخې کړې چې ویې خورئ، د مله کول وریجو کې یې د فابریکې لبلبو ورګډ کړي مور یې ویل ولې؟
پلار یې چې د شکرې ناروغي درلوده او په کمه مالګه تیار خواړه یې خوړل، ویل یې:
افرین زما سولې نن دې زما په زړه خواړه برابرکړي، مور یې غوټۍ وخندل ویل یې:
سولې! لکه چې د مالګې په ځای دې دیګې ته بوره ور اچولې؟
سوله حیرانه شوه......
پلار یې که څه هم خندل په غوسه یې ویل غلې شئ، زما د نازولې لور په پاخه کړي دیګې پورې مه خاندئ.
په خندا او ټوکو ټولو ډوډۍ وخوړه، سولې دسترخوان ټول کړ او خپلې کوټې ته لاړه، غوښتل یې ارامه ویده شي، هسې یې هم ورځ د شمشاد په فکرونو تېره کړې وه، دشپې تر دولسو بجو خوب ورنغی، د ټیلیفون ځراغ یې بل کړ، خپله بړستن یې ټوله کړه، غوښتل یې کتابچه او قلم راواخلي، مخکې له دې چې





کتابچه راواخلي هغه شېبه یې ذهن ته راغله چې د شمشاد په څېره یې خپلې سترګې ګنډلې وې.
بیا یې دا ټپه وویلې.

**چې نیمه شپه شي ټول ویده شي**
**په ما میلمه شي د شیرین جانان غمونه**

قلم او کاغذ یې راواخیستل، غوښتل یې شمشاد ته څه ولیکي، ذهن ته یې د خلکو خبرې راغلې، د پلار خاني او د شمشاد غریبي یې د خپل فکر یوه برخه کړه، غوښتل یې شمشاد ته د خپل زړه خبرې ولیکي، ګوتې یې ورېږدېدې، قلم یې بېرته کېښود ، د لیک لیکل یې پرېښودل، بیرته یې د خوب ځای ته لاړه، دوه ساعته بیا تېر شول خو سوله لا ویښه وه، غوښتل یې ځان ته ډاډ ورکړي، ځان یې نه شو راضي کولی، د شمشاد مینې یې په زړه کې اور بل کړی و، د زړه تناره یې لمبې کولې، د شپې تیارې ورته ډول ډول پیغورونه ورکول، د کوټې د څلور چوپو دیوالونو یې اته ډوله مفهومه او تعبیرونه اخیستل، بې واکه یې له سترګو اوښکې روانې وې، په خپل ټیکري یې اوښکې پاکې کړې، بیا یې قلم او کتابچه راواخیسته، دا ځل یې د ګوتو پر ځای زړه رېږدېده، دوه واره یې لیک ولیکه خو له سترګو یې په کاغذ څڅېدلو اوښکو د کاغذ رنګ بدل کړ، سولې فکر وکړ چې که دا لیک شمشاد ته ورکړي هغه به پوه شي چې سولې راپسې ژړلي او بیایې لیک لیکلی، د پیغلتوب غرور یې په کاغذ راغلې اوښکې ونه شوې زغملی، اوښکې یې وچې کړې او بیا په بل کاغذ یې په شنو او سرو قلمونو شمشاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لیک ولیکه، درې بجې ویده شوه، له درې بجو یې د سهار تر شپږو بجو همدا لیک په زړه پورې نیولی و.

سهار یې لیک په خپل لاسي بیک کې ځای پرځای او بیا د سهار ناشتې تر خوړلو وروسته د کورس په لور روانه شوه.

په ټوله لار یې زړه درزېده چې شمشاد به یې دغه لیک واخلي کنه؟

بیا یې ویل هسې نه چې شمشاد بیا وخت ونلري نو څنګه به لیک ورته وسپاري؟

په ټوله لاره د کورس ټولګیوالو یې زرنج کې کیسې کولې، سوله په فکرونو کې ډوبه وه، ملګرې یې بریښنا ورته په خندا ویل:

سولې په وچلي دې ولې دولس بجې دي؟ څه شوي؟

سولې ویل:

هسې نن لږ ناروغه یم سر مې درد کوي.

نجونو وخندل، ویل یې:

سر دې خیر چې زړه دې درد ونه کړي

بیا بریښنا ویل:

زما خو زړه درد کوي

هوسۍ په کړس خندا ورته ویل:

بریښنا ته خو په سمسور مېینه یې؛ نو د سولې به ولې زړه درد کوي؟

سولې د زړه په زور وخندل او ویل یې:





هوسۍ ریښتیا وایي بریښنا ته خو مېینه یې، بیا یې له ځانه سره په زړه کې تېره کړه چې خبره خو زما هم د مینتوب ده نو ځکه........

په خبرو خبرو ښار ته ورسېدلې، د کورس مخې ته له زرنج ښکته شوې، دزرنج غرهار د ټولو سرونه په درد کړي و، سولې نجونو ته پلمه وکړه چې یو قلم اخلم او تاسو ټولګي ته درځئ، په همدې پلمه د کورس په دروازه کې ودرېده چې ګوندې شمشاد وګوري، څلور خوا یې و څارلې، وې لیدل د کورس مخې ته د دوهم پوړ په بالکن کې شمشاد ولاړ دی، سولې یو عجیبه حس د شمشاد پر وړاندې درلوده، د هغه په لیدو تازه کېده، څار یې وکړ، یوخوا اوبل خوا یې وکتل، ټول هلکان او نجونې په خپلو درسونو کې بوخت وه، ځان سره یې کړل:

غوړې لا غوړې، ورو ورو د شمشاد څنګ ته ورغله، مخامخ ورته ودرېده، مخکې له دې چې سوله له شمشاد سره ستړې مه شې وکړي، هغه ورته وکتل او په حیرانتیا یې ویل:

سولې ته؟

سولې ورته ځواب ورکړ:

هو زه، ولې حیران شوې؟

شمشاد ویل:

نا!!! خو نن څنګه لس دقیقې وړاندې کورس ته راغلې یې؟

هغې چې د شمشاد دیدن یې له خدای ج نه غوښته په خندا یې ویل:

شمشاده! کیسې ډېرې سر یې یو، یو څه مې راوړي، زه باور درباندې لرم، هیله ده چې باور او زړه مې مات نکړې، هسې خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږي چې ټول زړه او په ځانګړي توګه د نجونو زړونه د هندارو په څېر دي، چې که هر څومره پيوند شي بياهم مات ښکاري او ټول د مات په سترګه ورته ګوري.
شمشاد چې نور يې د زړه فشار ورو ورو عادي کېده،
د سولې سترګو ته يې کتل او په خندا يې ويل:
ښاا! د هلکانو زړونه خو ستاسې نجونو د لاسه پيوند پيوند دي، آن ځيني زړونه دومره مات شوي چې په دې دنيا يې پيوند کول هم ناشونی کار دی.
سولې شمشاد ته سترګه ووهله، هغه وخندل، بيا سولې خپله شونډه په غاښ وچيچله، ښکته يې وکتل، شمشاد خوښ و او خندل يې، سولې خپل دستکول ته لاس کړ او ليک يې ترې راوويسته، شمشاد ته يې ويل:
ګوره شمشاده! له دې خبرې هېڅوک خبر نه شي کنه نو بيا درنه سوله خپه کېږي، شمشاد څه ونه ويل خو سر يې وخوزاوه او سوله يې پوه کړه چې سمه ده.
بيا سولې هغه ليک شمشاد ته ورکړ چې پکې يې له شمشاده د هغه د ټيلفون د شمېرې غوښتنه کړې وه او هغه خبرې يې ورته ليکلې وې چې د زړه يې وې خو په خوله يې نه شوې کولی.
شمشاد د ليک په اخيستو حيران شو، په زړه کې يې سل رنګه خبرې تاوراتاوې شوې،خو سترګې يې د سولې په ديدن نه مړېدې او په ځير ځير يې ورته کتل.
سولې ورته ويل:
زه مې له ملګرې ښاپېرۍ سره يو دوه خبرې لرم، نو درنه ځم
بيا يې ورته ويل:





شمشاد جانه که دې ځواب درلوده ويې ليکه همدلته دا ليک په ځمکه وغورزوه، زه يې پورته کوم او که دې ځواب نه درلوده نو ليک څېرې کړه؛ خو پام چې څوک خبر نه شي او چاته څه ونه وايې.
د شمشاد ذهن بيا له باغو ورواوښت، لاسونه يې لړزېدل، حيران و چې سولې به څه ورته ليکلي وي؟
ليک يې په ډېرې بيړې سره خلاص کړ، په ليک کې سولې ليکلي و:
غوښتل مې شمشاد جان درته ولیکم خو نه پوهېږم، چې ته به زما وړانديز ومنې کنه؛ نو ځکه مې درته شمشاد جان ونه ليکل.
ډېرې شپې شوې چې خوب مې تښتېدلی دی،
علت يې ندی مالوم
پوهېږې!
له ماشومتوبه مې ستا څېره او نوم خوښېده،
د ژوند مانۍ مې په تا ودانه ده، په هر څه او هر ځای کې تا وينم، پوهېږم د کلی دود او دستور به مونږ خپلې خوښې ته پرېنږدي خو که زړه د کرکر غر هم وي مينه يې اوبه کوي.......
د پاڼې په منځنۍ برخه کې سولې په سره قلم ليکلي و:
شمشاده زه درسره مينه لرم!!!
پخوا مې هم درسره مينه درلوده، څه مې نه شو ويلی او نه مې کوم عکس العمل ښودلی شو، ځکه چې زه د کلي د خان، ملک او د ملا لور يم، خو نور مې د زړه مانۍ بې له تا کنډواله ده، صبر مې تر همدې بريده و، شپه او ورځ مې ته په خيال او فکر کې يې، ته راته په ځير وګوره، چې په دې ورځو کې مې څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ زیړ شوی، لکه سیم نری او لکه د مني پاڼه زیړه پیړه شوې یم، که بې تا مې ژوند کولای شوی کله مې هم درته دا لیک نه لیکه، خو بې له تا ژوند تریخ او پیکه دی، ستا مینې مې په زړه منګولې ښخې کړي، د ورځې پیل او پای مې ستا په یادونو کې ورک دی او د شپې چوپتیا راته ستا د مینې ژمنې راکوي، هجر دې سخت او نشتون دې زما له صبره وتې خبره ده، زما ګرانه مینه درسره لرم.

بـــې لـــه تـــا ژونـــد نـــه تېریـــږي
پـــه ریښـــتیا ژونـــد نـــه تېریـــږي

شمشاده! تېره شپه مې بیخي ډېر یادېدې، ستا خېره مې د سترګو په نینیګک کې پرته وه، روحاً له تا سره وم خو جسم ته مې کوټې، دیوالونو، کړکۍ، دروازې، د هجر تیارې او د شپې چوپتیا ستا د نشتون پیغورونه راکول.

سترګې به مې چې پټې کړې نشتون به دې هڅولم چې سترګې خلاصې کړم.

د لیک په وروستۍ برخه کې یې لیکلي و: د ټیلیفون شمېره دې راکړه، کله کله به دې له حاله ځان خبروم.

دلیک په پای کې راغلي وو: تېره شپه مې په دې ټپه زړه ټکور کړ کنه نو هېڅ خوب نه وړلم ستا په اړه مې ډول ډول فکرونه کول.

میینـــه صـــبر وظیفـــه کـــړه
د دریـــابونو ماهیـــان غـــاړې تـــه راځینـــه





شمشاد چې لیک یې په لاس کې و، د خپل د مودو ورک ارمان په اوبو کې یې لامبو وهله، غلی ولاړ و هېڅ یې نه ویل، سولې د سترګو له کونجو ورکتل، شمشاد مسکی شو، د بغلان ساړه باد یې د تورو ویښتانو پیکی یو او بل خوا اړوه، حیران دریان ولاړ و ته به وایې چې په دې ښار کې د شمشاد د پاچاهي اعلان تازه شوي او یوازې دی د دې مست ښار لیوني واکمن دی، د ځان سره یې بنګېده او په زوره زوره یې خندل.

په څلور متری کې یې ولاړو هلکانو ویل:

دا لیوني شوی دی

بل ور زیاته کړه:

مه خاندئ له کلي چې ښار ته راشي لومړیو ورځو کې همداسې وي.

دریم یې خوله ورجوړه کړه:

د کوم هندي فلم صحنه به یې خیال ته راغلي وي.

څلورم یې چې میراغا نومېده او ټولو له زیاتې مینې ورته میرو ویلې او د ګاونډي په لور یې مین وو، ویل یې:

دا هلک مین دی، تاسو مسخرې مه کوئ، مینان چې د خپل یوځای والي وخت یادوي په زړه کې خوښیږي او همداسې خاندي، نورو ته هماغه شېبه د رندو ګمان کوي، اوس دا هلک خدای خبر چې چېرته دی او څه کوي، خو روحاً تش کالبوت دلته زمونږ مخې ته ولاړ دی او مونږ یې په اړه خبرې کوو.

شمشاد له ځانه سره فکرونه هم کول، خوزړه یې له خوشالۍ ټوپونه وهل، لیک یې په سینې پورې کلک نیولی و او د کورس مخې ته په بالکن کې ګرځېده راګرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې له ځانه سره ویل سوله خو زما خوښېده، زه د هغې لیوال وم نو په ما کې به څه ښه والی وي، چې سوله په ما میینه شوې ده؟

شمشاد چې د کلي د یوې غریبې کورنۍ غړی و او پلار یې هم په کوچینوالي کې د لاسه ورکړی و او بلې خوا سوله د کلي د خان لور او د مشهورې کورنۍ څخه وه، زړه ته یې نه لوېدله چې مینه دې ورسره ولري، له ځانه سره یې فکر وکړ، یوه شېبه چوپ او خپه شو ویل یې:

سوله په ما هسې مسخرې کوي او غواړي ما ځانته کم راولي، ځکه یې دومره کیسې راته لیکلي او د ټیلفون شمېره مې غواړي.

د شونډو لاندې یې دا بیت ځان سره دکلمه کړ:

**ته خان یې او خبرې دې خانانو غوندې غټې**
**نو څنګه به دې یار شم زه غریب یم صاحبه**

شمشاد په همدې فکرونو کې و، سولې چې نوره یې حوصله ختمه وه پرې راغږ یې کړ:

شمشاده څه دې وکړل نه دې د لیک ځواب راکړ او نه دې څیرې کړ؟

لکه د مجنون په څېر فکرونه کوې او.......

شمشاد چې له خوشالۍ په خپلو جامو کې نه ځایده ویې خندل، بیا یې په ماته غاړه سولې ته ویل:

اې! ما فکر کاوه چې ته به څومره ارامه نجلۍ یې خو ته ډېره شوخه یې، دا ما ولې ځوروې؟





سوله چې شمشاد ورته د همدې دور سیف الملوک ښکارېده او تازه د شمشاد مینې یې په زړه منګولې لګولې وې ویل یې:

ما خو هېڅ هم ندي کړي، د لیک لیکل که ګرمتیا وي او په تامینېدل جرم دا ملامتیا او جرم مې قبول دی.

شمشاد بیا وخندل، خوشاله شو، د شمشاد خندا سوله هم په خندا راوسته، دواړو خندل، ددوی خندا لا پای ته نه وه رسېدلې چې د انګلیسي استاد یې بهیر پرې راغږ کړ:

والکه وا نجلۍ راځئ چې درس پیل کېږي.

شمشاد چې هم خوشاله واو هم د سولې له تاثیر لاندې راغلی و سولې ته یې ویل:

سیلۍ راځه ټولګي ته!

سولې مسکۍ شوه ویل یې:

په تا څه شوي زه سوله یم، پام چې استاد ته دې دننه خپل نوم د شمشاد پرځای شمشتو ونه وایې.

ددې خبرې په اورېدو هم شمشاد او هم سولې وخندل.

دواړه ټولګي ته ننوتل او درس پیل شو، استاد ویل:

ټولګی نوی جوړ شوی نجونې او هلکان دې ټول په وار سره ځانونه راوپېژني.

ټول استاد ته ځیر و، استاد د انټرچنج کتاب درس ورکاوه او پاڼې یې اړولې، شمشاد یو وار سولې او بیا یې لیک ته کتل، استاد او ټولګیوال ورته ړانده ښکارېدل.

شمشاد سولې ته شمېره ولیکله او تر درس وروسته یې لیک بېرته سولې ته وسپاره، خو سولې ته یې ویل چې د ټیلفون ښیښه یې ماته ده، شمېره نه ښیي او بطرې یې هم سم چارج نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتي نو که ډېرى وخت يې ټيلفون بند و خپه کېږي دې نه، بيا يې ورته غږ کړ:
اې سولې جانې! د شپې راته زنګ ونه وهې چې لالاګان مې په کور کې وي.
سوله د کلي له نورو نجونو سره يوځاى کورس ته راتله، تګ او راتګ يې هره ورځ له کلي تر ښاره او له ښاره تر کلي په زرنج کې و، د سولې اقتصادي وضعيت ښه و خو نورو نجونو وسه نه درلوده چې د زرنج په ځاى موټر امله کړي.
ورځې تېرېدې، کورس کې يې بله ورځ د شمشاد لاسونو او مخ ته وکتل چې سره اوښتي، ځکه چې پلى(پياده) پنځه کيلومتره تر ښاره تللى و، سوله پوه شوه چې شمشاد پيسې نلري او پلى له کوره تر ښاره کورس ته راځي.
شمشاد رخصتۍ کې سولې ته وکتل وېې خندل ويل يې:
سولې ته خو ښه يې! په دې سړه هوا کې دغه ده تر کورسه راغلې يې ما فکر نه کاوه چې ته دې په واورينو او سړو ورځو کې هم درس ته راشې، بيا يې ورته په ځيرځير وکتل او په کړس خندا کې وويل:
پلار او مور دې هسې په تا د سولې نازک نوم ايښى ته لکه تکړه جنګيالۍ د تودو او سړو پروا نه ساتې.
سولې غوښتل ورته څه وايي، خو د املې ملګرې يې ښکلا پرې غږ کړ، چې سولې زرنج چمتو دى.
سولې خپل لاسي دستکول ته لاس کړ، دوه زره افغانۍ يې ژر ترې راوويستې او شمشاد ته يې ورکړې، ورته يې ويل:
ځانته دې کورتۍ او بوټونه واخله.





شمشاد له سولې پيسې نه اخيستې ويل يې:
نااا مننه! پيسې لرم.
هغې ورته ويل:
خبرې مه اوږدوه پېسې مې ستا په نامه راوړې او که راسره مينه لرې نو وايې خله.
بيا يې ورته غږ کړ اې زما شمشاد جانه ته کور ته پلى ځې؟
هغه ځواب ورکړ:
هو نو، زه يو تکړه هلک يم؟
سوله نجونو ته ورغله او هلته يې ملګرو ته ويل چې شمشاد هره ورځ آن له کوره تر ښاره او بيا له ښاره تر کوره په دې سړه هوا کې پلى تګ راتګ کوي، نورې ملګرې يې غلې شوې، زرلښتې ويل سولې خورې د زرنج ښې خوا ته چې کوم د سامان صندوقچه شته په هغه دې کيني او هره ورځ دې له مونږ سره ځي او راځي، پيسې دې نه ورکوي خوارکى خو هسې هم زمونږ کليوال دى.
ټولو وخندل ويل يې:
بيخي ښه خبره ده هلئ شمشاد ته غږ کړئ.
د زرنج چلوونکي ميرويس ويل:
وروسته تر دې به زه له شمشاد سره په لاره د هغه غره او ده غره کيسې کوم، تاسې خو لوستې نجونې ياستئ او مونږ سره کله خبرو ته وخت لرئ؟ سولې دوى شمشاد له ځانه سره د کب مياشتې تر دولسمې نيټې کورس ته بوته او راوسته، يوه ورځ چې يخ شمال وېرونکى غږ کاوه او له آسمانه هم واوره ورېده، سولې د شمشاد ټيليفون ته زنګ وواهه، د شمشاد د ټيليفون

ښیښه ماته وه او شمېره پکې نه ښکارېده، شمشاد چې خپلو څارویو ته هماغه شپېه وابښه چمتو کړی و یخنۍ لړزاوه، په لړزېدلو ګوتو یې د اوکې بټن کېکاږله او په تیزۍ یې وویل:

بلې څوک یې؟

د ټیلفون شانه په خوندور آواز سولې ورغږ کړ:

هلو زه یم!

شمشاد ویل سولې ته یې؟

سولې په خندا لومړی ورته ویل:

هو زه یم!حیران شوې چې څنګه مې زنګ وواهه کنه؟

هغه ویل:

نه خوږې، هسې مې پوښتنه وکړه

هغې ورته ویل: دا وخت نو تاته څوک زنګ وهي، ته نه پوهیږې چې ته په چا ډېر ګران یې، بیا سولې ورته ویل:

اې شمشاده ! څوک خو به دې څنګ کې نه وي؟

شمشاد اخو او دیخوا وکتل بیا یې ویل:

د ګرانښت خو درته نه وایم، که مې درته وویلې چې څومره راته ګرانه یې نو بیا دې بې ما طاقت نه کېږي، ویې خندل ویل یې:

دومره راته ګرانه یې لکه ستا ګیلې او زما هسې خبرې.

سولې ورته ویل:

که وزګار یې د کلي دوکان خواته همدا اوس را روان شه، زه به د دروازې له درزه دروګورم بیخي درپسې خپه یم، بیګا مې هم ډوډۍ ونه خوړله، مور مې ویل ډیرو درسونو دې اشتها سوځولې له ډوډۍ پاتې یې، دوه هډوکي شوې یې، او...

شمشاده ! پوره نهه ورځې وشوې چې ستا څیره مې سترګو





سترګو ته کېږي، ستا د نشتون نهه ساعته راته نهه ورځې او نهه ورځې راته سم نهه کالونه ښکاري.

هغه غلی شو

بیا سولې پرې غږ کړ، اې ته لکه چې ماپسې نه یې خپه څکه نغوارې چې راشې !

شمشاد ویل:

سمه ده اوس در روانیږم خو بوټونه مې شلیدلي، هسې نه چې یخ مې شخ کړي او تر تا درونه رسېږم بیا یې کټ کټ وخندل.

سولې ویل:

راځه درته په تمه یم بیا یې له ځانه سره ویل:

د شمشاد په خامه مینه مې زړه سوری سوری کړ، د یوې داسې مسافرې په څېر یم چې خپل منزل رانه ورک دی، د نهیلیو پر ګړنګ ولاړ یمه، شمشاد جانه دغه ګړنګ ستا له سترګو سره اړیکه لري، خیر دی سترګو ته دې رپ ورنکړې چې د ښو په خوزولو سره به دې زما هیلې له ګړنګونو وغورزوې، بیا یې د ځانه سره ویل:

هیلې مې د مني د پاڼو په څېر دي، شمشادجانه وفا دې زما هیلو ته پسرلی دی او جفا دې د مني هغه شمال دی چې په راتګ سره به یې زما د هیلو پاڼې ټولې تویېږي، بیا یې دا بیت له ځانه سره دکلمه کړ

د زړګیه بم مې ستا د سترګو په ریموټ ترلی
یو سترګک ووهه زما د شهادت لپاره

سوله په همدې فکرونو کې د خپلې دروازې شاته د شمشاد په تمه ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد خپل دواړه لاسونه په خپلو تخرګو کې منډلي و، د ژمي ساړه باد يې وېښتان رپول، بيا يې له ځانه سره ويل:
زما او سولې نژدې لرې والی د افغانستان د اوسني تاريخ د پاڼو په څېر دی چې تکرار نلري، تېر به شي خو هېر به نه شي.
د سولې دروازې ته راورسېده، اِيسته اِيسته يې کتل، ورو ورو يې قدمونه اوچتول، د سولې له دروازې د تېرېدو په وخت کې يې په دې فکر وکړ چې څوک يې ونه ويني، د کليوالو له خبرو يې هم ويره زياته وه، په کوڅه کې يې ښکته او پورته وکتل.
سولې پرې ورغږ کړ، هغه ځان غلی کړ، بيا يې په شمشاد غږ کړ، د سولې دوه غږونو ته يې هېڅ ځواب ورنکړ، بيا سولې پرې راغږ کړ، اې شمشاده ! له ما خپه يې، شمشاد په مينه ورته ويل:
سلام سولې جانې، ته څنګه يې؟ نا نا نه يم خپه کوڅه او دبامو سرونه مې وڅارل چې څوک مې ونه ويني، ددواړو په زړه کې يو عالم خبرې وې، خو د خلکو له خبرو ډېر ډارېدل، بيا سولې شمشاد ته په ورو خندا ويل:
اې شمشاده ګوره چې زما او ستا له اړيکې څوک خبر نه شي:
نه هېڅاته مې هم ندي ويلي او نه يې وايم، سولې يې بيا په خبرو کې ورګډه شوه ويل يې:
شمشاده ته خو چې کوټه کې يوازې شې سوله سوله وايې، ګوره نور چې په کوټه او کور کې هم يوازې وې زما نوم ياد نه کړې.
شمشاد په ډېرې مايوسۍ ورته ويل سولې دا ته څه وايې؟ ولې يې ونه وايم؟
سوله يوه شېبه چوپ شوه، بيا يې په خندا ويل ګوره شمشاده کوټې ديوالونه لري، ديوالونه موږکان او موږکان غوږونه، نو





که کوټه کې دې هم سوله وويل، اول ديوالونه،بيا موږکان او ورپسې خلک خبرېږي.
شمشاد اِيسته اِيسته کتل بيايې ورو ويل:
هو سولې مور مې هر وخت وايي چې ديوالونه خبرې کوي، هغه به همدا موږکان ښيي، دې وخت کې سوله دروازې ته رانژدې شوه، د دروازې له درزه يې شمشاد ته يو کاغذ ورکړ، په دې کاغذ کې يې د مينې د اظهار سربېره ليکلي و چې زما تر تا او ستا تر ما رارسېدل آسانه کار دی او دا هرڅه شوني دي خو فولادي عزم غواړي.
د کاغذ منځ کې يې درې زره افغانۍ هم هغه ته ايښې وې.
د پسرلي په لومړيو ورځو کې چې د ښوونځي د نوی کال پيل وو، د شمشاد مشر ورور زريالی ښار ته تللی و، په کومه خبره يې د سيميزو پوليسو د يوه قومندان زمان الدين ورور سره شخړه راغلې وه، د قومندان ورور جمعه الدين بېباک د شمشاد ورور زريالی يې دومره وهلی و، چې ټولې ډډې يې تورې او شنې وې.
زريالي په ښار کې امنيي قومندانۍ ته څو عريضې وکړې، خپل ټپونه يې هم مسؤلينو ته وروښودل څو د زمان الدين قومندان ورور ونيول شي خو چا هغه ونه نيوه.
د ځانه سر ه يې ويل چې دلته د زورواوبه په بره خيژي، بيا يې ويل افغانستان دی، زما په څېر به د ډېرو کسانو غم نه خوړل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله ورځ زمان الدین قومندان بیا د شمشاد ورور په ښار کې ځکه وهلی و، چې ولې یې دده په ورور جمعه الدین بېباک عریضه کړې ده.
زریالی ناهیلی کورته راغی، له کشرانو ورونو سره یې سلا مشورې وکړې چې څه وکړي؟ یوه ورور یې ویل چې د قومندان کور ته ماین ږدو، بل یې ویل نا! مونږ به یې هم ښار کې ووهو، دریم یې ویل مونږ به هم د سیمیزو پولیسو وسله راوړو او له هغه په ګټې اخیستو به جمعه الدین بېباک ووهو، څلورم ورور یې ویل مونږ ملاتړ نه لرو هغوی زورور دی خو زریالي ویل:
زه خپل غچ په خپله اخلم او له حکومت سره مخالفت پیل کوم.
د شمشاد مور ملالۍ ډېرې زارۍ زریالي ته وکړې خو هغه ویل چې زه د قومندان ورور د ښار په منځ کې وهلی یم نه یې پرېږدم.
زریالی د حکومت د مخالفه وسله والو په ډله ورګډ شو، د حکومت پروړاندې یې ګڼو عملیاتونو کې برخه واخیسته او د وخت په تېرېدو سره یو نوموتی قومندان شو.
شمشاد د یولسم ټولګي په دواړو ازموینو کې بیاهم اول نومره شو.
د ښوونځي په وروستیو ورځو کې سولې شمشاد سره د ښوونځي په دروازه کې وکتل، سولې چې خپلې دوه سترګې د شمشاد لیدو ته اته کړې وې په ځیر ځیر یې ورته کتل، مسکۍ شوه، وېې خندل
شمشاد غلی ولاړ و او سولې ته یې کتل
سولې په کړس وخندل ویل یې:
اې! زه دې یادېږم؟



اور او مینه                                    نورګل اندړوال

هغه ځواب ورکړ:
ته خو هره شپه راته یادېږې،زما د زړه په کور کې دې د یاد ماڼۍ جوړې کړې، ستا مینه مې د ښو په څوکو کې ده سترګې نه پټوم او باڼه نه خوزوم، ډار مې له دې دی چې د مینې دنیا دې زما د سترګو په رپولو او د ښو په خوزېدو سره ړنګه نه شي.
سولې بیا پوښتنه وکړه، شمشاده زه دې څه وخت او څنګه یادېږم؟
شمشاد ویل:
هره شپه تر ډېره ستا په یادونو سبا کوم، سترګې مې رڼې وي، که څه هم ګوره منی دی هوا سړه شوې خو زه په بام او یاهم بیرون په برنډه کې ویده کېږم، آسمان کې ستوري شمارم او ستا غم پرې غلطوم، ددې لپاره چې مور او ورونه مې پوه نه شي چې زه ولې ویښ یم نو کتابونه هم راسره وي، هغه هم وایم، د کیمیا هر استحصال اود ریاضي هره معادله په تا جوړوم.
رېښتیا دا څه کوې وړمه شپه دوه ستوري یو بل ته ډېر نږدې شوي و، ما اول فکر وکړ چې کله به مونږ داسې سره نږدې کېږو، ناڅاپه یو یې ولوېد، شکر مې وویست، ویل مې ښه ده چې دا زه او سوله نه وو کنه نو څومره ژر به سره جلا شوي وو،
خبرې یې خلاصې شوې بیا یې په کړس کړس وخندل
سولې په دواړو لاسو کې خپل لاسي بیک ټینګ نیولی و، شمشاد ته یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د دنیا شرمونه نه وای
لکه تاویز به دې په غاړه زنګېدمه

بله شپه د حکومت د مخالفه وسله والو او ملي اردو ترمنځ جګړه وشوه، ساعتونه جګړې دوام وکړ، شمشاد یې مشر ورور زریالي ته زنګونه وهل، لومړیو کې یې ټیلفون نه رُخ کېده، وروسته له هغه یې ټیلفون نه اوکې کاوه، د شپې تر درې بجو شمشاد، څلور ورونه، مور یې ملالۍ، ورینداړګانې او وریرونه یې ټول ویښ و، مور یې ملالۍ ویل:
زړه مې بدې بدې ګواهي راکوي، په زوی مې زریالي څه شوي نه وي، شمشاد د زریالي ټیلفون ته زنګونه وهل، نورو ورونو یې ویل، زریالی وروستیو ورځو کې جګړې ته نه ته.
دزریالي مېرمنې نازو ویل:
نا لالا دا ځل چې زریالی راغلی و ویل یې، جنګي قومندان ټاکل شوی او وروسته تردې په ولسوالۍ کې د جنګ قومنده او مشري ده پورې تړلې ده.
ملالۍ په خپل ځای کې وخوزېده، ویل یې:
اوف خدایه ج دا شپه څومره اوږده شوه، پخیر یې سبا کړې.
ددوی خبرې نه وې خلاصې چې د چورلکو غرهار شو، د راکېټونو غږونه هم ډېر شول، شل دقیقې چورلکې وګرځېدې، بیا د ډیسي توپ غږونه شول.
شمشاد ویل دا مرمۍ د ملي اردو دي، خو ورور یې بریالي ویل:
نا ا شارتکي مرمۍ دي د حکومت مخالف وسله وال پرې د ملي اردو مرکزونه ولي.





ماشومان او لویان چوپ شول، چا آه نه کاوه، آن په کلي کې سپیو هم نه غپل، په دې وخت کې د چورلکو غږونه ډېر شول، راکېټونه یې وتوغول، وروسته له هغه چې له چورلکو راکېټونه د حکومت په مخالفه وسله والو وتوغول شول د ډزو غږونه بندل شول، کراره کراري شوه، ځای ځای سپیو غپل پیل کړل، دې کلي ته د څېرمه کلیو جوماتونو کې ملایانو د سهار اذانونه وکړل، خو په دې شپه چرګانو هم څوک ویښ نه کړل ځکه چې ویرېدلي و او هسې هم څوک په دوه درې کلیو کې نه و ویده شوي.
ملالۍ په لړزیدلی غږ ویل:
شمشاد! ته دې یو وار بیا زریالي لالا ته زنګ ووهه چې که رُخ شي.
شمشاد د زریالي ټیلفون ته زنګ وواهه خو ټیلفون یې د بل چا سره و.
شمشاد په ډېرې بیړې سره مخکې له سلام ویل:
زریالی لالا څه خبره ده، څنګه یې، چیره یې او څه کوې؟ خو د زریالي بل ملګري ځواب ورکړ چې وبښه ته څوک یې،
شمشاد ورته ځان ورو پېژنده.
هغه لومړی چوپ شو، تر شل سانیو سکوت وروسته بیا شمشاد غږ کړ چې بلې وو ایئ لالامې چیرته دی؟
د زریالي ملګري ځواب ورکړ چې زریالی نور زمونږ په منځ کې نشته او د چورلکو په راکیټي برید کې یې ژوند د لاسه ورکړی، ټول سوځېدلی دی، نور یې ټیلفون بند کړ.
شمشاد چیغه کړه، مور یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاده زریالي مې چیرته ده؟ د زریالي میرمن نازو ویل:
هی خدایه ج لکه چې په زریالي څه شوي؟
ورونه یې هم په بېړه کوټې ته راننوتل، شمشاد یوازې ژړل او هېڅ یې نه ویل، څو شیبې چیغې او کوکې وې خو پرته له شمشاده نور څوک نه پوهېدل، چې څه شوي اودی ولې ژاړي؟
وروسته شمشاد په ژړا کې ویل لالا مې مړ شوی دی.
بیا چیغو زور واخیسته، ملالۍ، نازو، د زریالي ورونو او اولادونو په لوړ اواز ژړل، د کور په شا اوخوا کې یې ټول خلک ددوی په چیغو خبر شول.
د نژدې ګاونډې میرمن یې زرغونې خپل خاوند ته ورمنډه کړه او په بېړه یې له خوبه راویښ کړ، ویل یې:
پورته شه چې د زریالي دوی کور کې چیغې دي، ترڅو چې فضل امین خپله لُنګۍ په سرکوله او د شمشاد دوی د کور خبر یې اخیسته کوڅه ټوله د ګاونډیانو ډکه شوې وه.
کوڅه کې ځینو ویل:
د شمشاد مور بوډۍ شوې ده هغه به ناروغه شوې وي او وضعیت به یې سم نه وي خو دسولې پلار ملک فتح خان ویل بیګا جګړه وه، چورلکې هم راغلې هسې نه چې په زریالي څه شوي وي؟
بیا یې د کلي د ولسي تړون په مشر مرجان غږ وکړ، ویل یې مرجانه راځه دروازه مې ډېره وټکوله څوک راونه وتل دننه به ورشو چې څه خبره ده؟





کوڅه کې ټول کلیوال هک پک ولاړ و، شمشاد او کورنۍ یې په لوړ اواز چیغې وهلې، ملک فتح خان او مرجان اکا د شمشاد دوی کور ته دننه شول.
په حویلۍ کې هېڅوک نه و، په کوټه کې ټولو د زریالي په غم ژړل، مرجان اکا نارې کړې ملالۍ وریندارې، وا ملالۍ وریندارې بیرون راووځه، دا غږ د شمشاد مور ملالۍ واورېده، بیرون راووته، دواړو سپین ږیرو ورته ویل:
وریندارې څنګه چل دی ولې چیغې وهئ؟
خو د شمشاد مور چې هر څومره هڅه وکړه څو فتح خان او مرجان ته ووایي، چې زوی یې زریالی په بیګانې جګړه کې وژل شوی دی، دا چې ستونی یې له سلګیو ډک و او ژړا نیولې وه ویې نه شو ویلی، مور یې بیا کوټې ته منډه کړه، فتح خان او مرجان اکا هک پک ولاړ و، دې وخت کې شمشاد له کوټې راووت، ده هم ژړل، فتح خان ترې پوښتنه وکړه، د شمشاد خوله او ژبه ګونګۍ شوې وه او سمې خبرې یې نه شوې کولای، خو د کلي دواړه مشران یې پوه کړل چې لالا یې زریالی وژل شوی دی.
تر زریالي کشر ورور یې توریالي خپلې اوښکې پاکولې او له کوټې بیرون راووت، دا مهال د نیم کلي لویان او ماشومان د دوی د حویلۍ په انګړ کې سره راټول و، کلیوالو توریالي ته ویل:
د زریالي جسد په کوم ځای کې دی چې راېې وړو، دوی لا دا خبرې نه وې خلاصې کړې چې په دروازه کې یو سراچه موټر او اته موټرسایکلونه ودرېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راغلو کسانو ټوپک له خاورو ډک و او میلونه یې ځمکې خوا ته و، د فتح خان مشر زوی بادام ګل رامنډه کړه، دننه حویلۍ ته راننوت او له توریالي یې د چپرکټ پوښتنه وکړه؟

توریالی چوپ شو، خو مرجان بادام ته اشاره وکړه، چې کټ دې له خپل کوره راوړي.

سوله ډېره وارخطا وه ځکه ټولو کلیوالو د شمشاد دوی د کور خواته منډې وهلې، په کلي کې سم شور جوړ و، له شپنۍ جګړې وېریدلي خلک هک پک په کوڅو کې ګرځېدل، ځینو خو لا خپل سرونه هم نه و ږمنځ کړي او ببر سرونه کوڅه کې تاوېدل، سولې فکر کاوه چې په شمشاد څه شوي، زړه یې وړاندې او ببرته کړ څو د شمشاد ټیلفون ته زنګ ووهي او پوښتنه یې وکړي خو بیا یې له ځانه سره ویل هسې نه چې ټیلیفون یې بل چا سره وي او څوک پوه شي چې د ملک فتح خان لور سوله د شمشاد ټیلیفون ته زنګ وهي، لس دقیقې تېرې شوې بیا یې زړه صبر ونکړ، خپل زړه یې د زمرۍ کړ، ګوتې یې لړزیدې د شمشاد شمېره یې په خپل ټیلیفون کې ونیوله او هغه ته یې زنګ وواهه، دوه واره یې زنګ وواهه خو شمشاد بوخت و او د خپلې سولې ټیلیفون یې پورته نکړ، د سولې په زړه کې شک په یقین بدل شو، لاړه د کوټې په کنج کې کېناسته، په زړه کې یې ژړل خو په سترګو یې اوښکې نه راتلې، سوله بیخي ناکراره وه، بیا یې د شمشاد ټیلیفون ته زنګ وواهه، شمشاد ټیلیفون اوکې کړ ویل یې:

بلې!

سوله پوه شوه چې شمشاد ژاړي، ویل یې:



څه شوي شمشاد جانه ته چیرته یې؟

شمشاد شل سانیې چوپ پاتې شو، بیا یې زړه راغټ کړ او په لړزیدلی غږ یې سولې ته ویل:

لالاجان مې زریالی په بیګانۍ جګړه کې وژل شوی دی.

سولې بیا پرې غږ کړ الله ج دې وبښي، تاسو ته د زړه صبر شمشاد ورته ویل، مننه سولې بیا غږیږو اوس چیرته روان یم د زریالي جنازه د یو عالم ویر او غم سره د شمشاد کورنۍ خاورو ته وسپارله، مور یې ملالۍ ډیرې بدې ورځې کولې، ویل یې ملا مې ماته شوه خود کلي سپین سرو ښځو ډاډګیرنه ورکوله او ځینو ورته ویل چې الله ج درکړی و الله ج بېرته در نه واخیسته او.....

د زریالي د درېیمې تر خیرات وروسته جانباز خان چې د شمشاد د پلار تره و د شمشاد دوی کور ته راغی او د هغه د مور په ګډون یې ټولو ته لومړی تسلیت وویلې او بیا وپښېده، ویل یې:

مونږ او تاسو پښتانه یو، د زریالي غچ به اخلو، بیا چوپ شو، په خپله ګیره او بریتو یې څو واره لاس تېر کړ، خپل نصوار یې راووېستل او تر ژبې لاندې یې کړل، څو شیبې یې خپلې سترګې هم پټې کړې، بیا وپښېده ویل یې:

ښا ښا هلکانو، اوس تاسو کوم یو د زریالی په ځای ټوپک اخلئ؟

د شمشاد ورونه چوپ شول، شمشاد ویل:

لالامې دې الله ج وبښي مونږ به خپل کار کوو، دده خبرې نه وې خلاصې جانبازخان پرې غوسه شو، ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شه مشران چې ناست وي کشران نه غږېږي ،
ته چې ښوونځي ته تللی یې بیخي بې عقل شوی یې.
شمشاد غلی شو، یوه شېبه بیا چوپتیا په کوټه کې خپره شوه، جانبازخان غږ کړ چې هلکانو تاسو اوس ځوک د زریالي پرځای ټوپک اخلئ، شمشاد او ورونو یې یوه بل ته کتل، جانباز په غوسه کریغه کړه چې بېغرتي هم ځانته حد لري، توریالي ویل:
که مې د مور او ورونو خوښه وي، زه به مې د لالا ټوپک واخلم اووینه به یې سرېدو ته پرې نه ږدم.
مور یې ملالۍ ویل نا! زویه نا !!!
د جانباز خولې له ډېرې غوسې قف کړی و او پاتې نصوار یې هم په توف داني کې ورتوف کړل او په غوسه یې ویل:
ملالۍ لورې مونږ مه شرموه، پرېږده چې دا هلک یې د ورور نوم تازه وساتي، بیا ټول چوپ شول خو توریالی تیار شو، چې د حکومت له مخالفه کسانو سره وسله واخلي او د حکومت پرواندې وجنګېږي، لومړیو کې توریالی هم عادي جنګیالی و،
درې میاشتې وروسته یې د ورور په ځای نظامي قومندان شو وختونه تېرېدل، د هرې ورځې په تېرېدو سره به ملالۍ اوښکې تویولې، بدې ورځې به یې کولې او خبره به یې همدا وه چې توریالی زوی یې د زریالي په څېر نامراده نه شي او یوه لپه اولادونه یې خاورې په سر نه شي.

****





سولې او شمشاد دولسم ټولګی پیل کړ، د کب د میاشتې په پنځلسمه ددوی ښوونځي پیل شو که څه هم پسرلی نه و رارسیدلی، خو طبعیت عاشقانه څېره ویستلې وه، زړونه یې وړل، د مرغیو شنهار بیا د میینو زړونو لپاره یوه نایابه موسیقي تولیدوله، ونو پُنډک کړي و، غرونو، تالو او دښتو خپلې ژمنۍ جامې ورو ورو ویستې او پسرلنې شنې جامې یې په تن کولې.
د نجونو او هلکانو د ښوونځیو دولسم ټولګي په دوهمو پوړونو کې وو، له همدې ځایه به شمشاد د سولې دوی ټولګي ته ورکتل، شمشاد به په خپل ټولګي د هغې کړکۍ خواته کېناسته چې د سولې دوی ټولګی ترې ښکارېده.
ټولګیوال یې ودان، پټمن او مینه ناک شمشاد ته پخوا ویلي و، چې غواړې لوستې نجلۍ سره واده وکړې، هغو ورسره ټوکې کولې پیل کړې، ویل یې:
شمشاده لکه چې راتلونکې ورېندار دلته ښوونځي کې ده؟
شمشاد ویل:
ناا زه نه چاسره مینه لرم او نه مې له چاسره ژمنه کړې چې واده درسره کوم.
ټولو وخندل، شمشاده به د ټولګي د تختې پرځای د سولې دوی ښوونځي ته کتل، میاشت لا نه وه پوره شوې چې طبعیت هم له شمشاد او سولې سره نا اعلان شوې دوښمني پیل کړه، د دواړو ښوونځیو ترمنځ ولاړو غمازو ونو پاڼې وکړې، له ټولګیو یې د یوه او بل په دیدن بندیز ولګاوه، د ونو په شنو کېدو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد ته د سولې ټولګی او سولې ته د شمشاد دوی ټولګی نه ښکارېده.

یا لوپټه په مخ او یا دې مخ ته لاس نیولی
خو څه له غرونو پناه او څه له دېوالونو پناه

د سولې ملګرې برېښنا پوهېده چې سوله له شمشاد سره مینه لري.

بله ورځ یې سولې ته ویل:

مه خپه کېږه خیر دې که ستا او د شمشاد تر منځ ونو غمازي پیل کړه د ښوونځي دروازه خو شته، هلته مو دیدن سره کوئ، یوبل ته ګورئ او خبرې مو سره شریکوئ، لیرې خو نده، سولې سروخوزاوه او له سترګو یې راغلی دوه درې څاڅکي اوښکې په پټه له برېښنا پاکې کړې چې هغه یې ونه ویني، بیا یې د زړه په زور وخندل ویل یې:

نااا هیڅ خبره نشته ، د ځانه سره یې ویل:

خاورې به درس زما په یاد شي
ټولګي کې ناسته یم شمشاد شمشاد کومه

د پنجشنې ورځ وه، د سولې زړه ډېر تنګ و او د شمشاد د لیدو تږې وه، له لاسي بیکه یې خپل ټیلیفون رااوبسته، د ټیلیفون په ښیښه یې خپلې نازکې ګوتې کش کړې، بیا یې د شمشاد شمېرې ته وکتل، د شمشاد شمېرې ته یې د نوم پرځای زړه لیکلی و، له ټولګي بیرون ووته او شل دقیقې وړاندې له رخصت کېدو یې د شمشاد ټیلیفون ته زنګ وواهه، دوه واره یې هڅه وکړه خو هڅه یې ناکامه شوه، لومړیو کې د شمشاد





ټیلیفون کار نه کاوه او نه هم شبکې ځواب ورکاوه چې ټیلفون بند دی که بوخت؟

لس دقیقې تېرې شوې، سولې په بیړې هڅه کوله چې شمشاد سره خبرې وکړي خو بیاهم ټیلفون نه رُخ کېده، بیرون ووته او د ښوونځي په دروازه کې ودرېده، اخوا او دېخوا یې کتل، لاسي بیک به یې کله په یوه لاس کې ونیوه او کله په بل لاس کې، لس دقیقې پرې لس ساعته تېر شول، د ښوونځي دروازې سره یو خوا او بل خوا تله، سترګې یې د شمشاد دوی د ښوونځي په دروازې ګنډلې وې، رخصتي شوه، له ښوونځي هر زده کوونکي هڅه کوله چې ژر خپل کور یا ښار ته لاړ شي، ریښتیا هم ځینو زده کوونکو ته ښوونځي د زندان په څېر وي، هڅه کوي چې ژر ترې لاړ شي، سولې په ځیر ځیر د ښوونځي دروازې ته کتل، پام یې شو چې شمشاد له ښوونځي رااووت خو ملګري یې ورسره و.

سولې څو واره له لرې ورته په لاس اشاره وکړه چې شمشاد به یې ووینې خو هغه یې له ملګرو سره داسې بوخت و لکه د مومن خان او شیرینۍ کیسه چې ورته پیل کړې وي.

سولې اوف اوف کړل........

بیا یې ویل کاش ټیلیفون یې روښانه وی

ناڅاپه د شمشاد د ټولګیوال پټمن پام شو،

چې سوله د ښوونځي په دروازه کې ولاړه ده او ددوی ننداره کوي.

ویل یې اوهو هلته وګورئ، دا نجلۍ بېچارګۍ چاته ګوري دوه سترګې یې څلور شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد سولې ته وکتل، هغې لاس ورته وخوزاوه، بل ټولګیوال
یې بهیر غبرګ کړ چې شمشاده ته لاس خوځوي، ودان وخندل ویل
یې:
څومره په ځیر ځیر مونږ ته ګوري
شمشاد غوښتل چې د سولې خواته ورشي خو ودان له لاسه
ونیوه، ویل یې ټول وخاندئ زه ټپه وایم، بیا یې ویل چې
شمشاد دې ډېر وخاندي،شمشاد هم دده خبره ومنله او ویې
خندل.
ودان د سولې انتظار ته په اشارې ویل:

**دیدن ته دوه سترګې څلور کړه**
**څلور اته کړه اته شپاړس کړه مینه**

ټولو وا وا کړل خو ودان ویل:
نور تا او هغه نجلۍ نه ځوروو، ورشه اوورسره وګوره
شمشاد د سولې خواته ورغی، مخامخ ورته ودرېده، داسې یې
یوبل ته په ځیر ځیر کتل لکه په ژوند یې چې یو بل نه وي سره
لیدلي
سولې ویل:
څنګه یې؟ ته نو بیخي کلک زړه لرې راپسې هېڅ نه خپه کېږې
شمشاد چې خپلې سترګې د سولې په مخ ور ګنډلې وې هېڅ یې
نه ویل
بیا سولې ورته ویل:
څنګه دې وچلی تروش دی او په تندي دې دولس بجې دي، په
ما غوسه یې او که په ځان؟
شمشاد وخندل ویل یې:





سولې ستا په مخ کې د خبرو جرات نلرم، تا چې ووینم حیران یم
چې کوم ځای ته دې وګورم ځکه ډېر درپسې خپه کېږم
دې وخت کې د سولې ټولګیوالې رخسار پرې راغبرګ کړ چې اې
شمشاده! زمونږ سولې سره دې څه کیسې پیل کړي، چې هېڅ نه
خلاصیږي؟
شمشاد چوپ شو، رخسارته یې ور وکتل ویل یې:
وبښه لکه چې ستاسې وخت مې ونیوه، شونډې یې ورېږدېدې
ویل یې:
هسې مې سولې سره لږ کار و.
رخسار مسکۍ شوه ژر یې خپل مخ د ټیکري په څنډه پټ کړ
ویل یې:
هسې نه چې پټې خبرې وکړئ او زه مو مزاحمه شم.
سولې وخندل ویل نااا
د ښوونځي څلورنیمې میاشتنۍ ازموینې تېرې شوې، پایلې
بیا اعلان شوې او ددولسم ټولګي په دې ازموینه کې بیا
شمشاد اول نومره شوی و.
د شمشاد ورور توریالی به کله کله کورته راته او ډېر وخت به
یې د حکومت پرضد جګړې کولې، یوه ورځ شمشاد ورته ویل
لالا وضعیت بیخي ښه نه دی، هره ورځ چې تاسو جګړې کوئ نو
له هوا مو د ملي اردو چورلکې په توغندو ولي، ځانته پام کوه،
مور یې ملالۍ ویل توریالی زویه د زریالي مړینې مې زړه
سوری کړ، غم یې دروند دی، وګوره وضعیت مې څومره خراب
شوی دی، سترګو مې دید هم پریښی او په وجود ماته شوې یم،
بیا یې په ژړا شوه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما توریالیه زویه د زریالي ښېره مې هېڅ له سترګو نه لیرې کېږي، هره ورځ چې دا بیرونۍ کوټې ته وګورم زریالی مې یادېږي،هغه ددې کوټې په جوړېدو ډېرزحمت ګاللی و، ورو ورو یې د خپل ټیکرې په څنډه خپلې اوښکې پاکولې، د ملالۍ د دې خبرو په اورېدو سره د شمشادله سترګو هم اوښکې روانې شوې خو توریالي هېڅ نه ویل، څو شیبې ټول چوپ شول
بیا ملالۍ غږ کړ چې توریالیه زویه زما د ژړا خاطر وکړه بیا جګړې ته مه ځه، هغه چې تاسو یې وژنئ میندې، پلرونه، اولادونه،کورونه او هیلې لري، مه کوه زویه نور مه ځه، په دې وخت کې دتوریالي جېب کې مبایل وشرنګېده، مخکې تر اوکې کولو شمشاده ورته په خندا ویل چې توریالی لالا څوک دی خو هغه ځواب ورنکړ او ټیلفون یې اوکې کړ ویلې بلې!.......
مخکې تر مخې ښې یې ورته ویل چې سمه ده همدا اوس درزم ملالۍ ویل څوک و، څه یې ویل؟ خو توریالي خبرې بلې خواته بوتلې او ویل چې ادې زه به نو لاړ شم ، د کوټې تر دروازې ووت مازدیګر مهال د کلي دوکان خواته شمشاد وخوزېده څو له ملګرو سره یې وګوري، سوله په خپله دروازه کې ولاړه وه، له لرې یې په شمشاد سترګې خښې کړې وې، په زړه کې ویل زما بې جوړې، ښایسته او په قد دنګ شمشاد!
شمشاد د سولې له دروازې تېر شو، سولې یې ښه په مړه کېډه دیدن وکړ خو شمشاد چې لا سولې پسې ډېر هم خپه شوی و وېې نه لیده، سولې د شمشاد شمېرې ته زنګ وواهه، کله یې چې شمشاد ټیلفون اوکې کړ سولې په کړس کړس خندا پیل کړه ویل یې:





اې! همدې ځای کې چې ولاړ یې ودرېږه، ونه خوزېږې، خبرې درسره په ټیلفون کوم خو ښایسته څېره دې په خپلو سترګو ګورم.
شمشاد په خندا ورته ویل:
ښاا ته نو په بام ولاړه یې او له هغه ځایه زما دیدن کوې، بیا یې په غوسه ورته ویل:
له بامه ښکته شه هسې نه چې پلار او یا مشر ورور دې درباندې را نه شي.
سولې ورته وخندل ویل یې:
زه د دروازې له درزه درته ګورم، شل دقیقې وشوې دیدن دې کوم، بیا یې وخندل، هههههههه
ته لا خبر هم نه یې
شمشاد خپل سر وګراوه، په وېښتانو کې یې ګوتې تېرې کړې، شاعرانو خو دروغ ندي ویلي، یو وخت مې یوه ټپه اورېدلې وه او ویلي یې و چې:

مازدیګر ښه وي دیدن کېږي
ورکه دې ورځ شي انتظار کې تېره شینه

بیا سولې ویل:
شمشاده توریالي لالا او ملاله ادې څنګه ده؟
هغه ویل:
ملاله ادې ښه ده خو د توریالي لالا دې الله ج مل شي، د هرې ورځ پیل او پای یې په جګړه وي، زه پرې وېرېږم چې یا ځان مړ نکړي او یا بل څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی خبرې نه وې خلاصې، چې د شمشاد ملګري زرغون پرې راغږ کړ ویل یې شمشاده څنګه چل ده؟
دغو ورځو کې په ټیلفون کې ډېر بوخت یې؟
شمشاد سولې ته ویل:
اې اوس مې یو ملګری راغی، ده سره خبرې کوم، بیا غږېږو
سوله او شمشاد د ژوند او مینتوب په داسې پړاو کې و چې کله به یې طبعیت،
کله به د سولې او کله به هم د شمشاد ملګرو غمازي کوله او د دوی تر منځ به یې د وصل کړۍ په فصل بدلولې.
که څه هم شنو ونو د پاڼو په کولو سره په ښوونځي کې د شمشاد او سولې تر منځ د جدایي دیوال اباد کړی و او په ښوونځي کې هم نجونو او هلکانو دوی پسې ښار کاوه چې سوله او شمشاد څه کوي خوبیا هم دوی یا په کلي کې د دروازې له درزه او یاهم د ښوونځي په رخصتي ساعت کې یو د بل په دیدن سترګې مړولې او ښه په مینه به یې یو بل ته کتل.
منی په راسېدو و او دې مني په اصل کې د شمشاد او سولې لپاره د ښوونځي په دروازه کې د دیدنونو د پای زېری ورکاوه خو بیا هم دواړه خوښ ځکه و چې خپلې لوړې زده کړې به وکړي.
ورځې تېریدې او شپې سبا کېدې، شمشاد او سولې د یوځای کېدو هیلې په دې موسم کې درلودې، بزګرو د خپل فصل حاصلات راټول، مېږیو غنم او وریژې خپلو غارونو ته وړلې او په هوا کې زاڼو د طبعیت سندرې ویلې خو ښکاریانو ټوپک په لاس د زاڼو مرګ ته ملا تړلې وې او دا فکر ورسره نه و چې دا زاڼې هم بچیان او ځالې لري.





توریالی له دوه تنو ملګرو سره یې د جنګ په لومړۍ کرښه کې جنګېده او پنځلس جنګیالیو یې تر شل متره وروسته په مقابل لوري ډزې کولې، د هرې شیبې په تېرېدو سره جګړه سختېده، له ښاره د کېدونکو ډیسي توپونو او هاوانونو غږ شېبه په شېبه زیاتېده، د سهار اته بجې جګړه پیل شوې وه خو دا مهال یولس بجې وې، توریالي په خپله لاسي مخابره کې د توپان دولس په نوم په مخابرې غږ کاوه خو چانه ځوابوله، د حکومت د بریدګرو جنګیالیو شمېر ډېر وو، له ښاره غټو مرمیو هم د توریالي دوی د جګړې سیمه تر هدف لاندې راوستې وه، د توریالي جنګیالیو دده په شمول هېڅ هم نه ویل، شپږو تنو یې کیڼ اړخ په درې سوه مترۍ کې هغه دوه پوړیزه کور تر اور لاندې نیولی و چې سیمه ایز پولیس پکې ځای پر ځای شوي او په دوی یې د راکټ او ګیرنوف(پیکا) ډزونه کول، شېبه په شېبه د ډزو غږونه ډېرېدل.
توریالي بیا هڅه کوله چې توپان دولس مخابره باندې غږ وکړي او هغه یې خبرې ځواب کړي، پرله پسې توریالي توپان دولس، توپان دولس غږونه کول او هم مهاله یې ورسره مخامخ د ملي اردو په هغو سرتېرو دفاعي ډزې کولې چې غوښتل یې دوی ته ځانونه رانژدې کړي.
دا وخت له ښي اړخه هم د یوې لوړې کلا له څنډو ملي پولیسو د توریالي دوی په ځای د راکټ ډز وکړ او دوی یې له اور لاندې ونیول، توریالي خپلو نهو جنګیالیو ته د تعرض قومنده وکړه او ښي اړخ ته یې په پولیسو د ۸۲ ملي متري توپ او راکیټ د ډز کولو امر هم وکړ، جګړه تر بل هر وخت ګرمه شوه....

(c) ketabton.com: The Digital Library



توریالي په خپله لاسي مخابره کې د توپان دولس او مرکز نهه شبکو غږونه کول خو چاییې مخابره نه ځوابوله، له مخامخ هدیرې ځخه د ملي اردو ټانګ د توریالي دوی سنګر په مرمیو وویشته، دوړې شوې، د باروتو بوی شو، سمندر اخ کړل، توریالي په راکېټ د ملي اردو په ټانک د راکېټ ډز وکړ، هځه یې داوه چې خپل ځای بدل کړی خو ملي اردو ډزې کولې او دوی ته یې وخت نه ورکاوه چې خپل ځای بدل کړی.

جګړه ډېره توده وه، په کلیوا اله اصطلاح چې مور او زوی پکې نه پېژندل کېدل، غمي د خپل ټپی شوي ملګري سمندر پښه تړله او په ملي اردو یې ډزې هم کولې....

کېڼ اړخ ته د توریالي ملګرو د سیمه ایزو پولیسو سنګر په راکېټ وویشته، اتل غږ چې دوه سیمه ایز پولیس یې وویشتل، توریالي ټولوته مرال ورکاوه او خپله یې هم ډزې کولې، د سیمیزو پولیسو پیکاچي شریدونه خالي کول او بې حده ډېرې ډزې یې کولې، اتل او انګار چې غوښتل په سیمه ایزو پولیسو د راکیټ ډز وکړ د سیمه ایزو پولیسو په مرمیو ولګېدل، دا دواړه هم ټپیان شول؛

غورځنګ په توریالي غږ وکړ چې انګار او اتل دواړه ټپیان شول.

توریالي بیا په توپان دولس شبکې غږونه پیل کړل خو ځواب یې نه و.

ښي اړخ ته د توریالي د ملګرو په منځ کې د ملي پولیسو د هاوان ګولۍ ولګېده، درې جنګیالي یې ټپیان شول، چا خپل ټپونه په خپله تړل، چا له نورو مرسته غوښته، ځوک بې هوښه و





او چاهم ډزې کولې او هم یې د ملګرو ټپونه تړل.

له ښي اړخه پټنګ د ملي پولیسو په هغه لیکه د ګرنوف یو شرید تش کړ چې دوی خواته را روان شوی و او په توریالي قومندان یې غږ وکړ چې ځلور تنه یې وغورزول.

توریالي او یوه ملګري یې هم په ملي اردو ډزې کولې، هم یې ملګروته روحیه ورکوله او هم یې په مخابره کې غږونه کول.

غوسه ډېره ورغلې وه، په مخابره کې یې په توپان دولس غږ وکړ، بیا یې غږ کړ توپان دولس، د ولسوالۍ مسوول قومندان ځواب ورکړ چې اورم یې، توریالی تور او شین واوښت، په غوسه یې ورته ویل:

دا څه ریشخند وهئ، اوس دوه بجې دي او زه له یوولسو بجو راهیسې په مخابره کې غږونه کوم خو تاسو..

قومندان ورته ویل:

څه ستونزه وه، وایه چې څه شوي، توریالي په غوسه ورته ځواب ورکړ، څه وشي شپږ جنګیالي مې ټپیان شوي دي، مرمۍ مې په خلاصېدو دي، مخامخ ملي اردو رابانډې تعرضونه کوي، ښي اړخ نه ملي پولیس له ټانګو سره د وړاندې راتګ هڅه کوي مونږ یې مخه نیولې او چپ اړخ ته د میرواکا په کلا کې سیمیز پولیس ځای پرځای شوي دي او ولي مو........

بیا یې ورته ویل:

له ټپي ملګرو مو ډیره وینه تللې ده، یو موټر هم راولیږئ، قومندان ورته ځواب ورکړ سمه ده خو تاسو ټپیان د سیمې په خلکو راوباسئ او پانسمان یې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توريالی په غوسه ويل:
زه مرم تاسې مې سر لاندې ګوړې لټوئ، دلته په کلي کې هېڅوک نشته، مونږ کلابند يو او تاسو وايئ چې ټپيان په کليوالو امن ځای ته ورسوئ.

قومندان ورته ويل:
په لاره کې هم د حکومت ځانګړي ځواکونو کمين ناست دی، بيا چوپ شو ترلږه شېبه سکوت وروسته يې ويل سمه ده مرستندويه کسان در رسېږي نيم ساعت نوره هم جګړه وکړه.

مخابره يې کېښوده ملګرو ته يې ډاډ ورکړ چې تازه دمې جنګيالي رارسېږي اود ټپيانو د لېږد لپاره يې هم يو موټر راغوښتی، لږ صبر پکار دی.

جګړه توده شوه، توريالي غږ کړ چې مرمۍ مه خلاصوئ، يو يو ډز کوئ، کچيرې مرستندويه جنګيالي ناوخته رارسېږي نو مرمۍ مو خلاصيږي او حکومتيان مو ژوندي نيسي او.....

د جګړې شدت شېبه په شېبه ډېرېده، ملي اردو، سيميز او ملي پوليس ددوی سنګرونو ته رانژدې شول، هرچا ډزې کولې، د باروتو بوی و، شنې او تورې لوخړې پورته کېدې، توريالي اخ کړل، نور په ځمکه راولوېده، د څنګ جنګيالي يې باتور چيغې کړې، ويل يې:

هله توريالي قومندان مرمۍ وخوړه

باتور په سينه کشې ځان توريالي ته راورساوه، په اړخ يې واړوه، ويې ليدل چې د توريالي په تندی يوه مرمۍ لګېدلې، څو واره يې پرې غږ کړ چې توريالی قومندانه توريالی قومندانه، خوتوريالي غږ نه کاوه، پنځه دقيقې وروسته تازه





دمې جنګيالي د توريالي دوی سنګرونو ته راورسېدل، توريالی او نور ټپيان يې تر روغتيايي مرکزه ورسول، په روغتيايي مرکز کې ډاکټرانو ويل چې توريالي د ژوند پور پرې کړي دی او زنې يې ور وتړلې.

د شمشاد دوی په کلي کې د جګړې اوازه وه، چا ويل ليزري قطعې جګړه کړې، ځينو ويل چې واړه ډلګې جګړې ته تللي خو ځينو ويل چې جګړې ته د توريالي ګروپ تللی دی.

شمشاد او تر توريالي کشر ورور يې ننګيالی خبر شول، د توريالي شمېرو ته يې زنګ وهل، ټيلفون يې ګُل و، هک پک يې اخوا دېخوا کتل، د خپل کلي له حکومت ضد قومندان آڅک يې د توريالي پوښتنه وکړه، هغه لومړی غلی شو، بيا يې ويل زه خبر نه يم.

شمشاد تک تور اوښتی و او په کلي کې يې له يوه او بله پوښتنه کوله چې جګړې ته څوک تللي او له توريالي لالا يې معلومات لري کنه، ځينو ويل مونږ خبر نه يو، ځينو ويل ناأ هغه جګړې ته نه و تللی او ځينو نورو ورته ويل چې له کوزکلي خبر واخلئ هلته يې کلينيک ته مړي او ټپيان راوړي.

د سولې پلار ملک فتح خان ته د کوز کلي د کلينيک مشر ډاکټر پښتون زنګ وهلی و چې توريالی په جګړه کې وژل شوی او جسد يې هلته په کلينيک کې دی، پاتې اوه ملګري يې هم ټپيان دي چې دوی تر درملنې لاندې نيولي خو د درې تنو وضعيت يې د اندېښنې وړ دی.

ملک فتح خان ننګيالي ته زنګ وواهه او خبر يې کړ چې توريالی په جګړه کې وژل شوی دی، بيا يې ورته ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د خپل کور نظم دې برابر کړي، مړي پسې دوی له سپين ږيرو سره يوځای ځي.
ننګيالی په لړزيدلو قدمونو خپل کور ته روان شو، تر خپل دروازې يې ژړل، دروازې ته په رسېدو سره يې خپل کيڼ جېب نه دستمال راوويسته او اوښکې يې پاکې کړې څو مور يې ملالۍ خبره نه شي چې توريالی هم مړ شوی دی.
ننګيالي په دربهار خپلې کوټې ته ګامونه اخيستل، ملالۍ له خپلې کوټې پرې راغږ کړ، ويل يې ننګياله څنګه وارخطا يې؟
هغه د خپلې کوټې دروازه راخلاصه کړه او مور ته يې ځواب وکړ چې هسې لږ ضرور کار لري، په کوټه کې پړمخې اوږد وغځېده، ژړل يې، اوښکې يې له سترګو باران روانې وې، خو غږ يې نه ايسته، ميرمن يې هيلۍ کوټې ته راننوته، د ننګيالي په ليدو حيرانه ودرېده، غوښتل يې چې له ننګيالي يې د ژړا د لامل پوښتنه وکړي او يا ملالۍ مور خبره کړي خو ننګيالي ورته لاس وخوزاوه.
هيلۍ ننګيالی په غېږ کې کلک ونيوه، څو شيبې يې ځانته نږدې کړ، بيا يې پوښتنه ترې وکړه چې ولې ژاړې، د هغه اوښکې په مخ را روانې وې، په ژړا يې هيلۍ پوه کړه چې لالا يې توريالی وژل شوی او جسد يې د کوز کلي په کلينيک کې دی.
هيلۍ هم په ژړا شوه، دې هم ژړل خو د ننګيالي اوښکې يې په خپل پړوني پاکولې او هڅه يې دا وه چې په دې کارسره هغه ته ډاډګېرنه وکړي.





ننګيالي هيلۍ ته ويل:
ملالۍ ادې ترهغو خبره نه شي تر څو چې دځوانيمرګ توريالي لالا جسد راوړو، ته کور پاک کړه او بندوبست وکړه خو پام چې ملالۍ ادې خبره نه شي.
مازديګر و، ننګيالي په منډه له حويلۍ ووت، ملالۍ پرې ور غږ کړ چې ننګياليه چيرته منډې وهې؟
هغه ځواب ورنکړ خو هيلۍ خپله ژړا کنټرول کړه، اوښکې يې وچې کړې او بيا يې ويل:
ملالۍ ادې هغه وليبال ته لاړ او ويل يې د شپې ته ميلمانه راځي تاسو کور پاک کړئ.
هيلۍ په کور کې اخوا او دېخوا منډې وهلې، کور يې پاکاوه، د توريالي مېرمنې زرلښتې ويل:
هيلۍ ننګيالی لالا څنګه په منډه راغی او په منډه لاړ خير خو به وي؟
هيلۍ ورته ځواب ورکړ چې بېګاته ميلمانه لري او بيرون يې ملګري په تمه و ځکه په بېړه له کوره ووت.
زرلښتې ويل:
هيلې خورې د توريالي ټيلفون ګُل دی ورته په انديښنه کې يم، کارته مې هېڅ لاس نه ورځي، خير دی ته نو نن زحمت وباسه او زما د ديګي نوبت وکړه، هيلې ويل:
سمه ده، ته ورشه او ارامه دې له اولادو سره يوه شېبه ويده شه، د ډوډۍ وخت کې دې زه له خوبه راويښوم.
څو شيبې تېرې شوې، ملالۍ هيلۍ ته غږ کړ چې ميلمانه راځي نو زرلښته دې هم له خوبه راويښه کړي خو هيلۍ ورته ويل هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ناروغه ده کار یې زه کوم.

شمشاد په کلي کې اخوا او دیخوا ګرځېده چې د توریالي لالا پوښتنه یې وکړي، حیران پاتې و، لوری ورنه ورک و، له ډېرو شمېرو دایرولو یې د ټیلفون د بټنو رنګ تللی و، بیا د حکومت د مخالف قومندان چونغر خان نظامي مرکز ته ورغی، زړه یې اخوا او دیخوا کړ،بیا یې په لړزیدلي غږ او پټه غاړه ورو ویل :

قومندان صاحب زما د لالا احوال راته راکړه، هغه چوپ شو، په خپل مخ یې دواړه لاسونه کېښودل، له شمشاد یې پټې د خپلو سترګو راغلې دوه څاڅکي اوښکې وچې کړې، بیا یې ویل خو ټیلفون یې بند دی.

چونغر قومندان وپشېده، ځان یې وښوراوه، خپله مخابره یې راواخیسته او په چنار شبکې یې غږ وکړ، هېڅ ځواب ورنکړ، بیا یې غږ وکړ بیاهم ځواب نه و، دریم واریې چې په چنار شبکې غږ وکړ هغو ځواب ورکړ، چونغر قومندان هڅه کوله چې له چنار شبکې معلومات راواخلي او شمشاد پرې پوه نه شي خو شمشاد د چونغر قومندان څنګه نه خوشې کاوه.

چونغر قومندان لومړی په سیمه کې د جګړې د وضعیت پوښتنه ترینه وکړه، مقابل لوري ځواب ورکړ چې اوس وضعیت کابو شوی دی، توریالی قومندان یې له یوه ساتونکي سره مړ او اته جنګیالي یې ټپیان دي چې په کلینیک کې تر درملنې لاندې دي، شمشاد چیغې کړې، ویل یې زما توریالی لالا وژل شوی؟ چونغر قومندان خپله اړیکه له چنار شبکې سره پرېکړه، شمشاد ته ویل:





نــــا هغـــه بـــل توریــــالی وژل شـــوی ســـتا لالا رک روغ دی.

شمشاد له چونغر قومندانه خدای پاماني وکړه او د خپل کور په لوري روان شو، څو قدمه یې واخیستل، څو ساعتونو ډول ډول سوچو اغېز پرې کړی و، ټول ځان یې لړزېده، د خپلې واسکټ له جېب یې ټیلفون راوویسته، د توریالي ټیلفون ته یې زنګونه وهل، دوه واره یې زنګ وواهه ټیلفون چا پورته نکړ، دریم وار یې چې زنګ وواهه د توریالي ټیلفون ننګیالي اوکې کړ، مخکې له هغه چې خبرې وکړي شمشاد یې د مور چیغې واورېدې، ویل یې:

لالا څه خبره ده، ننګیالي په ژړا او غوسه ورته ځواب ورکړ، خبره ورانه ده ژر کور ته ځان راورسوه، شمشاد د کلي له برسره د کور پر لور منډې پیل کړې، شمشاد مخکې و او د کلي بر سر کې د توریالي له مرګ ناخبره کسانو ورپسې نارې وهلې چې څه شوي؟

شمشاد د هېڅ خبرو ته غوږ نه نیوه او مخ په خپل کور یې منډې وهلې، د چونغر قومندان له مرکزه د شمشاد دوی تر کوره درې کیلومتره لاره وه، شمشاد خپلې څپلۍ یې وویستې، هغه یې هم په لاس کې واخیستې او هڅه یې کوله چې خپله منډه تېزه کړي خو د پښو غړي یې تښتېدلي و، د زیاتې هڅې سره سره یې د پخوا په څېر تېزه منډه نه شوه کولای، هسې یې هم د زریالي مړینې د شمشاد د زړه زور اوبه کړی و.

شمشاد په منډه تر خپلې کوڅې ځان راورساوه، ویې لیدل چې دوه سراچې، یو فولډر موټر، څلور موټرسایکلونه او لسګونه د حکومت مخالفه وسله وال ولاړ دي، هره خواته ګوري، کلیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم راټول دي، ټولو خپل لاسونه تر زنو لاندې نيولي و او خپه ولاړ دي.

شمشاد په بېړې سره خپل کورته ننوت، په دروازه کې يې خپل نژدې خپلوان وليدل، مخامخ برنډې ته يې چې وکتل د توريالي د جنازې چپرکټ ايښی و، حيران ودرېده، همدلته ولاړ پاتې شو، بيا يې غوښتل چې د توريالي چپرکټ ته ځان ورسوي، ورو ورو ور روان شو، د چپرکټ سر ته يې مور ملالۍ ناسته وه په لوړ اواز يې چيغې وهلې، د توريالي پښو ته يې ميرمن زرلښته او ماشومان يې ولاړ و، ټول له ډاګې ډاګې لړېدل او په زوره زوره يې ژړل، د کلي يو شمېر سپين سرې ښځې هم راغلې وې او نورې هم راروانې وې، ملالۍ به د توريالي په جنازې ور ټيټه شوه او بيا به يې سر پورته کړ.

د توريالي جسد نور ټول روغ و او يوازې يوه مرمۍ يې په تندي باندې لګېدلې وه، شمشاد د توريالي د مړي سر ته ور ورسېده، غوښتل يې ور ټيټ شي او د توريالي په بې روحه تن خپل مخ کېږدي، خو مور يې ملالۍ شمشاد په غېږ کې ونيوه او دواړو په ګډه چيغې وهلې، د شمشاد دوی د کلي تر ټولو زړې مېرمنې وړانګې ملالۍ ته ډاډګېرنه ورکوله او بيا يې ورته ويل خير دی مه ژاړه دا هلک دې له ژړا مړ کړ، ملالۍ خپل ژړا کنټرول کړه، د شمشاد له سترګو اوښکې راروانې او په زوره زوره يې ژړل چې غږ يې د کلي بر سرته هم ته، څو شېبې يې همدلته په ژړا تېرې کړې، بيا راولوېده او بې هوښه شو، کليوالو رامنډې کړې، ملالۍ هم د توريالي جسد پرېښود او شمشاد يې غېږ کې





راونېوه، ننګيالي او بل ورور بريالي رامنډې کړې، ويل څه خبره ده؟

د توريالي په غم د غمجنو ژړا چې څو شېبې وړاندې کلي خبرول د شمشاد په بې هوښه کېدو چوپ شول، ننګيالي او بريالي خپلې اوښکې پاکولې او شمشاد يې پورته کړ، ننګيالی کېناسته او د شمشاد سر يې په خپل زنګانه کېښود، ټول هک پک ولاړ و، د شمشاد په بې هوښه کېدو د ټولو له سترګو اوښکې روانې وې خو په زور چا نه ژړل، زرلښته دا وخت د توريالي سرته ناسته وه، د هغه مخ ته يې کتل او اوښکې يې تويولې، شمشاد ته يې مور ملالۍ د بورې شربت په خولې کې ور وڅڅاوه، يوه شېبه تېره شوه او شمشاد سترګې وغوړولې، ويې ليدل چې ټولو د توريالي جسد پرېښی او ده باندې راټول دي، په خپل ځای کې کېناسته او خپله ژړا يې بيا پيل کړه او څو شيبې يې وژړل، شمشاد د توريالي د تابوت سرته ناست او په لوړ غږ يې د بې کسۍ کوکې وهلې، بريالي ورغږ کړ، شمشاد په ژړا و رته ويل څه وايې لالا؟

بريالي ويل:

زه ښار ته ځم، دسخات لپاره توکي راوړم، تاته جانباز اکا غږ کوي او دروازه کې درته په تمه دی.

جانباز اکا خپل زوی سپين غر ته غږ کړ، سپين غر يې چې غوړونه مخې ته ودرېده، جانباز په غوسه ورته ويل:

هلکه د بيګا لپاره ډوډۍ ټولو کسانو ته په خپل کور کې تياره کړئ او بيا ديګی دلته راوړئ، سپين غر هڅه وکړه چې له جانباز پوښتنه وکړي، خو جانباز په غوسه ورته ويل څه ته راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګورې نه دې یم لیدلی؟
هله زر کوه لاړشه او هغه برګ پشیرلی پسه حلال کړه او ډوډۍ راوړه.

د شمشاد دوی له کوره د چیغو اوازونه پورته کول، ویر جوړ و، ملالۍ خپل د کور مشر زوی له لاسه ورکړی و، د توریالي دنګ قد، ښایسته څېره، خماري سترګې او تور وېښتان د هېرېدو نه و، هیلۍ خپل ویښتان غوڅول او ننګیالي هم په چوپه اوښکې تویولې.

بریالی جانباز ته ورو ویل:
اکا شمشاد راغی، جانباز په خپله رېږه لاس تېر کړ، په بریتو یې ګوتې ووهلې،بیا یې د خپلو نصوارو قطۍ د لاس په ورغوي وواهه، شمشاد ته یې ویل:
شمشاده! جنازه سبا نهه بجو ته شوه، اعلانونه ټولو جوماتونو ته ولیکه.

ټوله شپه ملالۍ، زرلښتې، هیلۍ، شمشاد، بریالی او جانباز د توریالي جنازې ته په کتو سبا کړه، زرلښته، ملالۍ او شمشاد درې واره بې هوښه شول، پرته له جانبازه نورو ټولو ژړل، ملالۍ ویل: اوف خدایه ج دا شپه څومره اوږده شوه، هېڅ نه سبا کېږي، کله چې شپه په سبا کېدو شوه نو شمشاد او ملالۍ دومره ژړلي و چې غږ یې ناست او خبرې یې سمې نه شوې کولای.

بالاخره شمشاد خپله دویمه ستره تکیه توریالی ورور هم خاورو ته وسپاره، مخکې له دې چې امام په هدیره کې وعظ اونصیحت ترسره کړي شمشاد د توریالي په کبر اوږد وغزېده او تر ژړا وروسته بې هوښه شو، ملګري یې شهزاده او پامیر هغه





موټر کې د کلي روغتون ته یوړ، نیم ساعت وروسته په روغتون کې په هوښ راغی.

د توریالي په کبر ولاړ دیني عالم قاری جمعه الدین خلک امن او ټیکاو ته راوبلل او ټینګار یې دا و چې دنیاوال په افغانستان کې د خپلو ګټو د دوام لپاره دلته د جګړې تنور ګرم ساتي.

بیا یې ویل افغانستان ددنیا لپاره تر ټولو ښه تنور دی هر یو پکې په خپله خوښه ډوډۍ پخوي خو د غه تنور زمونږ او ستاسو د زلمیو په تنو تود دی.

شمشاد، بریالي، ننګیالي، ملالۍ او ټولې کورنۍ یې یوه له غم ډکه ورځ پای ته ورسوله، هغه ورځ چې ډېره ترخه او خواشینونکې وه.

فتح خان د شپې ډوډۍ هم د شمشاد دوی کور ته راوړه او ملالۍ ته یې ویل:
وریندارې خیر دی، ته خو مشره یې، ډېر ویر مکوه، هلکان دې له ژړا مړه کړل، زغم او صبر ولره، بیا یې ویل د الله ج امانت و بېرته یې درنه واخیسته.

هماغه شپه ټول کلي د توریالي د مرګ او د شمشاد د کورنۍ لپاره اسویلي او افسوسونه کول خو لاس ته یې هېڅ هم نه ورتلل.

فتح خان خپل کور ته لاړ، خپه ښکارېده، سولې ته یې ویل:
لور مې یو ګیلاس تریخ چای راته راوړه، د سولې مور ویل د سولې پلاره ډوډۍ تیاره ده، مخکې له دې چې فتح خان څه ووایي په لور غږ یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولې وه سولې هلته ډوډۍ ژر راوړه پلار دې نن ډېر ستړی
شوی دی ورېږی به هم وي، اول ډوډۍ راوړه بیا چای.
د فتح خان وچلي چې له ډېر خپګانه ګونځې کړې و او سترګو
بې شپول وهلی و، ویل یې:
نااا ډېر ستړی او خپه یم هېڅ مې زړه ته نه کېږي یواځې چای
راته راوړئ.
سولې چای ورته راوړ، بیا یې ویل:
ولې پلاره ډوډۍ نه خورې؟
د فتح خان په مخ د اوښکو باران جوړ شو، ویل یې ننۍ ورځ
ډېره سخته او له خپګان ډکه وه، د توریالي مرګ یو خوا او د
شمشاد بې هوښه کېدل او ژړا بله خوا، ډېر یې خپه کړم، هغه
ډېرې بدې ورځې کولې، سولې په خپله خوله لاس کېښوده، یوه
شېبه غلې شوه، بیا یې ویل پلارجانه څوک بې هوښه شول؟
پلار یې ویل نور به څوک بې هوښه کېدل، شمشاد ژړل څو واره
بې هوښه شو اخر مې هلکانو ته ویل چې کلینیک ته یې
ورسوئ، کله مو چې د توریالي جنازه خاورو ته سپارله شمشاد
بې هوښه و.
سولې خپله جوړه کړې مرۍ له ډېره خپګانه په غوري کې
پرېښوده، څو شیبې یې هېڅ و نه ویل، مور یې سر وخوزاوه،
سولې ته یې وکتل ویل یې:
په څه فکر کې لاړې چې جوړه کړې مرۍ دې په غوري کې
پرېښوده؟
سولې ویل:
هسې د پلارجان خبرو ته مې لږ فکر وکړ.





خپلې کوټې ته لاړه او دغه شپه یې داسې تېره کړه لکه په
سکروټو چې ولاړه وي، د شمشاد لپاره ډېره خپه وه، هره شېبه
یې شمشاد سترګو سترګو ته کېده، څو واره یې په زړه کې دا
خبره راغله چې شمشاد ته به زنګ ووهي او پوښتنه به یې وکړي
خو زړه نا زړه به یې بېرته ټیلفون کېښود، دا شپه یې همداسې
تېره کړه، شمشاد او سولې دواړو د کانکور د ازموینې لپاره هره
ورځ او شپه درس ویلې، چمتووالی یې نیوه څو په دې ازموینه
کې د خپلو خوښو پوهنځیو ته بریالي شي خو د توریالي مړینې
دواړه له درسه ووېستل.
پنځلس ورځې شمشاد هېڅ درس ونه ویلې، د کانکور ازموینه،
وروستې پلانونه او خپلې زده کړېزې هڅې هرڅه ترې پاتې
شوې.
د توریالي تر مړینې وروسته ورته د هر سهار او ماښام پیل پیکه
اوبدرنګه و، ملالۍ به هم اوښکې تویولې او....
پنځه څلوېښت ورځې تېرې شوې، د څلوېښتې تر خیرات
وروسته ملالۍ چې خپل سر په
سره ټوټه تړلی و، ویل یې
شمشاده زویه، توریالي ته دې الله ج جنتونه نصیب کړي، ته دې
نو نور خپل درس ووایه چې د کانکور ازموینه دې په مخکې ده.
شمشاد یې د مور ددې خبرې په اورېدو لومړی په خپل ځای کې
چوپ پاتې شو، آه یې ونه کړ، د څو شېبو په تېرېدو یې ورو ویل
سمه ده ملالې ادې.
د کانکور ازموینې د چمتووالي کتاب یې له ځانه سره واخیسته
او له کوره ووت، غوښتل یې د سولې له احواله ځان خبر کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب یې خلاص نه کړ، په لاره یې لړزیدلي قدمونه اخیستل، ورو یې له ځانه سره ویل چې که درس هم ووایم او کانکور کې هم د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالی شم د اقتصادي ستونزو له امله زده کړې نه شم کولای.

توریالی لالا یې ور په زړه شو، په غوسه یې دا ټپه د شونډو په سر تېره کړه.

**که غم له غمه شرمېدلی**
**په ما به نه راتلل جوړه جوړه غمونه**

څو قدمونه یې نور هم واخیستل، د سولې دوی په دروازه یې سترګې ولګېدې، ډېره موده یې د سولې بادامي سترګې، کنج کنج بانه، توري او مارډوله زلفې، چناري پزه او د مالوچ په څېر سپین مخ نه و لیدلی، هغه یې په ذهن راوګرځېده، په کوڅه کې یې ایسته اِیسته وکتل، هېڅوک ورته معلوم نه شول، ځکه شمشاد غوښتل چې د سولې خوږ او زړه رانښکوونکی غږ په خپلو میینو غوږو واوري، خپل ښی لاس یې د واسکټ کیڼ جیب ته تېر کړ، ټیلفون یې راووېسته، په ښیښه یې ورته ګوتې تېرې کړې، د سولې شمېره یې د زړه په سر لیکلې وه.

د سولې شمېره یې ډایله کړله، ټیلفون یې غوږ ته نژدې کړ خو د اتصالات شبکې ورته ویل چې تاسو په خپل حساب کې د اړیکي ټینګولو لپاره کافي کریډټ نلري، بېرته یې د ټېلفون د پرې کولو بټن کېکاږله، په غوسه یې ویل:

زما خواره نصیبه......

د سولې دوی دروازې ته یې په ځیر ځیر وکتل، مسکی شو، په زړه کې یې تېره شوه:





**که دیدن وشي که ونه شي**
**د یار په کلي تګ راتګ مزه کوینه**

څو قدمونه یې نور هم واخیستل د کلي دوکان ته ودرېده، د شمشاد له قسمته د هغه دروازه هم بنده وه، زړه نا زړه یې د دوکان دروازه وټکوله، د ژمي لومړۍ ورځې پیل شوې وې، هوا سړه وه، شمشاد خپل لاسونه په جېبونو کې اچولي و، بیا یې ددوکان دروازه په خپله پښه وټکوله، شمشاد په بېړه دروازه ټکوله، کتاب یې قات کړ او د خپلو کالیو د اړخ جېب ته یې واچوه، غوښتل یې بیا د دوکان دروازه وټکوي خو دوکاندار په خپله حویلۍ کې وتوخېده ویل یې:

څوک یې درغلم یوه شېبه، دوه درې شېبې نور هم ودرېده، دوکاندار له دننه د دوکان دروازه خلاصه کړه، شمشاد په بېړه ویل:

کاکا ښه یې، اتصالات کریډټ کارت مې پکار دی، دوکاندار ځان اخوا او دیخوا کړ، شمشاد په بېړه بیا ورته ویل:

کاکا –کاکا د اتصالات کریډټ کارت راکړه، دوکاندار خپلې شونډې راټولې کړې، ددوکان له دروازې بیرون راووت او له خولې شنه نصوار بیرون توف کړل، په خپله مخکنۍ لمنه یې خوله پاکه کړه، شمشاد ته یې په خندا ویل:

وراره ولې بېړه کوې؟ خیر دی کارت درکوم، بیا یې وخندل ویل یې:

هلکه شمشاده لکه چې کومې ملګرې ته دې زنګ وهې، ډېر په بېړه ښکارې، شمشاد غلی شو، ورو یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناا نا کاکا هسې يو ټولګيوال مې زنګونه ووهل، غږ يې نه راته اوس غواړم زنګ ورته ووهم، دوکاندار له جېبه کارتونه راوويستل، شمشاد ته يې کارت ورکړ، بيا يې ورته ويل شمشاده وراره زه نو کار لرم دوکان بېرته بندوم.

دوکاندار سره په خبرو کې شمشاد کارت خپل ټيلفون ته ور زيات کړ.

په سرک کې يې ټولې خواوې وڅارلې، بيا يې د سولې ټيلفون ته زنګ وواهه، سوله يې له موره څو قدمه لرې شوه او ټيلفون يې اوکې کړ شمشادويل:

سلام سولې څنګه يې، درپسې خپه شوی وم، مور مې ويل درس دې وايه، اوس ښکته ځمکو خواته تلم چې درس ووايم ستاسې دروازې سره وم يو زنګ مې درته وواهه.

سولې ويل اې شمشاده اوس چيره يې؟

شمشاد ويل ستاسې دروازې سره يم که وزګاره يې دروازې ته راشه

سولې په کور کې يوخوا اوبل خوا وکتل ويل يې:

سمه ده شمشاد جانه يو شېبه ګورم چې پلار او لالا مې کور کې نه وي دروځم.

ټيلفوني اړيکه يې پرې کړه، يوه شېبه چوپ ودرېده، بيا يې د خپل کتاب په پلمه د پلار کوټې ته لاړه، ډاډه شوه چې پلار او ورور يې په کور کې نشته

ورو ورو يې قدمونه اخيستل او له دروازې بيرون راووته.

شمشاد پنځوس متره لرې د سولې له دروازې ولاړ و، په سرک کې يې ښکته او پورته قدمونه اخيستل، هغې ورته لاس





وخوزاوه، د شمشاد زړه دربهار پيل کړ، په وجود يې يو ډول لړزه راغله، ډارېده چې څوک يې ونه ويني، خواته يې ورغی ويل يې:

څنګه يې سولې؟

هغې ځواب ورکړ ښه يم خو دومره نه، پخوانۍ مزه مې نشته

شمشاد په حيرانتيا ورته ويل:

ولې سولې؟ څه درباندې شوي دي؟

سولې په کوڅه يو خوا او بل خوا وکتل، ويل يې تشويش مه کوه، هسې ستا په اړه ډېر وخت فکرونه کوم، ته مې يادېږې، بيا يې په کړس وخندل ويل يې:

شمشاده ته خو په ما مېين نه يې، زه درباندې مېينه يم ځکه خو هر وخت ستا په اړه فکر او غم کوم.

شمشاد مسک شو ويې ويل:

ګوره لېونۍ دومره ډاډه په دې لوی سرک کې کيسې مه کوه هسې نه چې څوک مو ووينې، بيا يې ويل سولې ته هېڅ د خلکو له خبرو نه ډارېږې؟

سولې په خندا ويل: اې شمشاده دا ټپه دې نده اورېدلې؟

**چې دوه مېين سره يوځای شي**
**په ټولو خلکو د رندو ګمان کوينه**

شمشاد وخندل ويل ښاا نو

سوله موسکۍ شوه، مخکې له دې چې څه ووايي، شمشاد ورته ويل زه دې په اړه شپه او ورځ غم او فکر کوم.

سولې په خندا ويل بياهم کمه ده

شمشاد وخندل ويل يې هغه څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولۍ ورته ويل:
زړه دې نو غواړي چې د ملک لور پرته له غمه او فکره خپله کړې؟
دواړو وخندل، خندا يې لا نه وه خلاصه چې شمشاد خپل کتاب له جيبه راوويسته ويل يې:
زه نو سولۍ جانې درنه ځم، د کانکور ازموينې لپاره درس وايم سولۍ اجازه ورکړه، شمشاد په سرک خوشاله روان شو، ځکه د سولۍ ديدن او له هغې سره په خبرو کولو يې زړه خوشالېده، له خوشالۍ يې زړه ټوپونه وهل، په سرک يې د کتاب پاڼې اړولې او ميده ميده قدمونه يې اخيستل.
تر ډېره يې په شمشاد پسې کتلې، بيا کوټې ته راغله او خپل کتاب راواخيسته خو د کانکور ازموينې ته چمتووالی ونيسي، کتاب يې لاس کې ونيوه، روحاً له شمشاد سره او تش کالبوت په کور کې وه، پسته او سپينه ځنګل يې له خپلې زنې لاندې کړې وه، هغه سره د يوځای والي فکرونه يې کول.
د سولۍ مور غوټۍ د کوټې ور خلاص کړ، سوله د شمشاد په يادو کې دومره ډوبه وه چې مور ته يې هېڅ پام نه شو، غوټۍ خپل غوړونه چچ کړل، په ړډو ړډو سترګو يې ورته وکتل، يوه شېبه يې هېڅ ونه ويل، حيرانه ودرېده، سولۍ ته يې په ځېرځېر وکتل، بيا يې په غوسه او په خندا ويل:
اې څه خبره ده څه فکرونه کوې؟ د ميينانو په څېر فکرونه کوې، د چا څېره دې د خپلو سترګو په کتابچه کې نقاشي کوله؟
سولۍ ژر بيرته په بالښت تکيه وکړه، مور ته يې وکتل چې په ځير ځير ورته ګوري، بوڅه په دروازه کې ولاړه ده، په خندا يې





ويل:
په دې کتاب کې جالبې او مهمې پوښتنې شته هغې ته حيرانه شوم چې د کانکور په ازموينه کې به يې څنګه حل کوم او د خوښې پوهنځي ته به بريالۍ کېږم.
نالوستې غوټۍ وخندل د سولۍ په لور ور روانه شوه، سوله يې په غېږ کې ټينګه ونيوله، ويل يې:
سولۍ لورې، اورېدلی مې دي چې ډېرې لوستې نجونې ژر ميينېږي نو که په چا دې زړه بايللی وي، غوټۍ مور ته دې وو ايه هسې دې هم پلار وايي چې سولۍ لور ته مې وايم چې په خپله خوښه واده وکړي.
سولۍ وخندل ويل يې:
نا ادې ته هم څنګه فکرونه کوې، زه د درس غم کوم ته د واده د سولۍ خبره نه وه خلاصه، غوټۍ يې خبره پرې په خوله کې ور وچه کړه ويل ګوره سولۍ پلار دې چې کومې خبرې وکړې عملي کوي يې.
سولۍ وخندل، خندا يې په بېخي ډېره کړه
غوټۍ ورته ويل:
سولۍ ګوره چې ستا په زړه مې خبره وکړه څنګه خاندې او خوشاله يې؟ خو ګوره د پلار يوه خبره دې له هيره ونه وځي.
سولۍ په خندا او حيرانتيا ويل غوټۍ ادې کومه خبره؟
مور يې ويل:
سولۍ لورې پلار دې وايي چې سوله لوستې ځوان او په داسې کورنۍ کې ورکوم چې ښه مالداره او شتمن واوسي.
سولۍ په غوسه ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مې عجبې خبرې کوي، شتمن کور دې ورک شي، هره ورځ به ګله میلمانه راځي او زه به ورته چای او ډوډۍ تیاروم، دومره مې له وسې نه کېږي، زه غواړم پوهنتون ووایم او وروسته له واده دنده ځانته پیدا کړم.
غوټۍ وخندل، ویل یې:
سولې لورې په کوم لوستي او غریب هلک مېینه شوې یې، ستا چې خوښ وي مونږ پکې هېڅ هم نه وایو.
سولې ویل:
نا ادې هېڅ خبره نده، سوله ستا لور ده په هر عادي ځوان نو نه مېینېږي.
شمشاد خپل کتاب مېده مېده لوسته او قدمونه یې اخیستل، یو وخت یې پام شو چې په کتاب لوستلو آن د کندوز د سین څنډې ته یې ځان رسولی.
د سین په غاړه په یوې غټې او سپینې تېږې کیناسته، هغه دوه شپې وړاندې له سولې سره د یوځای کېدو خوب لیدلی و،
مخ یې روانو اوبو ته واړوه، بیا یې خپل خوب ورته وویلې.
مرغانو د ژمي په دې ساړه موسم کې ډول ډول غږونه کول، اوبه چې تر پخوا په سین کې کمې شوې وې په تېږو به چې لګېدې یو ډول سندریز غږونه ترې وتل، موسیقي یې خپروله، کتاب یې خلاص کړ، یوه پاڼه درس یې زده کړ، بیا یې جېب ته لاس کړ او ټیلفون یې راوویسته، غوښتل وګوري چې ساعت څو بجې دی خو یوه ټپه یې ذهن ته راغله په هغې پسې یې بله ټپه د شونډو په څوکو تېره کړه، بیا یې سوله یاده کړه، کتاب یې بېرته بند کړ، سر یې په زنګنو کېښوده،





ځان یې په خپله کورتۍ کې راپټ کړ، څو شیبې همداسې تېرې شوې، د ټیلفون په پیغام خونه یې ګوته کش کړه، سولې ته یې په پیغام کې ولیکل:

**خاورې به درس زما په یاد شي**
**کتاب په لاس یم مسیجونه درلېږمه**

پیغام یې سولې ته ولېږه، په هوا کې د کارغانو غږونه شول، کاغ کاغ یې کاوه، شمشاد له ځانه سره وخندل ویل یې:
ما لا د ژمي د سوند توکو غم ندی خوړلی خو کارغان بیا واوره غواړي.
کتاب یې بیا خلاص کړ او په همدې سپینې تېږې ناست او د سین په غاړه یې درس پیل کړ، پوره دوه ساعته یې درس وویلې د سین د غاړې ساړه باد یې غوږونه ور یخ کړل، کتاب یې بند کړ، بېرته د غره ډډې خواته روان شو
ژمی و او ونو خپلې شنې جامې ویستلې وې، پاڼې یې نه درلودې، ځکه ډېرې لرې سیمې هم د شمشاد د سترګو له نینیګکه ښکارېدې.
کېڼ اړخ ته یې خپل مخ واړوه او د بغلان د بورې فابریکې لوړې او لوېې ودانۍ ته یې وکتل، په غوسه یې ویل:
دا فابریکه ښه بوره نه جوړوي، هسې نړیوال شهرت لري، ځکه د دې فابریکې بوره دومره خوږه نده لکه د سولې نوم.
سولې وروسته له غرمې دوه بجې د شمشاد پیغام وکوت، د هغه ټپه یې ولوسته په زوره زوره یې وخندل او خپلې کوټې ته ننوته، ورځې بیګا کېدې او شپې سبا کېدې د شمشاد پنځم ورور نومیالی چې درې کاله یې په ایران کې وتلی و د توریالي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړینې له خبریدو وروسته بیرته خپل هیواد ته راغی.
ملالۍ ویل:
زویه ښه شو چې راغلی، بیخي خوب نه وړلم، ځوانیمرګ زریالی اوتوریالی مې یادېدل ته مې هم یادېدې، دُعا مې الله ج قبوله کړه.
نومیالی له غم ډک ناست ، سترګې یې له ژړا ډکې ډکې کیدې ویل یې:
ادې یادېدل خو پکې شته، زه هم په ایران کې خوښ نه وم، د پردي وطن مسافري او هلته مزدوري کول اسانه نده، ټوله کورنۍ مې یادېده، بیا یې له خپله ځایه پورته شو او د ملالۍ په زنګانه یې سرکېښوده، یوه شېبه غلی څملاسته، بیا یې ویل:
ته مې ملالې ادې بیخي ډېره یادېدې، لس ورځې نورې هم تېرې شوې، په دې ورځو کې شمشاد او سوله د پخوا وختونو په پرتله ډېر بوخت و، دواړو په ځان شپه او ورځ یوه کړې وه درس یې ویلې چې په کانکور ازموینه کې ډېرې نومرې ترلاسه کړي او د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالي شي.
بله شپه ټول په کور کې ناست و، بریالي ویل:
شمشاده ته دې زده کړې کوه، بیا یې د ننګیالي، نومیالي، شمشاد او ملالۍ سترګو ته وکتل، هېڅا هېڅ هم ونه ویلې.
بریالي ویل:
توریالی لالا دې الله ج وبښي، لاس او پښې به یې کولې سږکال د پاچا ځمکه کې غنم هم هغوی خپله کښت کوي، نومیالی هم له ایرانه راغی، شمشاد وروک هم ښایي د کانکور په ازموینه کې





بریالی شي ځکه ډېر درس وایي زه پرې باور لرم نو لګښت مو زیات او عاید مو کم شو.
ملالۍ په خپل ځای کې وخوزېده، په تریو تندي یې بریالي ته ویل:
هلکه کومه خبره خو کوې شف شف مه کوه خبره دې سپینه وکړه
شمشاد ویل:
ملالې ادې بریالی خبره په نیمه کې کوي خو زه په یوه نیمه هم نه پوهېږم، ټولو وخندل، بریالی یوه شېبه چوپ شو، بیا یې ویل:
زه یوه خبره کوم راباندې غوسه نه شئ، ملالۍ نوره هم غوسه شوه، تندي یې ګونځې وکړې، وچلې یې تروش نیولی و، پوهېده چې بریالي کوم تصمیم نیولی او غواړي کومې خواته لاړ شي.
بریالی غلی شو خو شمشاد ویل:
ادې ته یې پرېږده چې بریالی څه وایي؟
ملالۍ د وچې شیریني قاپ ځانه ته رانژدې کړ، یو شیرینک یې خولې ته واچوه او د شنه چای پیاله ورته شمشاد له ترموز ډکه کړه،
ویل یې:
اورم یې وواېئ.
بریالي ویل:
مورې، د کور روزګار مخ ته وړل اسانه کار ندی، کښت او کار هم نشته وروسته تر دې به څه کوو او څه به کېږي؟
ملالۍ یې خبرې ور پرې کړې په غوسه یې ویل:
هلکه څه غواړې وواېې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بریالي له سترګو څو څاڅکي اوښکې راغلې، ژر یې وچې کړې چې ملالۍ یې ونهویني، بیا یې ویل که مو خوښه وي، که مو خوښه وي، که مو خوښه وي؟
دا خبره یې څو واره تکرار کړه اخر شمشاد ورته ویل:
لالا ته وو ایه چې څنګه کار دی او په څه شي کې خوښه غواړې؟
بریالي سوړ آسویلی وویسته، ورو یې ویل:
زه غواړم چې ستاسې په خوښه د روزګار د چلولو لپاره ملي اردو ته لاړ شم او په حکومت کې دنده وکړم، که پنځلس ذره افغانۍ زه کور ته هره میاشت راولېږم نو چانه به نه پوروړي کېږو، بیا یې ویل:
د توریالي لالا د ګور او کفن پیسې مو چې له جانباز اکا په پور اخیستي هغه به هم خلاصې کړو.
شمشاد وخندل ویل یې:
هو د جانباز اکا پیسې که ژر بېرته ور نه کړو، د ورځې به پنځه واره راځي او هرځل به شپږ کپې نصوار هم خولې ته اچوي، ټولو وخندل، ملالۍ هېڅ هم نه ویل خو نوره هم غوسه شوه، ورونه یې ټول همغږي و چې بریالی دې ملي اردو ته لاړ شي، ملالۍ په خپل ځای کې نېغه کیناسته او ویل یې:
هلکه بریالیه دا خپلسري تصمیمونه مه نیسه چې ګټه نه کوي، بیا یې ویل:
زریالي او توریالي هم زما ونه منله اخر خو دې انجام ورته ولیده، خبرې ټولو بس کړې، درې ورځې نورې هم تېرې شوې، سولې شمشاد ته پیغام رالېږلی و او پکې لیکلي و چې باید نن په ټیلفون خبرې ورسره وکړي.





سولې د شمشاد د لیدو مینه د ټیلفون په خبرو هم ماتوله، شمشاد بیا د سین غاړې ته لاړ، کتاب یې ولوسته، ټیلفون یې وکوت چې پیغام ورته راغلی.
شمشاد مخکې له دې چې پیغام خلاص کړي بېخي خوشاله شو، پیغام یې وکوت، ژر یې د سولې شمېرې ته زنګ وواهه...
سولې د شمشاد ټیلفون پرې کړ، لږې شېبې تېرې شوې، د شمشاد ټیلفون ته یې زنګ وواهه، تر سترې مه شې وروسته سولې شمشاد ته ویل:
اې شمشاده ! د کانکور ازموینه راورسېده، ته د کوم ولایت پوهنتون انتخابوې؟
شمشاد وخندل ویل یې:
زما سولې زه ټول د بغلان پوهنتون پوهنځي انتخابوم
سولې ویل ښاا خو زه د کابل پوهنتون انتخابوم
شمشاد وخندل ویل یې:
دا خبرې دې نه منم ته پرته له ما هلته کله اوسېدی شې؟
سولې پوښتنه وکړه، ولې شمشاده د بغلان پوهنتون ټاکې او ولې له بغلانه لیرې نه ځې؟ شمشاد لومړی چوپ شو، له ځمکې غږ ووت له شمشاد نه، بیا سولې پرې راغږ کړ، لکه چې ځواب مې نه لرې؟
شمشاد ویل:
ناا خو که د بل ځای پوهنځي ته بریالی شم نه یې شم ویلی، غریو نیولی شو، ویل یې:
زریالی او توریالی لالا مې مړه شول، نومیالی لالا مې هم له ایرانه بېرته راغلی دلته وزګار ګرځي، د پاچا کاکا ځمکه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راروان کال مونږ ته په اجاره نه راکوي چې غنم پکې کښت کړو، بریالی، ننګیالی او نومیالی لالا هم وزګار دي نو بل ولایت کې زه کله پوهنتون ویلی شم.

سوله له خپلې پوښتنې ددې خبرو په اورېدو پښېمانه شوه، ویل یې:

سمه ده زه هم د بغلان پوهنتون انتخابوم چې لخیره یوځای واوسو، د توریالي د مړینې دوه میاشتې تېرې شوې، جانباز په هغو دیرش ذره افغانیو پور پسې د بریالي دوی کور ته ورغی چې د توریالي د مړینې په شپه یې ترې په پور اخیستې وې

جانباز بریالي ته په تروش تندي ویل:

د توریالي د مړینې دوه میاشتې تېرې شوې، زما د پیسو غم مو و نه کړ لکه چې خوړلې مو ګڼلې دي، بیا یې یوه کپه شنه نصوار خولې ته واچول، پوزه یې کش کړه، د لونګۍ شمله یې شاته واچوله او ویل یې:

بریاله بچو مه خپه کېږه ماته هم پکار دي، بریالي یو ساعت ورته غږېده اخر یې په پټه غاړه جانباز اکا قانع کړ چې پور یې څو ورځې وروسته ورکوي.

د همدې ورځې په سبا بریالي ډېر فکرونه وکړل چې له کومې لارې د جانباز اکا پور ورخلاص کړي، یو وار یې فکر دا و چې یو جریب ځمکه به خرڅه کړي او د جانباز پور به ورکړي، بیا یې سوچ وکړ چې که دا کار وکړي نو تربرونه به یې وایي چې بریالی دوی پوروړي شول د پلار هډوکي (د پلارځمکه) یې خرڅه کړه.





بریالی په همدې ورځ له ننګیالي او نومیالي سره هم مشوره وکړه چې دی به ملي اردو ته لاړ شي څو د کور اړتیاوې پوره کړي او د جانباز پور هم ور خلاص کړي.

کلي کې یې ملګرو سره مشورې وکړې چې غواړي ملي اردو ته لاړ شي، ځینو نژدې ملګرو ته یې ویل:

په شمشاد مو پام وي، زده کړو ته یې هڅوئ، بې پروایي ونه کړي.

شپه شوه، بریالی، ننګیالی، نومیالی، شمشاد، ملالۍ او د کورنۍ ټول غړي یې سره کېناستل، نومیالي چې کوژده کړې وه او واده یې پاتې و، مور ته یې په خندا ویل:

ملالې ادې! زه غواړم چې د خسر کور ته مې لاړ شم، مور یې سمه ده ونه ویل خو د سرپه خوزولو یې ورته اشاره وکړه چې سمه ده، نومیالي، بریالي ته وکتل، شمشاد ویل:

نومیالی لالا لېمې ورېنداري دوه میاشتې مخکې راته ویلي و چې نومیالي پسې خپه یم او کله چې راغی بیا به ته هم زمونږ کور ته ورسره راځې.

ننګیالي ویل:

هو لېمې ورینداري په ماهم ټینګار کاوه چې ته هم بیا له نومیالي سره راشه

بریالی په خندا شو هههههههه لاسونو ته یې پړق ورکړ بیا یې وخندل ویل یې:

لېمې ماته ویل چې که نومیالي ته له ځانه سره رانه وستې نو هېڅ ورسره ګورم نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومیالی په شونډو کې مسکی شو، کوټه کې یې د کورنۍ ټولو غړو ته وکتل، د ښي لاس غتې او د شهادت په ګوته یې خپل برېتونه کش کړل، د لاس په ورغوي یې د چاي خالي پیاله ټېوله....

بریالي چې د ملالۍ تندي ته وکتل پوه شو چې ډېره غوسه ده، غونج په خپل ځای کې کیناسته، خپلې غزولې پښې یې راټولې کړې، نومیالي ته یې په سترګو کې اشاره وکړه چې غلی شه خو هغه پوه نه شو،

شمشاد نومیالي ته وکتل، بیا یې ویل:

ملالې ادې نومیالی لالا څومره خوشاله ده، بیا یې کټ کټ وخندل ویل یې:

نو د چا څنګ ته ورځي، لېمې ورېندار په ده ګرانه ده خو په لېمې بیا نومیالی بیخي ډېر ګران ده.

ملالۍ په غوسه ویل سمه ده ټول لاړ شئ، نومیالی به لیلا وي او تاسو یې دیرا، بیایې ویل:

خلک به دا متل درپسې وکړي.

یوه لیلا - لس یې دیرا

بریالي ویل:

سمه ده ملالې ادې زه نه ځم، بیا یې ویل:

ماته به ادې سبا ته اجازه راکړي زه نو ملي اردو ته ځم، مجبوریت دی له ښې ورځې نه ځم.

ملالۍ بریالي ته وکتل، سترګې یې پر ور رډې کړې، له غصې توره او شنه واوښته، بیا یې ویل:





بریاله ځوان یې، وینه دې ګرمه ده، الله ج روزي رسان دی، خیر دی ښه ډوډۍ به نه خورو وچه او لمده به خورو، ماشومان به دې درباندې راټول وي.

شمشاد بریالي ته ویل:

ادې رېښتیا وایي تا ندي اورېدلي چې د کور ګټه د لاهور ګټه ده، همدلته کار کوه لالا، اردو څه کوې، د هېواد وضعیت کړکېچن دی، تاوتریخوالي ډېرشوي، جګړو زور اخیستی، د ملي اردو دنده ډېره خطرناکه ده.

بریالي چې خپلې سترګې د کوټې په چت کې ګنډلې وې، شمشاد او ملالۍ ته یې وکتل، پوه شو چې د ملالۍ غوسه کمه شوې، بیا یې ویل:

تاسو ولاړ شئ او ماته هم سبا اجازه راکړئ چې زه هم پخیر لاړشم.

ملالۍ سوړ آسویلی ووېسته، په مخ یې اوښکو لارې جوړې کړې، د کوټې قالینې ته یې کتل، د خپل لوی کتان ټیکري په یوه څنډه یې اوښکې پاکې کړې، ویل یې:

بریالیه زویه، تر تاسو زه ډېرې اندېښنې کوم، چې د کوراړتیاوې به څنګه پوره کوو، د نومیالي واده ته به کله تیاریږو، د شمشاد پوهنتون به څنګه شي او داسې نورې ستونزې....

خو پوهېږې ګرانه زویکه، زړه مې نور ارې ارې دی، د غمو زغم نلري، د ځوانیمرګ توریالي او زریالي مرګ مې ملا راکوپه کړه، سترګې مې د پخوا په څېر دید نه کوي، که په سترګو هره شېبه نه ژاړم خو زړه مې هره شېبه د ژړا کوربه وي، د زریالي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



توريالي ميرمن او اولادونه راته پاتې شول، د هريوه ميرمن چې وينم زړه مې قلم قلم کېږي، خداى ج مو دې پاتې ژوند ښه لري او زما له زړه خبر مه شئ.

د ملالۍ خبرې نه وې خلاصې، بريالي يې بيا ورونو ته وکتل، هېڅ يې ونه ويل، سر يې وخوزاوه، ورو يې له ځانه سره ويل:

نوځنګه وکړو مورې؟ ټولې لارې بندې دي، دومره ځمکه هم نشته چې کښت يې کړو او اردو ته لاړ نه شم،

نصيب به مو همدا وي ادکې.

ملالې زړه نا زړه ويل:

سمه ده بريالیه زويه، زما زړه نه ده خو ته چې ډېر شله يې، اجازه درکوم ژمنه به راسره کوې چې جګړې ته به نه ځې.

ننګيالي په خپل ځاى کې وښورېده ورغبرګه يې کړه:

سمه ده مورې، بريالي لالا خو تر لسم ټولګي پورې ښوونځی لوستی دی، هلته به لځيره بريد مل شي، کومه ښايسته شعبه کې به دنده ترسره کوي، بيايې په کړس وخندل ويل يې:

ملالې ادې که کومه شعبه کې اوړى يخ سورې او ژمى ګرمې بخارۍ ته تېر کړي داسې به تيار او ښايسته شي چې والاکه يې زه او ته وپېژنو، د څوارلس کلن ځوان به څېر به شي.

نوميالي ويل:

برياله لالا ګوره اردو کې ستا په څېر چالاکه او ځيرک خلک ښه چليږي، ستا خو هسې هم خوله او سترګې خبرې کوي، هلته هم همداسې اوسه، ځان تکړه که، د ملالۍ په سترګو کې يو عالم خبرې، په زړه کې يې ددنيا پراته غمونه ښکارېدل، په تن هم ډېرو غمو کمزورې کړې وه خو بريالی ته يې اجازه ورکړه چې





ملي اردو ته لاړ شي، شپه ملالۍ همداسې په اندېښنو تېره کړه چې سبا يې زوى ترې بېلېده او ملي اردو ته - ته خو نوميالي دا شپه ښه په خوشالۍ تېره کړه ځکه چې سبا يې د خُسر، کور ته روان و او شمشاد بيا پرته له دې هرڅه خوښ و.

د سهار اوه بجې بريالي ځان تيار کړ چې ملي اردو ته وخوزيږي، کور کې ټول ورته راټول شول، بريالي يې له خپلې مېرمنې سره مخه ښه وکړه، نوميالي او ننګيالي سره يې مخه ښې ته چمتووالی ونيوه خو شمشاد ته يې ويل:

بايد د مرکزي بغلان تر ښاره يې ملتيا وکړې او ورسره ګډ تر هغه ځايه لاړ شي.

ملالۍ نه غوښتل چې بريالی خپه رخصت کړي، د مخې ښې په موخه د بريالي خواته راغله، د هغه په غاړه کې يې لاسونه واچول، بيايې غېږ کې کلک ونيوه، څو شېبې همداسې ولاړ پاتې شول، د کورنۍ ټولو غړو ورته هک پک کتل، ملالۍ په خپلو دواړو لاسونو د بريالي مخ په لاسو کې ونيوه، هغه يې لومړى په مخ او بيا په تندي ښکل کړ، د مخې ښې د مراسمو چمتو والی يې ونيوه.

عام دود د بغلان په دې پښتون مېشته سيمه کې د مخې ښې لپاره موجود و، کله به چې څوک لرې مسافرۍ ته تلل دا دود به عمر خوړلو ميرمنو ترسره کاوه.

ملالۍ له خپلې کوټې قرانکريم راواخيسته، مخکې له دې چې ترې پوښونه لرې کړي ښکل يې کړ، د حويلۍ په دروازه کې ودرېده، درې واره يې بريالی ترې لاندې يو خو اوبل خوا تېر کړ، مخکې تر تګه ملالۍ بريالي ته ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بیک کې مې درته کلچې او د غنمو نینې ځای پرځای کړي دي، کچیرې وږې شوې نو ویې خوره.
بریالی روان شو، د ملالۍ په لاس کې له اوبو ډکه یوه پلاستیکي زړه کوزه ګکه وه، بریالي پسې یې اوبه وشیندلې څو په مخه یې رڼايي شي.....
شمشاد بریالی په ښار کې د کابل په لور رخصت کاوه، ښې ډېرې اوښکې یې تویې کړې خو بریالي ونه لیده، په شمشاد ښار خولې لګولې، ځمکې ځای نه ورکاوه، آسمان هم ورته ظالم ښکارېده چې دده تر سیورې لاندې یې بریالی ورور له مجبوریته اړ شو چې ملي اردو ته لاړ شي.
همدا اسې خپه د کور په لور پلی روان شو، سوله یې ور په زړه شوه، زړه نا زړه یې هغې ته زنګ وواهه، ډارېده چې که د سولې پلار فتح خان په کور کې وي نو هغې ته مزاحمت کېږي خو بیا یې هم زړه صبر ونه کړ او زنګ یې ورته وواهه.
سوله یې د پلار په څنګ کې وه تیلیفون یې ژر بې غږه کړ، پلار ته یې ویل:
ټولګیوالې یې برېښنا زنګ وهلی، خپلې کوټې ته لاړه، له کړکۍ یې د خپل کور ټول غږې وڅارل، بیا یې د شمشاد شمېرې ته زنګ وواهه، سلام او ستړې مه شې یې سره وکړه، سوله د شمشاد له خبرو پوه شوه چې په کومه خبره خپه ده، د خپګان پوښتنه یې ترې وکړه، شمشاد ژړغونی غوندې شو، بیا یې ویل:





زما سولې ډېرخپه یم بیخي ډېر، ځان نه شم کنټرول کولای، بریالی لالا مې لاړ ه ملي اردو ته، خو ته چاته مه وایه، دا خبره ډېره نه شي، خوله یې په زور خلاصه کړه، زړه نازړه یې ویل:
سولې شل ورځې د کانکور ازموینې ته پاتې دي، ته له کوم پوهنځي سره مینه لري؟
هغې ویل:
ته یې ووایه
خوشمشاد ټینګار کاوه چې نا سولې اول یې ته ووایه
سولې په خندا ویل:
زه خو د اقتصاد پوهنځي سره مینه لرم غوارم هغه پوهنځي ووایم خو ته یې هم زما لپاره انتخاب کړه، که خدای ج کول دواړه به یوځای په یوه ټولګي کې واوسو
شمشاد ویل نااا سولې زه اقتصاد پوهنځی نه وایم، نه مې خوښېږي، غوارم زه د بغلان پوهنتون پښتو ادبیات ووایم، زما انتخاب همدا دی، لومړی همدا ټاکم او تا هم مجبوروم چې ته یې هم وټاکې.
لس دقیقې شمشاد او سولې په دې خبرې وکړې، سولې ټینګار کاوه چې د کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځی یې خوښ دی او باید شمشاد هم هغه وټاکي او شمشاد بیا ویل چې د بغلان پوهنتون پښتو ادبیات یې خوښ دي سوله هم باید دلته پوهنتون ووایي.
سولې نه منله او خبره یې داوه چې پوهنتون په خپله خوښه وایي سولې شمشاد ته ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد جانه ډېر مه شله کېږه زه کابل کې پوهنتون وایم، بغلان مې هېڅ ندی خوښ، شمشاد په غوسه ورته ویل:

سولې ستا دا خبرې په دې معنا دي چې ته ماسره مینه نه لرې او زما په خوښه پوهنتون نه انتخابوې.

د شمشاد له دې خبرې وروسته سولې په زوره زوره وخندل خندا یې نه وه خلاصه، شمشاد یې ورته ویل:

خانده خانده، متل مې اوریدلی و خو لیدلی مې نه «په چا غم په چا ښادي په چا کراره کراري»، سوله غلې شوه، تر لږې چوپتیا وروسته یې ورته ویل:

اې شمشاده زه درسره ټوکې کوم، خوښیږې مې چې تا ډېر وزوروم، ستا غوسه هم عجیبه ده، او زه بیخي بل ډول یم، اوس دېته ګوره چې ستا له غصې هم خوند اخلم بیا یې ویل:

شمشاده زوروره زما لومړنی د خوښې پوهنتون کابل او پوهنځی اقتصاد دی خو ستا لپاره د بغلان پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو سوله ټاکم.

شمشاد وخندل ویل یې:

هغه متل لکه چې ریښتیا دی

سولې ورته ژر ویل کوم متل؟

شمشاد ویل:

بیردې ویلو ته مې پریږده، زریالي لالا به مې هر وخت ویل چې یار د یار لپاره خوري د غوايي غوښې او توریالي لالا به مې دا ټپه هر وخت ویلې





یـارمې هنـدو زه مسـلمان یـم
د یـار لپـاره درمسـال جـارو کومـه

سولې وخندل،بیا یې ویل:

شمشاد جانه ښکلوم دې، پلار مې راغی بل وخت غږېږو، مینه درسره لرم.

پنځلس ورځې نورې هم تېرې شوې، په شمشاد او سولې د هجر پنځلس ورځې پنځلس کاله تېر شول، یو او بل یې ډېر یادېدل، د خلکو خبرې، ټولنیزې ستونزې، ناوړه دودونه، د شمشاد او سولې چوپتیا او کم جرات هغه څه و چې دوی یې دېته اړ کړي و چې په یوه کلي کې په اونیو اونیو د بل دیدن ونکړي.

سولې د شمشاد د نشتون درد په زړه کې دننه تېروه، هېڅوک یې د باور نه و چې ددې اړیکې یې خبر کړې وای، بله ورځ د کانکور ازمویني کارتونه ووېشل شول، دواړه په یوه ورځ ورغلي و چې کارتونه تر لاسه کړې، دشمشاد او سولې دُعا خدای ج قبوله کړې وه او د دواړو ای ډې سره ډېر کم توپیر درلود او په یوه ټولګي کې یې ازموینه شوه، ترڅو چې ازموینه پیل کېده ځینو نجونو او هلکانو هڅه کوله چې د ټیلفون په ګوګل کې څه زده کړي، ځینو نورو بیا یو له بل سره مشورې کولې او هغو چې ازموینې ته چمتووالی نه و نیولی نورو تکړه نجونو او هلکانو ته یې غاړې پټې پټې کولې چې بیا به مونږ ته نقل راکوئ که چیرې د ازموینې فورم مو یو، ځینو ژمنې کولې او ځینې په خپل غم کې ډوب و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له وړاندې ازموينې پرې اغېز کړی و خو شمشاد او سولې ته په
مړه خېټه د يوه او بل ديدن، د زړه رازونه سره شريکول بيا يو
کانکور نه سل کانکوره و، يو بل ته يې په ځير ځير کتل،
ازموينه يې بيخي هېره وه.
د سولې خوا او شاته نور هلکان او نجونې ناستې وې خو
شمشاد او سولې نورو ناستو ته د ړندو په سترګه کتل.
هو رېښتيا هم هغوی ړانده و، سترګو يې ديد درلوده، هرڅه يې
ليدل، خو د خپلې ازموينې په غم کې دومره ډوب و چې سوله او
شمشاد لا د چا په ياد نه و.
سولې په ځير ځير شمشاد ته کتل، په هغه يې سترګې ګنډلې
وې، بيا شمشاد ته په شونډو کې مسکۍ شوه، ورو يې ويل:
اې شمشاده لږ وړاندې راشه!
شمشاد ايسته ايسته وکتل، په ټولګي کې يې ټول هلکان او
نجونې وڅارلې، هرڅوک په خپل غم کې ډوب و، ورو ور روان
شو، سولې ته مخامخ ودرېده، ويې خندل، بيا يې د سولې په
سترګو خپلې سترګې ور خښې، په خندا يې ورته کړل، سولې
که دې د بغلان پوهنتون انتخاب نه کړ درنه خپه کېږم.
سولې خپلې شونډې خلاصې کړې خو خبرې يې شمشاد ورپرې
کړې.
د شمشاد خوله له خندا ډکه وه، بيا يې سولې ته ويل:
اې ليونۍ ته خبره يې؟
سولې خپله لاندنۍ شونډه په غاښ کړه، د سولې يو عادت دا و
چې د حيرانېدو په وخت کې به يې خپله لاندنۍ شونډه په غاښو
کې نيوله، دا ځل يې همدا چل وکړ، بيا يې ويل:





ناا شمشاده جانه ته يې چې راته ونه وايې څه فالبينه خو نه يم
چې خپله پوه شم
شمشاد د سولې سرو سرو غومبرو ته وکتل، د هغې د بادامي
سترګو په نينيګک کې يې خپله څېره وکتله،
شين شو په خندا شو، بيا يې ويل:
توريالی لالا دې خدای ج وبښي، بريالی لالا لاړ او لخيره يوه
نيمه مياشت وروسته د نوميالي لالا واده کوو،
ويې خندل بيا
يې سولې ته ويل:
سولې ته خو به واده ته لخيره راځې؟
سولې سر وخوزاوه او د سر په ښورولو يې د هو ځواب ورکړ،
سوله حيرانه شوه، ويل يې:
شمشاده! څنګه دې دا پوښتنه وکړه ؟
شمشاد ويل:
هسې سولې هېڅ کومه خبره نه وه.
سولې لږ خپل تندی تريو کړ، شمشاد ته يې وکتل، ويل يې:
شمشاده، زه درباندې څومره ډېر باور لرم او ته رانه اوښان په بډه
وهې، مانه خبرې پټوې، زه درته پردی ښکارم او که دې د زړه د
نړۍ خبرې ماسره نه شريکوې.
شمشاد ويل:
سولې جانې ته هم د پخوا په څېر له قهره ډکه يې، ژر ژر مه
غوسه کېږه کنه نو شمشاد هم درته غوسه کېږي، د شمشاد په
خوی خو بلده يې؟
سولې وخندل، بيا يې شمشاد ته ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اي له ما خبره مه پټوه د نومیالي واده ته چې زه درشم کومه خبره خو به نه وي؟

شمشاد یو قدم نور هم سولې ته ورنژدې شو، بیا یې ورته کړل:

سولې متل مې اوریدل چې «د زړه خبره په خوله خبره» خو ته رینښتیا په زړه هم پوهېږې، بیا یې ویل:

سولې جانې نومیالی لالا چې لخیره واده وکړي بیا لخیره زما نوبت ده، ادې او ورونه به ماته ریباري پیل کوي خو زه لخیره تتتتتته تاته ریباران درلېږم او لېمې وریندارې ته وایم.

بیا یې ویل:

سولې لېمې وریندار ته مې ویل چې زه مېین یم خو ستا نوم او ستا په اړه مې ندي ورته ویلي.

سولې وخندل ویل یې:

شمشاده! تا لکه چې ډول غاړی کې اچولی او ډنګوې یې چې سوله په ما او زه په سولې مېین یم هههههه

شمشاد وخندل ویل یې:

نا نو تاته دې خدای خبره نه درکوي، بیا یې په خند ا کې سولې ته ویل:

سولې له خبرې کوچ باسې، هره خبره ډېره شاربې، هغې ښاا کړل خو شمشاد د سولې خبر ور پرې کړه ویل یې:

سولې که واده ته راغلې، ناوې وریندارې لېمې ته دې ورښیم چې دغه سوله ده او زه په د ې مېین یم، سوله یوه شېبه په خپله چوکۍ کې غلې کیناسته، فکرونه یې پیل کړل.

د سولې فکرونه لا نه و خلاص چې استادان ټولګي ته راننوتل، شمشاد غټ غټ قدمونه واخیستل او ژر یې په خپله چوکۍ کېناسته، بیا یې مخ سولې خواته ور واړوه، ویل یې:





سولې د بغلان پوهنتون، د پښتو ادبیاتو پوهنځي دې باید اول انتخاب وي.

د ټولو نجونو او هلکانو زړونه درزېدل، پرته له استادانو په ټولګي کې ناستو نجونو او هلکانو هېڅ غږ نه کاوه، ټولو ساه هم په زوره نه وېسته، آن د شمشاد د لاسي ساعت ټکا درې متره لرې په ټولګي کې سولې اورېده، ټولو په استادانو سترګې ګنډلې وې او نېغ نېغ یې ورته کتل.

ازموینه پیل شوه، شمشاد او سولې ډېرې پوښتنې حل کړې، ځکه چمتووالی یې ډېر نیولی و، دواړو رښې ورځې او توري شپې د کانکور ازموینې په چمتووالي بېګا او سبا کړې وې.

د پوښتنو تر حل وروسته شمشاد سولې ته وکتل او سترګک یې ورته وکړ چې د بغلان پوهنتون پښتو ادبیات انتخاب کړي، سولې د شمشاد په زړه همداسې وکړل او خپلې پارچې یې استادانو ته وسپارلې.

سوله د پوهنتون په انګړ کې خوشاله ولاړه ځکه پوښتنې یې ډېرې حل کړې وې، پام یې شو چې شمشاد هم له دوهمه پوړه راکوز شو، یو خوا او بل خوا یې کتل.

سولې یې مخې ته ورغله او پوښتنه یې ترې وکړه:

شمشاد ویل:

ازموینه ډېره ښه وه، ډاډه یم چې ازموینه کې به بریالی کېږم، بیا یې سولې ته وکتل، هغې ورته په کړس وخندل، ویل یې:

شمشاده ته چې ډاډه یې نو زما هم ډاډ شته چې کانکور ازموینه کې به د بغلان پوهنتون پښتو ادبیاتو ته بریالۍ کېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد چې د سولې یوازنی مین و، په خندا یې ورته ویل:
ښاا کانکور ازموینه کې بریالی کېږم خو چې زه به ستا په ریباری کې هم کامیاب شم کنه؟
سولې په خندا او حیرانتیا ورته ویل:
کاش شمشاده چې د هر چا ارمانونه په دې دنیا پوره کیدی شوای، بیا یې کړل، زما او ستا په څېر ډېر کسان شته چې خپلې هیلې یې یا په سین لاهو کړي او یا یې په خپل زړه کې دننه ګورته وړي دي.
دواړو ورو ورو قدم وهل پیل کړل، شمشاد سولې ته په ځیر ځیر کتل هېڅ یې نه ویل، سولې بیا شمشاد ته وکتل ویل یې:
شمشاده زما او ستا ژوند د برېکی په څېر دی، ښایي هیلې موبرېکی ووژني.
آسمان ته یې وکتل چې د پسرلي د راتګ چمتووالی یې نیوه، ونو خپل پوستکي تازه کول خو پنډکي یې لا واړه و.
سوله شمشاد ته موسکی شوه ویل یې:
لکه څنګه چې تر ژمي وروسته پسرلی راځي، لکه د هرې ناکامی تر شا چې بریالیتوب شته نو همداسې پوه شه چې زما او ستا د مینې تر شا هم یوځای والی شته، تل به هجر نه وي او نه هم به د وخت غماز پهلوانان په بیاتي آسونو سواره او په شنهار سره به زمونږ په مینه وزلوبې کوي او د مینې ورغومی به مو د بېلتون تر دایرو رسوي چې حلال یې کړي، د تور مخو رقیبانو څخه به د خپلې غمازی سالم اخلي او مادیات پرست جاروهونکي به یې د لوبې ګټونکي اعلانوي.
شمشاد په خندا شو، ویل یې:





سولې تا لا ادبیات ندي پیل کړي، هره خبره دې له خیال ډکه او احساسات راپاروي، بیا یې په کړس خندا سولې ته کړل هی هی مینه مو ډېوې ته ورته ده چې په اوسني وخت کې زما او ستا د مینې ډېوه هرڅوک په خپله غمازی مړه کولای شي ډېره پرې ډاډه مه اوسه.
شمشاد او سوله پلي د پلخمري ښار په لوري روان شول، دواړه د پلخمري له چاپیریال سره هم دومره ډېره بلد نه و، سولې شمشاد ته ویل:
شمشاده د بغلان پوهنتون خو مې انتخاب کړ خو لاهم زړه نا زړه یم، له اندېښنو به مړه شم، بیا یې ویل:
ځه خیر دی پوهنتون تا راباندې تحمیل کړ، وبه یې زغمم شمشاد د سړک په ښي اړخ او سوله د سړک په کیڼ اړخ روانه وه، یو بل ته یې ډېر نه کتل خو خبرې یې سره ګرمې روانې وې، فکر به دې کاوه چې سولې او شمشاد هېڅ یو د بل خبرې نه دي اورېدلي او لاهم د پرمختګ په دې حد کې چې له هر چا سره ټیلفون شته دوی بې ټیلفونه دي.
شمشاد سرکښته اچولی و، سولې ته یې کړل:
اې ! ته نو ولې زړه نا زړه یې؟
څو قدمه یې نورهم واخیستل، ویې خندل، سولې هېڅ نه ویل، ښار ته نژدې شول، سولې د موټرو د هارنونو غږونه واورېدل، شمشاد ته یې ویل:
دغه دی په خبرو خبرو تر ښاره راورسېدو، بیا غلې شوه، څو قدمه یې چې واخیستل شمشاد ته یې په ځیر ځیر وکتل، هغه ودرېده، ورنژدې شوه، ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاده د مرکزي بغلان - پلخمري لاره نا امنه ده، تاوتریخوالي پکې زیات دي، زړه د همدې لپاره خورم چې که پوهنتون دلته پیل کړم، کله کله به د جګړو له امله اړه کېږم چې پوهنتون ته رانه شم او ته خو ښه یې دلته به کومه کوټه ځانته ونیسې.

سوله او شمشاد په پلخمري ښار کې د مرکزي بغلان اډې ته ورسېدل، د سولې د ښوونځي د دورې ټولګیواله برېښنا هلته د سولې په تمه وه ځو په ګډه تر مرکزي بغلانه په یوه موټر کې ولاړې شي.

برېښنا ښار کې هره خواته کتل، شمشاد یې ولیده چې له سولې سره څنګ په څنګ را روان دی، هغوی اډې ته راورسېدل خو برېښنا د ولاړ سراچه ډوله موټر څنګ ته ځان غلی کړ، غږ یې ونه کړ چې شمشاد او سولې ته به مزاحمت وشي، د هغې په زړه کې شک و چې دا دواړه سره اړیکه لري، خو دا شک یې په یقین لا نه و بدل شوی، شمشاد برېښنا ولیده، سولې ته یې ورو ویل:

اې ! زما او ستا ترمنځ غمازه برېښنا هاغه ده، دواړه یې خواته ور روان شول، سوله او برېښنا دواړه ودرېدې،شمشاد موټر ته لاس وخوزاوه، د کرولا ډوله موټر د شا په سیټ کې سوله او برېښنا له یوې بلې مېرمنې سره کیناستې،

شمشاد د موټر مخکې سیټ کې کیناست.

موټر چلوونکی دری ژبی و، شمشاد ترې په پښتو څو پوښتنې وکړې، هغه سر وخوزاوه ویل یې:

بیادر پشتو نمیفامم دري ګپ بزن، شمشاد ورته نور هېڅ ونه ویل، غلی په چوکۍ کې کیناسته،





برېښنا د موټر په شاسیټ کې هغې بلې مېرمنې ته وکتل، زړه یې وړندې او بېرته کړ، بیا یې ورته ویل:

خورې تا هم ازموینه درلوده؟

هغې د سرپه خوزولو پوه کړه چې نااا

دوه درې کیلو متره نور هم موټر مزل وکړ، بیا سولې ورته ویل:

خورې کور مو دلته دی خو هغې ځواب ورکړ چې په پښتو ژبه نه پوهېږي او تازه له بامیانو ولایته بغلان ته راغلې، موټر تېز روان و، ونې او کورونه د سولې له سترګو داسې تېریدل لکه موټر چې ولاړ او کورونه روان وي.

برېښنا ډاډه شوه چې موټر چلوونکی او بله ناسته مېرمن په موټر کې په پښتو ژبه باندې نه پوهېږي و یې خندل ویل یې:

شمشاده ! ته خو آمر د سیټ یې، بیا یې ویل:

خدای ج دې زمونږ له سولې سره خوشاله لره، ترڅو چې شمشاد خبره کوله، سولې په غوسه برېښنا ته وکتل ویل یې:

برېښنا څه ګډې وډې وایې؟

مونږ یو له بل سره څه اړیکه لرو، زړه کې دې څه دي؟

شمشاد سولې او برېښنا ته وکتل هېڅ یې ونه ویل

موټر حسین خېلو سیمې ته ورسېد، د سولې سترګو شپول وواهه، تندي یې تریو نیولی و، برېښنا ورو ورو خندل خو سولې ورته ویل :

برېښنا له تا مې دا تمه نه درلوده، بیخي په مونږ بد ګمانه شوې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد د موټر د شا په څارونکې ښیښنه کې سولې ته وکتل، که څه هم زړه یې دربېده خو په موسکی ټنډه یې ویل:

اې لیونۍ بربښنا خو ټوکې ده، مسخرې کوې، مه غوسه کېږه.

بربښنا بیا وخندل ویل یې:

شمشاده ! سوله د لوڅ لین په څېر ده، ژر شارت کېږي

فابریکې ښار ته په رارسېدو سره سولې بیا بربښنا ته وکتل، ویل یې:

بربښنا خورې دا خبره دې له تاسره وي، بیا یې غوږ ته ورنږدې شوه، ویل یې:

زه له شمشاد سره مینه لرم، کوښښ مې ډېر وکړ خو ونه شوه، هسې راته ګران دی او مینه مې ورسره ورځ په ورځ زیاتیږي.

درې واړه په ټوکو ټوکو تر خپل کلي لاړل

شمشاد خپل کور ته په رسېدو ډېر خوشاله و، مور یې ملالۍ له ډېرې خوشالۍ غېږ کې کلک ونیوه او د شمشاد له سترګو د خوښۍ اوښکې روانې وې، هسې هم شمشاد پرته له پوهنیزې خوشالۍ بله خوشالي نه درلوده او د خپلې بیوسۍ د غم سربېره د زریالي او توریالي د مړینې غم یې د زړه مراندې وژلې وې.

شمشاد یې بورې مور ملالۍ ته ډاډ ورکړ چې پوښتنې یې ډېرې ځواب کړې او انشاء الله د خپلې خوښې پوهنځي ته به بریالی کېږي.

څلور ورځې تېرې شوې، شمشاد خپل لالا بریالي سره اړیکه وکړه او هغه یې هم ډاډه کړ چې د کانکور په ازموینه کې یې پوښتنې ډېرې ځواب کړې او په جګو سترګو به یې د خوښې پوهنځي ته بریالی شي.





بیا د غره په لور روان شو، له کلي بره یې د چکسای للمه لکه مغروره پېغله په ټولې بې پرواې پرته وه، ښي اړخ ته ترې صنعتي بغلان، مخامخ ترې مرکزي بغلان، او کیڼ اړخ ته د مرکزي بغلان زوړ ښار او ډېرې کلي ترې ښکارېدل، ونو پنډک کړي و خو غوړېدلي لا نه و، آن لرې سیمې او کلي هم له مورچل سنګره ښکارېدل.

شمشاد خپل سر په زنګنو کېښوده، څو شېبې یې له ځانه سره فکرونه وکړل، د مېږو د رمو غږ یې تر غوږ شو، په خپل ځای کې ودرېده، میږو ته یې وکتل، شپونکی مخ په یوې غټې تیږې روان و.

له رمې یو څه لرې لاړ او هلته په یوه غټه تیږه کېناسته، د چکسای للمو ته یې وکتل، د واسکټ له جیبه یې شپیلۍ راوویسته، څو سوې سوې نغمې یې پکې تاوراتاوې کړې، د شپونکي د شپېلۍ غږ د شمشاد په زړه لکه ملهم لګېده، ورو ورو یې سندرې پیل کړې، په همدې شپه باران ورېدلی و، ځینو تالو او للمو کې د سېلابونو خوړونه ښکارېدل، دا سندره یې زمزمه کوله:

دا ګرد چارپېر په غرونو راغلل سېلابونه یاره
ګلۍ وربېږي
مه ځه دلته شپه وکړه
پاتې شه باران دی

شمشاد مورچل سنګرته ددې لپاره ختلی و څو روحاً ارامه شي خو چوپان د شپېلۍ په وهلو اود سندرو په ویلو سره نور هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد په ټپونو مالگې وشيندلې خپل جېب ته يې لاس تېر کړ، ټيلفون يې راوويسته، او د سولې شمېره يې زړه نا زړه ډايله کړه سولې د شمشاد ټيلفون اوکې کړ، ويل يې:

شمشاد جانه جوړ پخير څنگه يې؟

هغه ځواب ورکړ، ښه يمه، څه فکر کوې چې بې له تا به څنگه يمه؟

سوله غلې شوه، ويل يې:

ښه به نه يې خو ځان ښه کړه، مېينتوب درد، غم او بدې ورځې لري بيا يې وخندل، خندا يې اوږده شوه، سولې ورته کړل، اې شمشاده! ته څه فکر کوې چې د ملک فتح خان لور به بې غمه، بې درده، او بې بدو ورځو خپلوې؟

شمشاد ويل:

نااا !

خبرې يې سولې ورپرې کړې، بيا يې ويل:

وزغمه زمريه، زړه دې لکه د غره غټ کړه

شمشاد سولې ته ويل:

سولې پوهيږې ماته بېخي ډېره گرانه يې

بيا يې په کړس کړس خندا شمشاد ته کړل:

اې ! په ماکې څه ښه توب دی، له ماسره ولې مينه لرې او ولې درته گرانه يم؟

شمشاد لومړی غلی شو، بيا يې په خندا ويل:

**مينه له مينې پيدا کېږي**
**په مينه مينه دې کتل مين دې کړه**





شمشاد چې دا ټپه خلاصه کړه سولې په ټوکو ورته ويل:

**مينه له مينې پيدا کېږي**
**ماته زنگ مه وهه چې زړه دې صبر شينه**

شمشاد بيرته په ځواب کې ورته ټپه پيل کړه ورته کړل يې:

نن دې اتمه ورځ ده گرانې
چې اريبا نمبر دې بند دی زړه مې چوينه

سولې په خندا ويل:

غلی شه، ادبيات دې لا ندي پيل کړي، ټپې راته وايې، ته خو سم زما د انا په څېر يې هره خبره په متل او لنډيو پيل کوې، بيا يې ويل:

شمشاده زه دې ولې خوښيږم او ولې درته گرانه يم؟

شمشاد موسکی شو، ورو يې وخندل بيا يې ويل:

زه يې رښتيا په دليل نه پوهيږم چې ولې ته راته ډېره گرانه يې خو دومره پوهيږم چې له تاسره بې کچې مينه لرم او د زړه کور مې بې له تا وران دی.

سولې بيا د جنايي په څېر پوښتنې ډېرې کړې او شمشاد يې د مجرم په څېر راکلک کړ، په يوې پوښتنې پسې يې بله پيل کړه، ويل يې:

شمشاده جانه ! ته چې يې په لامل نه پوهيږې نو بيا ولې وايې چې سولې تاسره مينه لرم ؟

شمشاد غلی شو، سوچ يې وکړ، سترگې يې د کندوز په سين د بر غره له سره وگنډلې، ټيلفون يې خپل غوږ ته ډېر نږدې کړ، سولې ته يې کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولۍ جانۍ ته ولې په یوې پوښتنې پسې بله پوښتنه کوې؟ نن په کوم اړخ راپورته شوې یې، لکه چې په ما دې باور له لاسه ورکړی؟

غوړونه یې چچ کړل، ویل یې:

سولۍ راته ګرانه یې او دا خپله مینه ثابتولی شم چې درسره مینه لرم، ته وګوره څومره بیتونه مې زده کړي دي.

ویل یې:

تـه چـې نـه یـې د ژونـد کـار کـولای نـه شـم
راشـه راشـه انتظـار کـولای نـه شـم

زنـده ګـی زمـا د وس خبـره نـه ده
خـو مجبـور یمـه انکـار کـولای نـه شـم

سولۍ په کړس کړس وخندل، ویل یې:

مینه کې ثبوت نغواړم خو په دې باید پوه شم چې ته ولې ماسره مینه لرې، بیا په خندا شوه، ویل یې:

د ثبوت پرځای دلیل راته وړاندې کړه چې ولې درته ګرانه یم؟

شمشاد په خپل پیکې لاس تېر کړ، سترګې یې وسولولې، د ښوونځي هاغه ورځ یې په یاد شوه چې سولۍ پرې زړه بایللی و، ویل یې:

سولۍ مینه ددې لپاره در سره لرم چې ته ډېره ښکلې یې، مخ دې د کاغذ په څېر سپین، غومبوري دې د مالوچ پشان پاسته، سترګې دې د بادام غوندې غټې، زلفې دې د مارانو په څېر تاوتاو، قد دې لکه د بغلان د زراعت د باغ د بڼ ناجو ونه دنګه،





څېره دې د بغلان د طبعیت په څېر تازه او غړ دې هم ډېر خوږ دی، بیا یې په خندا ویل:

تل په ما خاورې شمشاد باندې پام کوې، هوښیاره یې، جذابه یې، په ټوله کې ستا له مسکا او ستا له حرکاتو سره بې کچې مینه لرم.

بیا یې په خندا ویل:

نو مینه نوره څنګه وي وه سولۍ زوروري

سوله ددې خبرو په اورېدو هم خوشاله او هم قانع شوه، زړه یې یو ډول هوا کوله، شمشاد نور هم پرې ګران شو، ویې خندل ویل یې:

سمه ده زما ددې دور سیف الملوکه

شمشاد ورته ویل:

سولۍ ته خو پوهېږې چې د هرې ښې او خوږې مینې تر شا اوږدې، ناهیلې کوونکې، سترې، او زړه بوږنوونکې کیسې پرتې وي، هسې نه چې زمونږ مینه له داسې ستونزو سره مخ شي، سولۍ زه خو ډېر ډارېږم، بیخي ډېر، آن ځینې وخت مې له ژونده زړه تور شي، اندېښنې مې د زړه دنیا ورانه کړي، حیران یم چې څه وکړم او څه ووایم.

سوله چوپ شوه، ویل یې:

شمشاده اول دې ښې او بیا دې داسې خبرې وکړې چې زما زړه دې مات کړ

شمشاد هېڅ ځواب ورنکړ، سوله غلې شوه شمشاد ته یې کړل:

یو وخت مې اورېدلی و چې مینه خودغرضي نه ده، ډېره خوږه مینه ډېر تریخ پای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولۍ اوف کړل، بيا يې شمشاد ته ويل:
پوهېږې د مينې د همدې ترخه پاى په اړه ډېر سوچونه کوم، هر شپه چې ويده کېږم دوه درې ساعته سوچونه کوم.
شمشاد وخندل ويل يې:
سمه ده ښانګې، خوږې ترخې ډېرې شته چې خبرې پرې وکړو خو زما ټيلفون کې کرېډټ نشته دي، ښايي اړيکه پرې شي، دواړو مخه ښه وکړه
سولۍ وروستيو کې ويل:
زماشمشاده ته مې د زړه د کلي خان يې بې تا دې نه شم،
الله ج دې مل شه
شمشاد يوه ګړۍ بله هم همدلته تېره کړه، د مورچل له سنګره يې د بغلان د زړه راښکوونکې طبعي منظرې ديدن وکړ، سولۍ سره د يوځاى والي خيالي خوبونه يې په رڼو سترګو کې واړول راواړول، په خپل ځاى کې ودرېده، څو ناهيلې کوونکې لنډۍ يې له ځانه سره وويلې، بېرته د خپل کلي پر لور روان شو، زنګېدلي قدمونه يې اخيستل ، کلي ته نژدې شو، ددې بيتو دکلمه يې له ځانه سره پيل کړه

لکه څو هيلې چې د چا دننه زړه کې سوځي
داسې مې اوښکې د وجود په ګرېوانه کې سوځي

د ښايست برج نه دې شغلې د ښکلاګانو وځي
په تا بايللي زړونه خلک ستا په وره کې سوځي





زه که رب ستا کرم ته زما شوې وا په ما مينې
په هغه ورځ به مو ډېر خلک په واده کې سوځي

نسبتاً خوښ کور ته شمشاد ستون شو، لس ورځې نورې هم تېرې شوې، سولۍ تلوېزيون کاته د اوو بجو په خبرونو کې يې يو خبر دا هم و چې سبا به د کانکور ازمويني پايلې اعلان شي، سولۍ غوږونه چچ کړل، پلار يې په زامنو او لمسيانو پټکې وکړې چې غلي شئ، مه غږېږئ، د کانکور په اړه خبر و، بيا يې سولۍ ته ويل:
لورې ! څه يې ويل:
سولۍ ځواب ورکړ، ويل يې:
پلار جانه سبا لخيره د کانکور ازمويني پايلې اعلانيږي، فتح خان سولۍ ته وکتل، ورته کړل يې:
خوږې سولۍ، زما نازولې لورجانې، که په کانکور کې سبا لخيره پوهنتون ته بريالۍ شوې نو زه درته د يو لک افغانيو طلايي لاکټ اخلم.
سوله له يوه پلوه د ازمويني پايلې ته په اندېښنه کې وه او بل پلو يې ددې لپاره زړه خوړ چې که په ازموينه کې بريالۍ نه شي نو پلار به يې طلايي لاکت ورته وانخلي.
سولۍ دا شپه همداسې په سوچونو تېره کړه، سبا يې د ټلوېزيون ليدو ته دوه سترګې څلور کړې وې او خبرې کنفرانسونه يې څارل چې اوس به د کانکور ازمويني د پايلو د اعلان کنفرانس پيل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يولس بجې د کانکور پايلې اعلان شوې، زړه يې ټوپونه وهل چې کانکور کې به بريالۍ شوې وي کنه؟

خپل ټيلفون يې راواخيسته لومړی يې خپلې ټولګيوالې بريښنا ته سره اړيکه ونيوله او بيا يې د شمشاد ټيلفون ته زنګ وواهه، شمشاد د سولې ټيلفون اوکې کړ، ويل يې:

اې ! زه ښار ته نژدې شوی يم، ته کوم پوهنځي ته بريالۍ شوې يې، هغې په خندا ويل:

شمشاده ! زما انټرنټ ډېر سست کار کوي غوښتل مې له تا پوښتنه وکړم چې کوم پوهنځي ته بريالی شوی يې او زما آی ډي هم وګورې.

هغه ويل:

نا ا سولې زما انټرنټ هم ډېر کمزوری و، ښار ته راغلم، نژدې يم لخيره رسيږم، انټرنټ کلب ته، سولې بيا پوښتنه وکړه،

شمشاده ! ستاسې د ټولګي هلکان بريالي شوي دي؟

هغه ويل:

د کانکور د پايلو له اعلانه خبر شوم، نو ښار ته راروان شوی يم، له هېڅ خبر نه يم چې څوک کوم پوهنتون او کوم پوهنځي ته بريالي شوي دي.

شمشاد له سولې سره په همدې خبرو خبرو ښار ته ورسېده، انټرنټ کلب ته ورسېده، ويې ليدل چې لس نجونې او هلکان تر ده مخکې نوبت ته په تمه دي او خپلې پايلې ګوري.

د شمشاد او سولې په ګډون د هغو چې د کانکور پايلې نه وې کتل شوې په اندېښنه کې و، زړه يې درېېده چې قسمت به يې څنګه وي او بخت به ورسره ياري کړې وي کنه؟





هغه نجونې او هلکان چې به د کانکور په ازموينه کې د خپلې خوښې پوهنځيو ته بريالي شوي و، ظاهراً به خوښ ښکارېدل او ملګرو به يې ورته مبارکيانې ورکولې او هغو سره به چې بخت ياري نه وه کړې نو خفه به له انټرنټ کلبه راوتل، آن ځينو پسې به يې له ټوکو ملګرو نارې وهلې چې فلانی د خپل کور پوهنځي ته بريالی شوی دی.

شمشاد ددې خبرو په اورېدو سولې ته ويل:

آې ! ډېر هلکان او نجونې د خپلو خوښو پوهنځيو ته ندي بريالي شوي، چې له انټرنټ کلبه راوځي خپه روان وي، هلکان مسخرې پرې کوي، سولې شمشاد ته ډاډ ورکړ ويل يې:

هغوی به ستا په څېر تکړه نه وي او نه به يې هم ستا په څېر پوښتنې ځواب کړې وي ځکه يې پايله ښه نده او په ازموينه کې نه دي بريالي شوي

شمشاد ويل:

اې سولې زما نوبت ده زه ورځم خپله او ستا ای ډي ګورم، نور يې هم د زړه دربار زيات شو، انټرنټ کلب ته دننه شو.

لومړی يې د سولې ای ډي انټرنټ کلب ته ورکړه، مسؤل کس په خندا ورته ويل:

وروره دا ای ډی د چا ده؟

شمشاد ورته کړل:

دا مې د ګاونډي د لور آي ډي ده،

هغې راته راکړه چې زما پايله هم وګوره

د انټرنټ کلب مسؤل ويل:

ښاا نو ځان دي له شیریني ورکولو خلاص کړ، ډېر ډېر دي
مبارک وي، سوله د فتح خان لور د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او
بشري علومو پوهنځي پښتو څانګې ته د ۲۴۰ نومرو په
درلودو سره بریالۍ شوې ده، بیا یې په خندل شمشاد ته ویل:
زما له لوري هم دې خور ته مبارکي ورکړه، ښه پوهنځي ته
بریالۍ شوې ده
د شمشاد چې له ډېرې خوشالۍ زړه ټوپونه وهل مننه یې ترې
وکړه او بیا یې خپله ای ډي شمېره ورکړه
هغه دا ای ډي هم وکتله، په ځیر ځیر یې شمشاد ته وکتل،
مسکی شو، ویل یې
شمشاد یې؟
شمشاد ورته سر وخوزاوه، بیا یې په خندا ویل:
هو شمشاد یم، ولې څه شوي نه یم بریالی شوی؟
د انټرنټ کلب مسؤل مسک شو، بیا یې ورته کړل:
څومره شیریني راکوې چې درته یې ووایم؟
شمشاد په زړه کې خوښ شو، دوکاندار ته یې ویل:
ته یې ووایه څومره شیریني چې غواړې درکوم یې، هله نو زر
کوه، زړه مې ټوپونه وهي، وروره مه مې زوروه
دوکاندار په خندا شو، شمشاد ته یې وکتل، ویل یې:
هلکه! د ۲۲۷ نومرو په درلودو سره د بغلان پوهنتون د
ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي پښتو څانګې ته بریالی شوی
یې، په خندا یې بیا ویل:
هلکه دا سولې سره ټولګیوال شوې، هرڅوک چې وي وبې هڅوه
چې پوهنتون ووایي ځکه ډېر پښتانه لورګانې نه پرېږدي چې





پوهنتون ووايي
شمشاد په خپل ځای کې یوه شېبه حیران ودرېده، د خپل کلي د
نسیم خان لور ور په یاد شوه چې پلار یې پوهنتون ته تر بریالي
کېدو نه وه پرېښې چې درس ووایي او لور ته یې ویلي و چې که
پوهنتون ووایې نو خلک به ورپسې ډول ډول خبرې جوړې کړي.
دوکاندار شمشاد ته وکتل، تندی یې ګونځې شو، ویل یې:
هلکه تا دا ګڼه ګوڼه نه وینې او ولاړ یې دلته په دوکان کې
سوچونه وهې؟
شمشاد خپل جېب ته لاس کړ او پنځه سوه افغانۍ یې دوکاندار
ته ورکړې، ویل یې:
وبښه استاده پام مې نه و
په بېړه له دوکانه ووت، د مارکېټ دوهم پوړ ته پورته شو او
خپل ټیلفون یې له جېبه راوویسته، غوښتل یې سوله وزوروي
چې څه وایي؟
شمشاد د سولې ټیلفون ته زنګ وواهه، تر سلام او ستړي مه
شي وروسته یې وخندل، سولې ورته ویل:
شمشاده خانده مه، هله نو ژر راته ووایه چې د کانکور پایله څه
شوه؟ زه کوم پوهنځي ته بریالۍ شوې یم او ته کوم پوهنځي ته؟
شمشاد هڅه کوله چې سولې ته ځانه غوسه وښیي، په لوړغږ
یې ویل:
هی! هی! هی!
چندان ښه پایله نده
سولې ځنګه ځنګه کړل، خو شمشاد په ځواب کې ورته ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناا ستا قسمت ښه دی، هسې دې نوم سوله ده، ستا نوم باید طالع منه وای ، سولې بیا ورته په غوسه ویل:
شمشاده خوشې خبرې پرېږده، ژر راته ووایه چې څه شوي دي؟
شمشاد خبرې پیل کړې، خبرو ته یې سوله ځېر وه او ټیلفون یې په خپل غوږ نښلولی و، شمشاد نه غوښتل چې ژر سوله خبره کړي چې د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پښتو څانګې ته بریالی شوې ده خو سولې بیا خپلې دوه پښې په یوه موزه کې کړې وې چې هله شمشاده ژر راته ووایه چې زه کوم پوهنځي ته بریالی شوې یم.
شمشاد سولې ته کړل،
اې ! ماته شیریني راکوې چې پایله دې درته ووایم
سولې په کړس وخندل، تر څو چې شمشاد خبره کوله خندا یې نوره هم ډېره کړه، بیا یې ویل:
شمشاده ! زما اود ا ستا ترمنځ نو چا حساب کړی، زوروره هره شیریني چې غواړې درکوم یې، آسمان ته یې وکتل چې د پسرلي ورېځې پکې یوخوا او بل خوا ځي،
مرغان یې ولیدل چې د ورېځو ښایست ته یې طبعیتي اتڼونه پیل کړي و
شمشاد ورته ویل:
زه یې درته وایم چې ته کوم پوهنځي ته بریالی شوې یې
سولې وخندل ویل یې:
ناا زه خپل پایله نه غواړم اول ته راته ووایه چې ته کوم پوهنځي ته بریالی شوی یې؟





شمشاد خبرې یو او بل خوا ته بوتلې، نورې خبرې یې پیل کړې، بیا یې په مینه سولې ته کړل:
اې ! تاته دې ډېر ډېر له زړه مبارک وي خو د پوهنځي نوم یې ورته وانخیسته، له سولې یې د ژمنې غوښتنه وکړه
سولې ویل:
اې زوروره ته کومه او د څه شي ژمنه رانه غواړې
شمشاد اول وبنګېده او بیا یې:
ژمنه راسره وکړه چې پوهنتون به وایې او پلار به دې پرېږدي چې پخیر سره دې زده کړې وکړې، سولې ښه ډېر وخندل، بیا یې شمشاد ته کړل:
شمشاده ما نو هسې د ټوکو لپاره ازموینه نده ورکړې، پوهنتون وایم، ورځې او شپې مې په درس ویلو تېرې کړې دي، زحمتونه مې ګاللي، په یخو ورځو کې به زرنج کې ښار ته تلم، کانکور ته مې چمتووالی نیوه او درس مې ویلې، بیا یې په خندا ویل:
اې ! پلار مې راسره ژمنه کړې چې پوهنتون درباندې وایم، هغه له ما اوتا نه زیات وارخطا دی چې د کانکور له پایلې مې خبر شي، بیا یې ویل:
شمشاده ! پلار مې راسره ژمنه دا هم کړې چې که پوهنتون ته بریالی شوم د یو لک افغانیو طلایي لاکټ راته اخلي.
شمشاد وخندل ویل یې:
غوړې لا غوړي، کار خو ستا جوړ دی سولې، پوهنتون ځانته وایې او پلار دې درته انعام د یو لک افغانیو لاکت اخلي.
سولې شمشاد ته په غوسه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې مه اوږدوه، که لاکټ هم راته واخلې ستا ګټه ده او که بل څه هم، زه د چا يم؟ خو ستا يم کنه نو ته ولې داسې ګډوډ لګيا يې، هله نو ژر راته ووايه چې زه کوم پوهنځي ته بريالۍ شوې يم.

شمشاد ورو ويل:

وايم يې درته خو خبره داده چې زوروم دې، ستا له زورولو هم زه خوند اخلم، مينه همدې ته وايي کنه وه سولې، هغې وخندل، نانا يې کړل، په غوسه يې شمشاد ته ځواب ورکړ،

چې ژر راته ووايه تر دې نورې خبرې مه اوږدوه

شمشاد ورته په ډېرې مينې ويل:

سولې ته دې د خپلې خوښې پوهنتون او پوهنځي ته بريالۍ شوې يې نور يې څه کوې، غم زما ده، خو هغې په بيابيا غوښتنه کوله چې شمشاد دې ووايي چې کوم پوهنځي ته بريالۍ شوې ده؟

شمشاد اړ شو، ريښتيا يې ورته وويلې، ويل يې:

سولې ته د بغلان پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي پښتو څانګې ته بريالۍ شوې يې تاته دې ډېر ډېر مبارک وي، پخير سره يې ووايې او ترې فارغه شې خو چې فارغه شوې بيا نو.

سولې ويل:

اې ته ريښتيا وايې، هغه ځواب ورکړ:

هو ريښتيا وايم، باور نه کوې سولې، ما نو تاته کله دروغ ويلي؟

سولې ويل:





مننه سلامت اوسې، بيا يې هغه ته کړل، ښه چې پوهنتون ووايم او فارغه شم نوبيا به څه وشي؟

شمشاد په خندا ورته ويل:

بيا به نو لخير زما شې، نور د څه شي غم ده، غم غم همدا ده

سولې ډېر ډېر وخندل، هغه ته يې په ډېرې خندا سره ويل:

شمشاده زوروره تانو څه فکر کړی چې پوهنتون خلاص کړې د فتح خان لور، سوله ګله به دومره ژر درکړي او واده به يې کړې؟

شمشاد ويل:

ولې نو څه وکړم، د آسمان ستوري ريبارۍ ته درولېږم او که دې په تمه ځان زوړ کړم؟

د هغې خندا نوره هم زياته شوه، تر يو څه ځنډ خندا وروسته يې ويل:

د سولې خپلول او ودول ډېر اسانه کار نه دی، چې د فرهاد په څېر راپسې غرونه سوري نه کړې او د سيف الملوک په څېر راپسې د اوسپنې پڼې زړې نه کړې نو خپله به مې هم نه کړې

شمشاد غلی شو، بيا يې ويل:

اې ! چې پوهنتون ته بريالۍ شوې نو سر له اوسه دې سويه لوړه شوه، د خانۍ خبرې دې پيل کړې، دا ته څه کوې، چې ريښتيا په ما همدا چل ونه کړې ، سولې ويل:

تا نو اوس خبره پيدا کړه، ټوکې مه وکړې دا خبره اوږده نه کړې شمشاده مينه درسره لرم، ګوره زړه کې دې – دې خبرو ته ځای ورنکړې، بيا په خندا شوه ويل يې:

زوروره زه دې په خبرو کړم پوښتنې مې له ياده ووتې، نورې خبرې درنه نه اورم هله نو اوس راته ووايه چې ته کوم پوهنځي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بريالی شوی يې؟
شمشاد غوښتل چې په ځان مېينه سوله وزوروي ويل يې:
نيا مې آمنې ريښتيا ويلي و چې خوار په هندوستان هم خوار وي، هغې يې خبرې پرې ور پرې کړې، شمشاد ته يې کړل چې زه متلونه نه اورم، ادبياتو ته بريالی شوې يم، متلونه هلته زده کوم، ژر راته ووايه چې ته کوم پوهنځي ته بريالی شوی يې؟
شمشاد ويل:
وايم يې، اې ! زه هم دبغلان پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي پښتو څانګې ته بريالی شوی يم، بيا يې په خندا سولې ته کړل، وروسته تر دې نو په تا د مېينتوب تر څنګ ستا ټولګيوال هم يم.
هغه خوشاله شوه، ژر يې شمشاد ته مبارکي ورکړه، ويل يې:
ګوره په مخ مې د خوشالۍ اوښکې راروانې شوې، له ځانه ستا په برياليتوب خوشاله شوم.
بيا يې ويل:
ستا دې په مخه ښه شي زه مې مور باندې د خپلې بريا زېرى کوم، پلار نه مې شيريني اخلم، بربښنا او نورو ټولګيوالو ته مې هم زنګ وهم چې هغوی کومو پوهنتونونو او پوهنځيو ته بريالۍ شوي دي
شمشاد د مارکېټ له دوهم پوړه راکوز شو، له خوشالۍ په جامو کې نه ځايده، فکر يې دا و چې په دې ښار کې نو تازه اعلان شوی پاچا شمشاد دی او ټول شته ښاريان يې له امره سرغړونه نه شي کولای، خوله يې له خندا ډکه وه، هرچا سره به يې چې سترګې مه شي کوله خندل به يې او بيا يې زيرى پرې





کاوه چې زه مې د خپلې خوښې پوهنځي ته د ډېرو نومرو په تر لاسه کولو سره بريالی شوی يم
شمشاد ژر ژر تر کوره ځان راورساوه، ملالۍ مور باندې يې زېرى وکړ چې د خپلې خوښې پوهنځي ته يې بريالی شوی دی، د ملالۍ له سترګو هم د خوشالۍ اوښکې روانې شوې، که څه هم ملالۍ څلور زامن يې نا لوستي و خو د پوهې په قدر ډېره پوهېده، شمشاد يې غېږ کې کلک ونيوه، ځان ته يې نژدې کړ، ويل يې:
شمشاد جانه د زرياليي او توريالي لالا هيلې دې پوره کړه، هغوی به هر وخت ويل چې شمشاد تکړه دی، کاشکې هغوی ژوندي وی او تاته يې له نژدې مبارکي درکړې وای، ملالې دا خبرې شمشاد ته وکړې، له سترګو يې د غم اوښکې راغلې خو شمشاد په خپله خوشالۍ کې و، سوچ يې دا و چې د مور په مخ يې هم د خوشالۍ اوښکې راروانې دي.
شمشاد په دې ورځ د ځان لپاره سرکښه او د دنيايي هر امره مافوق پاچا و، د مور له زړه يې څه خبر و؟
مور يې شمشاد ته وکتل چې خوښ دی او بيا يې په خپلو روانو اوښکو سوچ وکړ د ځانه سره يې ويل:
ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بلېږي.
شمشاد ته يې ويل:
بريالي لالا ته دې زنګ ووهه، خبر يې کړه، ډېر به خوشاله شي، چې ملي اردو ته روان و ما باندې يې سپارښتنه کوله چې په شمشاد درس وايه او هڅوه يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانباز اکا زه د کانکور په ازموینه کې د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالی شوی یم

جانباز وخندل، شمشاد حیران شو چې جانباز څه ته خاندي؟ پوښتنه یې وکړه چې جانباز اکا ته ولې خاندې؟ زما په خبره کې د خندا څه شته؟

هغه نوره هم خندا ډېره کړه، ویل یې:

شمشاده ساده ګله ! په دومره خوشالۍ دې رابانديې زېری وکړ، ما فکر وکړ چې څومره غټ کار به شوی وي؟ اخر دا هم زېری شو چې ته دې د خپلې خوښې پوهنتون ته بریالی شوی یې او خوشاله یې؟

ساده ګله په پوهنتون موهنتون دې نه یم خبر، دا بیکاره خبرې او کارونه پرېږده، هلکه پیسې پیدا کړه، اوس ددې وخت دی چې پیسې پیدا کړې، بیایې له جېبه د نصوارو قطی راوویسته او د قطي په هنداره کې یې خپله څېره ولیده، یوه کپه نصوار یې خولې ته واچول ویل یې:

**چې مې په جېب کې دولت ډېر و**

**خپل یې لاڅه چې د پردو خپل شوی ومه**

دې غزل کې ډېرې خبرې شته دي، وګوره پیسې هم عزت دی، هم شان دی او هم شوکت، شمشاد ورته وکتل، خپه شو، ویل یې:

جانباز اکا ! دا غزل نه دی دا ټپه ده

هغه ورته په غوسه ځواب ورکړ:

غلی شه، د مشر خبره غلطه ده او ستا سمه؟ بیا خوشاله هم یې چې د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالی شوی یم او پوهنتون





هغه بیرون ووت، ځینې کلیوال ملګري یې خبر کړل چې د خپلې خوښې پوهنځي ته بریالی شوی دی، د هغو نورو کلیوالو پوښتنه یې هم وکړه چې د کانکور ازموینه یې ورکړې وه، هغه خوښ و چې په دې ازموینه کې یې د بخت بېلۍ میره وه او بریالي شوي و.

بریالي ته یې زنګ وواهه، تر ستړي مه شي وروسته یې پرې زیری وکړ، د خپلې بریا یې خبر کړ، ویل یې:

لالا ستا هڅو رنګ راوړ،

زه د بغلان پوهنتون، پښتو ادبیاتو ته بریالی شوم

بریالي شمشاد ته ویل:

لالا دې جار سي، درس دې وایه د پیسو د پیدا کولو غم مه کوه، لس ورځې وروسته مې تعلیمي دوره خلاصیږي، لخیره ۲۷۰۰۰ افغانۍ درلېږم، شل زره یې جانباز اکا ته ورکړه، درې زره یې ته ځانه ته واخله او څلور زره افغانۍ یې ملالې ادې ته ورکړه، بیا ورته بریالي ویل:

شمشاد جانه په مخه دې ښه، دلته مونږ پټ په ټیلفون کې غږیږو، اجازه نه لرو چې د ځانه سره دې ټیلفون ولرو،

نو دواړو سره مخه ښه وکړه

شمشاد د کلي د دوکان په لور روان شو، غوښتل یې د سولې دروازه ووینې، په دروازه یې د سولې مینه ماته کړي، مخکې تر دې چې د کلي دوکان ته ورسیږي جانباز اکا یې په مخه ورغی، هغه شمشاد ته ویل:

هلکه څنګه خوشاله ښکارې؟

شمشاد غلی شو، ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايم، څومره وچ سترګی يې، راته وايي چې دا غزل نده ټپه ده، ټپه يې څه شی وي د خدای ساده، شمشاد جانباز اکا ته ويل:
سمه ده اکا تـه بيخي ښـه پـوهېږې ځکـه د رحمانان بابـا شعرونه شمشاد ډېر لوستی و، د جانباز اکا ددې خبرو پـه اورېدو يې دا شعر په زړه کې د کلمه کړ خو هغه مشر و هېڅ يې ورته ونه ويل:

**نصـــيب د دانايـــانو پـــه کتـــاب دی**

**د احمـــق ځـــواب پـــه نـــه ځـــواب ځـــواب دی**

جانباز له ځانه سره وغړمبېده،
په غوسه غوسه يې ورته وکتل او ترې روان شو
شمشاد يې له ملګرو سره په کلي کې دورې ووهلې، يـوه پـر بـل زېري کول چې زه د پلاني ولايت پوهنځي ته بريالی شوی يم، پـه کلي کې به د هغو په تندي دولس بجې وې چې پـه کـانکور کـې د خپلـــې خوښـــې پـــوهنځي تـــه نـــه و بريـــالي شـــوي سولې او شمشاد پوهنتون کې نوم ليکنه وکړه،
تله راتلل يې پوهنتون ته پيل کړل
د پوهنتون لومړۍ ورځې وې، هغـوی دواړه نابلده و، ددوهم او دريم ټولګيو پوهنپالانو به پوهنتون تـه پـه کـانکور کـې پـه تـازه رابريـالي شـوو نجونـو او هلکـانو مسـخرې کـولې، ځينو بـه يـې ويل:
هلکـانو غـټ غـټ مـه کېـږئ لامـو نـوم پـه پنسـل د پوهنتـون پـه حاضرۍ کې نوشته دی، ځينو نورو به ويل:
تاسې ټول د تـورو کارغـانو پـه څېر ياستئ، هرڅه درتـه بـل ډول ښکاري، يـو نيم استاد بـه هـم ورتـه لـه ټوکو يادونه کـولـه چې درسونه وايئ کنه نو په ازموينه کې به ډراپ شي، ورو ورو د





پوهنتون له چاپيريال سره هم بلد بېدل او هم له هغه حالته وتل چې پـه ديـدن بـه يـې کلـه ونـو او کلـه هـم ټولګيوالـو پابنـدي لګولـه شمشـاد د خپـل ټـولګي اسـتازی هـم شـو ځکـه تـر نـورو رنـد او چالاکه و، کله کله به يې له سولې سره د خپل راتلونکي ژوند پـه اړه خبرې او اندېښنې يو لـه بـل سره شريکولې، د پوهنتـون شـل سلنه ازموينې تېرې شوې، سولې او شمشاد دواړو ښې نومرې په دې ازموينه کې وړې وې او خوښ تـر بـل هـر وخت ښکارېدل بله ورځ چې د اوړي سوځنده ګرمۍ له هر ډنګر وجوده هم خولې ويستې، له کانو او بوټو د ډېرې تودوښې لـه املـه تپونـه پورتـه کېدل سولې او شمشاد د پوهنتون په انګړ کې سره کيسې پيـل کړې
سولې ميده ميده قدم واهه او شمشاد تـه يـې پـه ځير ځير کتل، شمشاد هم خپلې دوه سترګې د سولې ليدو ته څلور کړې وې.
ويل يې:
سولې ته ډېره تکړه يې، په شل سلنه ازموينـه کـې دې زمـا د تمې خلاف ډېرې نومرې وړې دي، زه ستا پـه پرمختـګ ډېر خوشاله کېږم، بيا سولې ته مسکی شو، په خندا يې ويل:
اې ! سـولې پـوهېږې، ابلـه ورځ چـې کلـه د ادب تـاريخ نـومرې اعلان شوې، ماته زما او ستا ټولګيوال مرجان ويل چې دا سوله درسره رقابت لري، غواړي اول نومره شي، تـه ډېر کوښښ کـوه، زړه کې د مرجان د خبرو په اورېدو ډېر خوشاله شوم، دومره لکه په لاتري کې چې راتـه يـو لـک افغـانۍ راوتې وي خو هڅه مې وکړه چې ځانه هغه ته غوسه وښيم، تندی مې تريو کړ، ورته کړل مې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوله تکړه نجلۍ ده، درس وايي، زه هم هڅه کوم لخيره چې اول نومره شم، هغه هم د اول نومره کېدو تمه لري، بخت به ازمايوو، وبه ګورو چې د چا د بخت بېړۍ به ميره شي، سولې تندی تريو کړ، ويل يې:

شمشاده ! تا څه ټوکې پيل کړي دي، نور لکه چې ټولګې کې څوک نه و چې مرجان زما په اړه تاته غږېده، چې د سولې نومرې زياتې دي، ډېرې نومرې يې وړي، هسې او داسې، هغه سولې ته وکتل، ويل يې:

تا نو څه فکر کړی دی چې نور څوک ستا په اړه سوچ نه کوي؟

سولې کټ کټ وخندل، د شمشاد تندي ته يې وکتل چې خولې پرې روانې دي، ورته ويل يې:

هلکه ! غم مه کوه يا ته اول نومره او يا زه، خير دی، مهمه داده چې يو د بل په ديدن سترګې رڼې کړو، بيا يې شمشاد ته کړل:

څنګه بد وختونه مو شاته پرېښودل، اې ! يادېږي دې؟ په اونيو اونيو مو يو بل سره نه ليدل، زما به ته يادېدې او ستا به زه،

هی هی يې کړل

شمشاد په پوهنتون کې يو خوا اوبل خوا وکتل، د سولې په څېره يې خپلې سترګې ورخښې کړې، ويل يې:

سولې تا نو اوس ګيلې او کيسې پيل کړې، غلې شه، اوس مو هغه وختونه شاته پرېښودل، د تېرو وخت په اړه فکر کول د وخت ضايع کول دي.

اې ! حيرانه حيرانه مه غږېږده، د راتلونکي په اړه فکر وکړه چې زما او ستا اړيکه به تر کومه وي، که مو له اړيکې څوک خبر شي څه به وشي، او ترڅو به داسې په ويرې يو د بل ديدن کوو؟





سولې ويل:

شمشاده هرڅه به سم شي، اندېښنه مه کوه، لکه څنګه چې اوس سره يوځای د پوهنتون په انګړ کې دغه ده څنګ په څنګ سره ولاړ يو همداسې به يوځای هم شو، دې وخت کې د سولې ملګرې ښکلا چې اقتصاد پوهنځۍ ته برياليۍ شوې وه، له لرې يې شمشاد او سولې وکتل، ښه نيولې ددوی خواته راروانه شوه، دواړو سره يې سترې مه شي وکړه، مسکۍ شوه ويل:

پوهنتون کې د ښوونځي په څېر خلک په خبرو پسې نه ګرځي،

بيا يې شمشاد ته ويل:

هلکه ته نو د بوسو لاندې اوبه مه تېروه، زه پوهېږم چې سوله په تا او ته په سولې ښه پوره مين يې، اړتيا نشته چې سپيناوی وکړې، خدای ج مو سره همداسې خوښ لره،

بيا يې وخندل ويل يې:

څنګه غلي دواړو ودرېدی، سوچ کوۍ چې زه ولې پوه شوم چې تاسو دواړو سره اړيکه لرۍ؟

د سولې له غاړې يې لاسونه تاو کړل، د شمشاد فکر چې بلې خواته شو، سوله يې په تندي ښکل کړه، ويل يې:

اې خپه نه شې، زه خو هر وخت رېښتيا وايم

شمشاد ښکلا ته وکتل، په خلاص وچلي يې ورته ويل:

سوله ستا د لاسه هيڅ ورځ نه لري، ناحقه يې زوروې

ښکلا ويل:

سوله ستا ټولګيواله، زما ملګرې، د فتح خان اکا لور او بيا يې په خندا ويل چې د ملالې ادې کشره نګور ده، که منې يې ويې منه او که يې نه منې نو تنۍ دې خلاصې کړه، سوله له غصې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توره او شنه اوښته، شېبه په شېبه غضب کېده، ښکلا ته یې بدې بدې کتلې، ویل یې:

اې ښکلا ته لکه ماته ژرنده غړمبېږې،
خبرې دې نه دي معلومې، مسکه مسکه کېږې او خبرې کوې،
تا دې خدای ج خبره په خوله کې نه درکوي

هغې بیا خوله خلاصه کړه چې خبرې وکړي خو سولې یې خبرې پرې ور پرې کړې، ویل یې:

غلې شه، د راډیو په څېر یې خبرې دې نه خلاصېږي، یوه خبره چې خلاصه کړې بله دې تیاره په خوله کې جوړه کړې وي هغه پیل کړې

شمشاد سولې او ښکلا ته وکتل، مسکی شو، په خپل مخ یې لاس تېر کړ، له کیڼ اړخه یې لاسي دستمال رااویسته او خپل خولې شوی مخ یې پرې وچ کړ، شمشاد باندې یو څه تودوښې خولې روانې کړې وې او د ښکلا خبرو داسې تر اغېز لاندې راوست چې بیخي بې په خولو کې لوند کړ، مخ یې وچ کړ، سولې او ښکلا ته یې وکتل، ویل یې:

سولې ښکلا ستا ملګرې ده، زه یې په عادت بلد شوی یم او ته یې په خوی نه یې بلده، ښه خو پوهېږې چې هغه ستا له زورولو خوند اخلي خو ته ددې په خبرو جدي کېږې، بیا یې سولې ته ور زیاته کړه:

ګډه وډه مه غږېږه، زه مې ملګرې نښتر سره لږ کار لرم د ژورنالیزم پوهنځي ته خواته ځم، که ماته اجازه راکړې؟

سولې هېڅ ونه ویل خو ښکلا مسکۍ شوه، په لوړ غږ یې کټ کټ وخندل ویل یې:





شمشاده زه دې په جنجال واړولم او ته اوس غواړې چې ما له سولې سره په جنجال کې پرېږدې او لاړ شې، بیا غلې شوه، ویل یې:

اې! ټوکې مې وکړې ورځه شمشاده، سوله که الم شپره ده، زه ترې یو څپک تېره یم، له دې سره په هره خبره رسېږم ورسره جوړه راځم، ته خپه نه شې

شمشاد سولې وکتل په سترګو کې یې ورسره مخه ښه وکړه او روان شو، څو قدمه شمشاد واخیستل، ټیلفون یې وترنګېده، ویې لیدل چې د نامعلومه شمېرې زنګ ورته راروان دی، ژر یې ټیلفون اوکې کړ، په ډېر درناوي سره یې ورو بلې کړل

ورور یې بریالي ورته ویل:

شمشاده سترې مه شې زه یم بریالی

دواړو سترې مه شي سره وکړه، له شمشاده یې د کورنۍ د ټولو غړو پوښتنه وکړه چې څنګه دي؟

هغه ورته ویل:

لالا هیڅ اندېښنه ونکړې، له ملالې ادې نیولې تر ماپورې ټول روغ رمټ یو، بیا یې په خندا بریالي ته ویل چې لږ تا پسې خپه شوي یو نور ښه یو

بریالي ویل:

شکر دی چې ټول روغ رمټ یاستۍ، ما مو په دُعا ګانو کې له یاده ونه باسئ، بیا یې شمشاد ته ویل:

ته اوس چیرته یې

هغه ځواب ورکړ چې پوهنتون کې یم

بریالي په خندا ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



افرین شمشاده درسونو ته دې حاضریږه چې په پوهنتون کې
غیرحاضري ونه کړې او باید په پوهنتون کې هم د ښوونځي په
څېر اول نومره شې، بیا یې بریالي ته خوشالۍ ویل:
لالا په شل سلنه ازموینه کې په ټول ټولګي کې ډېرې نومرې ما
وړې او تر ما وروسته بیا د فتح خان اکا لور سولې ډېرې نومرې
وړې دي، هغه هم زمونږ ټولګیواله ده، بریالی یوه شېبه چوپ
شو، بیا یې شمشاد ته ویل:
هلکه سوله هم لکه چې تکړه ده، ګوره چې درنه مخکې نه شي
بیا به هرچیرته وایي چې له شمشاده په پوهنتون کې مخکې یم،
بریال په خندا شمشاد ته ویل:
شمشاده ته ځان اول نومره کړه لخیره د نومیالي واده تیاروو بیا
زما په پام کې ده چې تاته لوستې کوژدنه وکړم، پیدا یې ته کړه،
ریباري یې په ما او ملالې ادې
شمشاد غلې شو، ویل یې:
لالا ته چې کابل ته تللی یې بیخي ټوکی شوی یې، جالبې خبرې
کوې، زه پرونی ماشوم یم، له خولې مې د شودو بوی ځي، زه
او کوژده لرې خبره ده، غوښتل یې نورې خبرې هم وکړي خو
بریالي ورته ویل:
شمشاده د مرکزي بغلان انصاف صرافي ته مې ۲۷۰۰۰ افغانۍ
درلیږلي دي، دحوالې شمېره ۱۲۳۴ ده ورشه ترلاسه یې کړه،
بیا یې شمشادته ویل:
زمونږ تعلیمي دوره هم خلاصه شوه، نیم ساعت وروسته لخیره
مونږ هلمند ولایت ته لیږي، دنده مو هلته شوه، زه په میوند قول





اردو کې تعین د بست شوی یم،لوا او کنډک یې لا ماته هم ندی
معلوم، شمشاد په بېړه ورته ویل:
لالا په ځان دې ډېر پام کوه، جګړې زیاتې دي، هرچیرته چې دې
دنده شوه، جګړو ته به نه ځې
بریالي ویل:
سمه ده شمشاده زه نو ټیلفون پرې کوم، ملګري مې غږ کوي چې
راځه د تلو چمتووالی نیسو، تا په خدای ج سپارم، ټولو ته
سلامونه کوه، ملاله ادې زما له خوا په تندي ښکل کړه، ورځې
تېرېدې، شمشاد کورته ورسېده او بریالی دوی له کابله په
الوتکه کې د هلمند شورابک سیمې ته چې هلته میوند قول
اردو وه ولېږل شول
شمشاد د بریالي سلامونه ملالې او د کور ټولو غړو ته ورسول،
ملاله ادې یې لومړی په تندي ښکل کړه او بیا یې د بریالي له
خوا رالیږل شوې پیسې ورته وسپارلې، ملالې خپل مخ د قبلې
په لوري واړوه، لاسونه یې لپه کړل، بریالي ته یې دوعاګانې
پیل کړې، دومره ډېرې دوعاګانې یې ورته وکړې چې نور یې
لاسونه شخ شول. تر دوعا وروسته یې پنځه سوه افغانۍ شمشاد
ته ورکړې او ورته ویل یې چې غوښه دې راوړې څو بېګاته د
مړو په ارواح یو دوه کاسې ډوډۍ خیرات کړئ
بله ورځ شمشاد یوازې د بغلان د سین په غاړه روان و، له ځانه
سره یې سوچونه کول چې مینه او مینتوب به یې څه شي؟
د شمشاد له سولې سره ډېرې لیوالتیا اوورسره په خواکې خپله
بی وسي اولاچاري داسمان په سترګو کې اوښکی وچولې، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې سوچونو کې تر پوهنتونه ورسېده، سولې ورته رډ رډ وکتل، ویل یې:
شمشاده یوه پوښتنه درنه وکړم؟
هغه سر وخوزه، سولې ته یې د سر په خوزولو د هو ځواب ورکړ، هغه چې سولې ته د سر په خوزولو سره د هو ځواب ورکړ سوله یې نوره هم حیرانه کړه چې دی ولې خبرې نه کوي؟ بیا یې ویل:
شمشاده یو پوښتنه درنه وکړم
هغه ویل:
هو سل پوښتنې خو وکه
سولې ویل: ولې نن داسې حیران او زنګېدلی تر پوهنتونه راغلې، کومه خبره شوې ده؟
شمشاد چې د سولې دمینې په جال کې د یو ګیر شوی کب په څېر و ورو یې ویل:
نااا سولې نن مې له کلي تر پوهنتونه په دې فکرونه وکړل چې پاتې ژوند او مینه به مو څه شي، بیا یې ویل:
اې ! زمانه بدله شوې ده، په دې بدل وخت کې مینه او مینتوب ډېر ستونزمن دی، فولادي عزم، د غره په څېر زغم او ډېره حوصله غواړي.
سولې په کړس کړس وخندل ویل یې:
شمشاده زمانه نده بدله شوې زمانه هماغه ده هېڅ بدلون پکې نه دی راغلی، ورځ هماغه ده کال هماغه ځلورفصله ده، شپه هماغه ده، لمرپر خپل وخت راخيژي اوپر خپل وخت لویږي، زه هماغه پخوانۍ سوله یم او ته هم هماغه کلیوال شمشاد یې، اصلاً خبره په دې کې ده چې د پوهې د نشتون له امله مو خپل





دودونه پرېښي دي، ځینې ځایونو کې د نورو تقلید کوو او په ځینو نورو وختونو کې بیا هغه سم کارونه هم نه کوو چې ګټه مو پکې نه وي
شمشاد ویل:
هو همداسې ده، بیا یې د زړه په زور وخندل، د سولې سترګو ته یې په ځیر ځیر وکتل ویل یې:
اې ! دا به مو قسمت و چې په داسې ټولنه کې یې پیدا او مېین کړو چې پلرونه خپلې لورګانې د جنس په ډول د ولور په نامه خرڅوي، ودونه خپلو لوڼو او زامنو ته د هغوی په خوښه نه بلکې د ځان په خوښه کوي
سولې اوف کړل، ویل یې:
شمشاده ته مې نو اوس په ټېونو باندې مالګې شیندې، دا خو زمونږ د ټولنې هغه ترخه واقعیتونه دي چې ډېرې نجونې او زیات شمېر هلکان یې د ویلو جرات نه لري، نو څه وکړو، ژوند مو په داسې نالوستې ټولنه کې ده چې که پلار ته هلک او یا نجلۍ ووایي چې په خپله خوښه واده کوم د بې ادبه او سپین سترګي نوم ورپورې کوي
شمشاد غلی و هېڅ یې نه ویل، سولې خپلو سترګو ته ټیکری وړاندې کړ، سترګې یې وسولولې، بیا یې د شمشاد مخ ته وکتل، هغه حیران ولاړ و او د سولې د خبرو په اړه یې سوچ کاوه
سولې د خپل لاس بنګړي وشړنګول، شور یې پرې جوړ کړ، ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



غم مه کوه شمشاده دا طلسمونه به زه او ته ماتوو، مور او پلار ته درناوی لرم خو واده به خپله خوښه خپل ځان ته کوم

شمشاد کټ کټ وخندل او بیا یې سولې ته ویل:

وبه دې وینم چې څه کوې اوس خو ډېره غټه غټه غرېږې، هغه مسکۍ شوه په خندا یې شمشاد ته په ځواب کې ویل:

وبه مې وینې چې زه څه کوم، که مې درسره ژمنه پوره نه کړه نو سوله به نه یم، بیا یې شمشاد ته کړل:

زه درنه ځم ملګرې مې شغله راته په ټولګي کې په تمه ده ستا ښه وخت

څلور ورځې وروسته بیا شمشاد او سوله د پوهنتون په انګړ کې سره مخ شول،

دواړو سره سترې مه شې وکړه، شمشاد سولې ته وکتل، مخکې تر دې چې نورې خبرې وکړي دا ټپه یې ورته وویلې

دا ستا به هېر او که په یاد یم
زه چې قدم په قدم ږدم تا یادومه

سولې مخ بلې خواته واړوه ویل یې:

شمشاده ته لکه چې زما په مینه شک لرې او یا د مینې له تعریفه نه یې خبر؟

هغه په کړس خندا سولې ته ویل:

زه د مینې ماستر یم، دمینې ټول تعریفونه مې زده کړي دي، کاش بدیع او بیان د مینې او محبت په څېر اسانه وای چې پرته له زیاره مې زده کړي وای، بیا یې ویل:

مینه هغه صداقت ته ویل کېږي چې مینه وال د یوچا انځورته په ژوندۍ بڼه په خپل زړه او سترګو کې ځای ورکړي،





لکه زه او ته.

هغې وخندل ویل یې:

نا دا سې نه ده، مینه هغه حس ده، چې له یو چا سره شدیده علاقه ولري او یا مینه د زړه د تل یو آواز ده، چې د یو چا په لیدلو سره له زړه څخه راپورته کېږي لکه زما له زړه چې ستا په لیدو راپورته شوی او هر وخت رانه تا غواړي.

شمشاد وخندل ویل یې:

ګوره سولې هسې نه چې مینه دې مجازي وي؟

هغې سر وخوزاوه، رډ رډ یې شمشاد ته وکتل، بیا یې پوښتنه وکړه، اې مجازي مینه څه ته وایې.

شمشاد د پوهنتون په انګړ کې یوخوا او بل خوا وکتل بیا یې ویل:

مجازي مینه هغې مینې ته وایي، چې پای ته رسېدونکې ده او دا مینه له ځان سره هر ډول درد، سختي، او ناخوالې لري؛ خو د داسې مینې پای ډېری وخت بې پایلې او یا هم خواشیني وي خو الله ج دې زما او ستا مینه داسې نه کوي

یوه شېبه دواړه غلي ودرېدل، بیا سولې ویل:

اورېدلي مې دي چې ژوند د یو ګل په ډول ده او مینه د هغه ګل عسل ده خو شمشاد بېرته په ځواب کې ویل:

ما بیا اورېدلي چې مینه د ژوند تر ټولو لویه توانایي ده چې دا به رېښتیا وي او کنه؟

هغې سروخوزاوه چې هو دا خبره رېښتیا ده

شمشاد بیا سولې ته کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې ! زه لخیره د پلخمري ښار کې ځانته کوټه نیسم، دلته درسونه وایم، هلته کور کې سم درس نه شم ویلی، له هغې یې پوښتنه وکړه چې ستا څه خوښه ده؟

سولې ورته ویل:

بیخي ښه ده، درسونه دې ووایه چې لخیره اول نومره شې

شمشاد په ښار کې ځانته کوټه ونیوه، دیارلس ورځې یې په دې کوټه کې تېرې کړې، د اوړي په دې تاوده موسم کې د پلخمري ګرمۍ نو کانې کولې، له پخو مارکېټونو به تاوده تپونه پورته کېدل خو دوی پکې د مجبوریت ورځې بېګا او شپې سبا کولې، بله ورځ کلي ته لاړ، لومړی ځل و چې شمشاد دیارلس ورځې له کلي لرې تېرې کړې وې، دا ځل یې یوازې خپل کور، کورنۍ او کلی یادېده او له سولې یې زړه ټول و ځکه هغه یې هره ورځ په پوهنتون کې لیده، د جمعې شپه یې کور کې له ټولو سره تېره کړه، تر غرمې یې کور کې له وریرو، نومیالي او ملالې مور سره کیسې وکړې، غرمه مهال مخکې له ډوډۍ خوړلو له کوره بیرون ووت، دا وخت نو د لمر سترګه د اسمان منځ ته راغلې وه، سیوري پر ځای ولاړ وو، ګرمي وه، داسې ګرمي چې د پوستکي لاندې یې هډوکي سوځول، ډېرې ګرمۍ په بدنونو خولې را ماتولې، ددوی کلی هم غره ته نژدې و، د نورو سیمو په پرتله په دې سیمه کې د تودوښې کچه یو څه زیاته وه، شمشاد ورو ورو د ځانه سره شعرونه دکلمه کول او د کلي د کوز سر په لور روان شو، کلي کې له شولو تاوده تاوده تپونه پورته کېدل، یو یو بزګر د خپلو کروندو په پولو د دنیا له غمو بې پروا ګرځېده، ځینو عمرخوړلو بیا سندرې زمزمه کولې او په خپل پاخه سن یې





شوخ مزاجه سندرې ویلې چې د نوو ځوانانو پاملرنه یې د ځان په لورې را اړوله، هغه د غټې ونې سیورې ته کیناست،د ونې تر څنګ سیوري ته د روانو اوبو له ویالې څخه یې څو لپې یخې اوبه مخ ته واچولې، بیا یې په مخکنۍ لمن باندې مخ وچ کړ، ورځ یې په کیسو تېره کړې وه، هېڅ کار یې هم نه و کړی خوشې په خوشې سترې ستومانه ښکاریده،ونې ته یې پورته وکتل، سوچې شو، د ځانه سره یې ویل:

دا ونه څومره ډېرې پاڼې لرې، هره پاڼه یې څومره ښکلې ده، دا وخت یې سوله ور په زړه شوه، د شونډو په څوکه یې دا ټپه تېره کړه

لکه د توت د ونې پاڼې
دومره ګیلې مې سولې زړه کې درته دینه

یو پلو د سولې یاد او بل پلوشنو فصلونو، خوړو توتانو، یخو اوبو، د زاڼو په څېر د کلیوالو بزګرو کتارونو بیا شمشاد ته یو بل زړه راښکوونکی احساس ورکاوه، یو ساعت یې تر همدې ونې لاندې تېر کړ، بیا بېرته د کلي په لور روان شو، دیوالونو ته یې وکتل چې ګولۍ پرې لګېدلې وې او سوري سوري و، د ځینو ونو ډډونه هم بوخ بوخ و، فکر به دې کاوه چې په دې سیمه د مرمیو باران شوی، هغه د ځانه سره ویل:

اخ بدمرغې جګړې زمونږ ښایسته کلی دې څومره بدرنګه کړی دی، د کلي زړه راښکوونکي څېره مو اوس ویرونکې ده، پلې په همدې سوچونو د هدیرې په لوري وخوزېده، د زریالي او توریالي کبرونو ته ورسېده، د اوښکو په بدرګه یې ځوانیمرګو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورونو ته ښې ډېرې دعاګانې وکړې، بیا یې د ټولې هدیرې مړو ته د دعا لپاره لاسونه لپه کړل، ویل یې:

آســـمانه لاس راکـــړه درخېـــژم
پـــه ځمکـــه ځـــای د ورونـــو غـــم نـــه راکوینـــه

لږې نورې اوښکې یې هم تویې کړې، بیا له هدیرې د کلي په لور روان شو ، مازدیګر و، شمشاد دا وخت د زریالي او توریالي غم زاړه خو خبر لا نه و چې په همدې مازدیګر به یې د بریالي ورور غم هم سرباری شي، ټیلفون یې وشرنګېده، وېې کتل چې نابلده شمېرې ورسره اړیکه ټینګه کړې، ټیلفون یې اوکې کړ، د یوه پاخه سن والا کس خبرې پیل کړې، ویل یې:
ته شمشاد یې؟
ده ورته ویل:
هو شمشاد یم، تاسو څوک یاستئ؟
هغه ورته ویل:
زه تورن جلان یم د میوند قول اردو د دریمي لوا د څلورم کنډک ددوهم ټولي قومندان، له هلمند ولایته مې درته زنګ وهلی شمشاد ژر ترې پوښتنه وکړه، صاحبه ووایئ څه خبره ده؟
د تورن غږ لړزېده، ورو یې ویل:
هغه داسې ده چې، داسې ده چې، شمشاد یې خبرې ورپرې کړې ویل یې:
څنګه چل دی هله ژر راته ووایه قومندان صاحب، تورن بیا زړه غټ کړ خو نه یې شو کولای چې شمشاد ته ووایي چې ورور یې په یوه ماین چاودنه کې ژوند دلاسه ورکړی، بیا یې ویل:





هلکه مه وارخطا کېږه، وطن په مونږ او تاسو حق لري، ډېرو ځوانانو سر په وطن کېښود او لړۍ یې روانه ده
شمشاد بیا په بیړه ورته ویل:
قومندان صاحب خبرې یوخوا او بل خواته مه بیایه راته اصلي خبره وکړه؟
د تورن چې اوښکې له سترګو روانې وې په ژړغوني غږ یې شمشاد ته ویل:
مونږ غوښتل چې له روزنیز مرکزه فارغه شوي سرتېري د هلمند نهرسراج ولسوالۍ جهانزیب کمپ ته ورسوو خو له بده بخته چې د بریالی دوی په هاموې ټانک ماین چاودنه وکړه او دده په ګډون پنځه سرتېري مو د لاسه ورکړل
شمشاد چیغې کړې ویل یې:
بریالی لالا مې مړ شوی
تورن په ژړا ورته ویل:
هو شمشاده هغه نور زمونږ په منځ کې نشته
شمشاد له تورن سره اړیکه پرې کړه، په مخ یې د اوښکو باران و او خپل مشر ورور ننګیالی یې خبر کړ چې بریالی په ماین چاودنه کې وژل شوی دی
کور ته روان شو، بیا زنګ راغلی، په لړزېدلو ګوتو یې بیا ټیلفون اوکې کړ، وایې ورېده چې بیا تورن خبرې کوي، هغه ویل:
هلکه! دوی ټول سوځېدلي دي، هېڅ پېژندل کېږي نه، مونږ ددوی جنازې کابل ته دروړلو او سبا به یې بغلان او تخار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروليږو ځکه وژل شوي ځلور واړه سرتېري مو د بغلان او تخار دي، تاسو مه راځئ او زحمت ونه باسئ.
شمشاد په زوره زوره ژړل او په منډه د خپل کور په لوري را روان و، د کور دروازې تـه راورسېده، سترګي يې پـه نوميالي او ننګيالي ولګېدې چې د هغوی له سترګو هم اوښکې روانې دي خو په زوره زوره نه ژاړي
نوميالي شمشاد پـه غېږ کې کلک ونيوه، دواړو سلګيو پسې واخيستل، همدلته يې له ژړا زړونه تش کړل، ننګيالي دواړو ته ډاډګيرنه ورکوله، څو شيبې تېرې شوې، ننګيالي شمشاد او نوميالي ته ويل:
شپه راروانه ده، خدای ج راوستي ورځ ده، کورکي هېڅوک مه خبروئ، راځئ چې جانباز اکا او د کلي ملک فتح خان خبر کړو، د دربـواړو لـه سـترګو اوښکې روانـې وې او جانباز دروازې تـه ورغلل، جانباز اودس کړی و او لمانځه تـه روان و، ويې ليدل چې شمشاد، نوميالي او ننګيالي ژاړي، پوښتنه يـې وکـړه هلکانو څه شوي دي؟
ننګيالي خپلي اوښکي پاکي کړې، ورته ويل يې:
اکا ! د بريالي ورور په موټر ماين چاودنه کړې او وژل شوی دی، جنـازه يـې آن هلمنـد کـې ده، قومنـدان يـې څـو شـيبې مخکـې شمشاد ته زنګ وهلی و، هی هی يې کړل، خپلـه ملا يې کلکـه ونيوه، له سترګو يې اوښکي راغلي ويل يې:
اوس بايد څه وکړو او چيرته لاړ شوننګياله بچو؟
ساړه ساړه آسويلي يې وويستل





ننګيالي هم ورو ورو دوه درې کوکې له خولې ووېستې بيا يې ويل:
جانباز اکا د ملک فتح خان کور ته به ورشو چې جومات ته لاړ نه شي
جانبـاز نوميـالي او شمشـاد تـه ډاډګېرنـه ورکولـه، بيـا يـې د شمشاد له غاړې لاس تاو کړ او د فتح خان تر کوره يې د هغه سر په لاس کش کړ، ويل يې:
شمشاده بچکه مه ژاړه، دا د تقدير فيصلي دي، مرګ حتمي ده، نوميالي د فتح خان دروازه ژر ژر وټکوله، پـه حويلۍ کې فتح خان وټوخېده او بيا يې په لوړ غږ ويل:
کوم يو يې، دغه ده درغلم
تر څو چې فتح خان له دروازې راوته، ننګيالي دروازه پـه زوره زوره وټکوله، فتح خان خپل بوټونه هم سم پښو نه کړل، لونګۍ يې په لاس کې راوخيسته او پـه بېړه بيرون راووته، ويې ليدل چې نوميالی، ننګيالی او شمشاد ژاړي خو جانباز حيران ولاړ دی، هېڅ نه وايي، فتح خان ويل:
څنګه چل دی، څه خبره ده، هلکانو ولي ژاړئ، هغه خبر نـه و چې د شمشاد دوی پـه کورنۍ باندې يـوه بلـه د ماتم ورځ راغلي ده ننګيالي خپلي اوښکي پاکي کړې، زړه يې غټ کړ، بيا يې ويل:
خان کاکا د بريالي لالادوی موټر هلمند کې په ماين ور برابر شوی دی
تـر څـو يـې چې خبـره خلاصـوله فـتح خـان پوښـتنه وکـړه چې وضعيت يې اوس څنګه دی؟
نوميالي په ژړا ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لالا مي له څو ملګرو سره یي یوځای وژل شوی دی، هغه ژوندی نه دی، شمشاد ته یي قومندان زنګ وهلی و چې جنازه یې نن شپه کابل او سبا بیا بغلان ته درلېږو

فتح خان حیران ودرېده، پرته له جانبازه یي ټولو ته ډاډګیرنه ورکړه، خپل کشر زوی عابد ته یې غږ کړ چې د میلمستون دروازه خلاصه کړي

فتح خان ویل:

راځئ کور کې کینئ، اوس هغه ته دي الله ج جنتونه ورنصیب کړي، ملاله ورینه دار مه خبروئ، سبا به یې خبره کړو، میلمستون ته ننوتل، ننګیالي، توریالی او شمشاد درېواړه غونج غونج کیناستل، ژړل یې خو له خولو یې غږ نه وته، اوښکې یې له سترګو سیلاب رواني وې

جانباز د نصوارو قطۍ راوویسته، یوه کپه شنه نصوار یې خولې ته واچول او بیا یې رډ رډ شمشاد، نومیالي او ننګیالي ته وکتل، رنګ یې ژېړ تښتیدلی و ځکه د شمشاد دوی په خپلوانو کې مشر سړی همدا جانباز و چې په غم او ښادۍ کې به یې نورو تر امر لاندې کار کاوه او هېڅوک نه و چې دده له خبرې دې سرغړونه وکړي، فتح خان خپل سر په زنګنو اینښی و، تر یوې شیبې سوچ وروسته یې په جانباز سترګې وګنډلې، هغه ته یې ویل:

جانبازه ! دا خو هلکان دي، راځه په دې سوچ وکړو چې سبا جنازه چیرته وکړو؟





جانباز خپل نصوار له ژبې لاندې کړل،

د جانباز په ځواب کې یي ویل:

خو کلي ته به جنازه راوړو کنه ولې څه ستونزه ده؟

فتح خان لومړی چوپ شو، بیا یي ویل:

ته خو مشر سړی یې، سر دې په هرڅه خلاصیږي، د حکومت د مخالفینو قانون خو دلته دادی چې د حکومت په ننګه د مړ سړی جنازه په کلي کې نه پرېږدي

په کوټه کې ناستو ټولو په ځیر ځیر ملک فتح خان ته وکتل، جانباز ویل:

هو داسې خو ده، ښار کې هم زمونږ د خپلوانو کورونه نشته، اوس به څه وکړو؟

فتح خان سروخوازوه چې دی هم همدې خبرې ته په سوچ کې دی، ننګیالي نومیالي ته وکتل خو له خولې یې غږ و نه وېسته، نومیالي له جېبه ټیلفون راوویسته، فتح خان او جانباز ته یې ویل:

زما د خسر څرګند خان کور په ښار کې دی، هغه سره به خبرې وکړو، که ستونزه یې نه درلوده هلته به جنازه ویسو او تر دریمې ورځې پورې به ښار کې واوسو

د جانباز له سترګو اوښکې رواني شوې، ویل یې:

اخ خدایه ج ! څه وخت ته دې راوستم چې هم مړ زه یم او هم پړ زه، بیا یې نومیالي ته وکتل، هغه په لاس کې ټیلفون نیولی، له سترګو یې د اوښکو سیلاب روان و، ویل یې:

ته بچیه څرګند خان ته زنګ ووهه ټیلفون ماته راکړه زه به ورسره خبرې وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومیالي د خپل خسر ځرګند ټیلفون ته زنګ وواهه، ژر یې ټیلفون جانباز ته ورکړ، مخکې تر دې چې ځرګند ټیلفون اوکې کړي، جانباز د قالیني له څنډې لاندې نصوار توف کړل بیا یې ټیلفون غوږ ته نژدې کړ،
ځرګند ویل:
نومیاله سلامونه، ستړی مه شې، څنګه یې؟
جانباز سلام او ستړي مه شي پرېښوده، په داسې حال کې چې له سترګو یې اوښکي رواني وې، ویل یې:
ځرګنده زه یم جانباز
هغه ویل:
جانباز اکا ته ښه یې، کراري ده؟
جانباز سوړ آسویلی ووېسته، بیا یې ویل:
کراري نشته، د غم لپاسه غم دی، خبره داده چې بریالی هلمند کې وژل شوی دی، جنازه یې دلته کلي کې د حکومت مخالفین نه پرېږدي، مونږ د ملک فتح خان په کور کې راټول یو غوښتل مو چې سبا جنازه ستا کور ته دروړو او له هغه ځایه یې دفن کړو، ستا نظر څه ده؟
ځرګند اوف کړل، په ژړغوني اواز یې ویل:
جانبازه رېښتیا وایې؟
هغه بیرته ځواب ورکړ، ویل یې ته څنګه سړی یې دا وخت د ټوکو نه دی، مونږ له غمه مړه شولو او ته فکر کوې چې دوی راته دروغ وایي
ځرګند ویل:





هېڅ ستونزه نشته زما کور ستاسې خپل کور دی، زه به نن شپه ټول چمتووالی ونیسم، سبا جنازه همدلته راوړئ
د سولې ورور عابد خان له میلمستونه ووت، کور کې یې مور او سولې ته ویل:
ډېر وران کار شوی، ټول میلمستون کې ژاړي، هغوی ترې پوښتنه وکړه چې څه کیسه شوې؟
عابد ویل:
څه وشي، نن هلمند کې د بریالي دوی په ټانک ماین چاودنه کړی، هغه یې له څو ملګرو سره یوځای وژل شوی دی، ورونه یې ټول له جانباز سره راغلي او په میلمستون کې ناست دي ژاړي، لایې مور نه ده خبره، بیا یې ویل:
بل غم داده چې جنازه یې هم په کلي کې د حکومت مخالفه وسله وال نه پرېږدي، اوس هغوی او پلار مې په دې سوچ کوي چې ښار کې جنازه د چا کور ته ویسي او له هغه ځایه یې دفن کړي، د سولې مور غوټې اوف کړل، ویل یې:
ای بدبختي ملالۍ، د غم لپاسه غمونه درباندې راځي، خدای ج غمونو ته پیدا کړې یې، سولې ته یې وکتل، بیا یې ویل:
دوه کلونو کې یې دا دریم زوی دی چې ځوانیمرګ کېږي، نور یې له سترګو اوښکي راغلي، سوله حیرانه ودرېده، هېڅ یې نه ویل، له سترګو یې دوه درې څاڅکي راغلي اوښکي له خپله وروره پټې پاکې کړې، ورور عابدخان ته یې ویل:
د بریالي ټول ورونه اوس زمونږ په میلمستون کې دي؟
هغه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو، شمشاد، نومیالی او ننګیالی همدلته دي، سترګې یې له ژړا ډکې شوې، ستونی یې سلګیو ونیوه، ویل یې:
نور خیر خو په شمشاد مې ډېر زړه بدیږي، چې میلمستون ته راننوتی نو له سترګو یې اوښکې روانې دي.
ملالۍ څو واره د کور له دروازې بیرون راووته، په سرک کې یې ښکته او پورته وکتل، اندېښنه یې شوه چې زامن یې ولې نن په وخت کور ته نه و ورغلي، نګورګانو نه یې پوښتنه وکړه چې هلکان به چیرته تللي وي؟
هغوی ورته په ویل:
مونږ نه یو خبرې،
شمشاد غرمه او نور دواړه مازدیګر له کوره وتلي دي
فتح خان له جانباز سره سوچونه وکړل، بیا یې ننګیالي ته ویل:
هلکه ته دې کور ته لاړ شه، په کور کې هېڅوک خبر نه کړې چې بریالی وژل شوی دی، نومیالی او شمشاد به همدلته پاتې شي ځکه که دوی لاړ شي، مور دې پوهیږي نو ټوله شپه به له ډېرو چیغو چیغو مړه شي
جانباز په خپل ځای کې وپشېده، ویل یې:
هلکه ننګیاله ملک رینتیا وایي، مور ته دې ووایه چې نومیال او شمشاد د جانباز په کور کې دي، هلته میلمانه راغلي و نو جانباز دوی هم راپرې نهښودل چې کور ته راشي.
ټوله شپه نومیالي او شمشاد د ملک په کور کې وژړل او ننګیالي بیا په چوپه خوله ټوله شپه په کور کې ژړا وکړه خو په کوټه کې ورسره میرمن یې هم پوه نه شوه چې بریالی وژل شوی او دی ورپسې ژاړي.





سهار وختي ننګیالي خپله میرمن خبره کړه چې ورور یې بریالی وژل شوی دی او جسد یې د نومیالي د خسر څرګند خان کور ته راوړي، هغه خپل اوښکې پاکې کړې، له ځانه سره یې سوچ وکړ چې ملالۍ او د کورنۍ نور غړي به یې څنګه د څرګند تر کوره بوځي؟
ننګیالی د غم سربېره په سوچونو کې ډوب و چې جانباز دروازه وټکوله، ننګیالی په دربهار بېرون ور ووت، ویل یې:
اکا جنازه خو د څرګندخان کور ته راوړو نو ادې به څنګه کړو؟
جانباز وپشېده، ویل یې:
څرګند ته وایم چې ستا مور ته زنګ ووهي او د میلمستیا په پلمه یې خپل کور ته وغواړي
جانباز خپلې عینکې په سترګو کړې، د ګوتو په زور یې د خپل ټیلفون بټنې کېکاږلې، بیا یې ننګیالي ته ویل:
هلکه ! دغه شمېره ته وګوره چې د چا ده؟
ننګیالي ویل:
اکا دا د څرګند شمېره ده
جانباز ژر د څرګند شمېرې ته زنګ وواهه، ویل یې:
څرګنده ! ملالۍ مه خبروه، ته ورته زنګ ووهه چې نهه بجې یې ورته میلمستیا کړې، په همدې پلمه یې کورته دروغواړه
هغه غلې شو، بیا یې ویل:
ولې اکا؟ ملاله نده خبره چې بریالی مړ شوی دی؟
جانباز ویل:
نا ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرګند جانباز ته ځواب ورکړ چې ملاله به په کومه پلمه خپل کورته وغواړي

ځرګند د ننګيالي ټيلفون ته زنګ وواهه، دغټو او وړو پوښتنه يې وکړه، بيا يې ويل:

خيښې ته ټيلفون ورکړه، ننګيالي ژر ټيلفون ملالې ته ورکړ، د ملالې ملا چې ډيرو غمونو يو څه ور کوپه کړې وه، سترګو يې هم د پخوا په څېر هرڅه سم نه ليدل، ځرګند سره يې ستړي مه شې وکړه، بيا يې ويل:

خېښه ! دا لمر له کومې خوا راختلی چې زه دې ياد کړم او زنګ دې راته وواهه؟

هغه غلې شو، بيا يې ملالې ته کړل، زوروې ته خو له نګور ګانو نه ښې طالع لرې، لېمه دا دوه ورځې راپسې شله وه، بيخي يې په تنګ کړی وم چې ملاله مور راوغواړه، نو دادی نن مې درته زنګ وواهه، بيا يې ويل:

ميلمستيا مې درته کړې، همدا اوس رارووانه شه، ننګيالی هم د ځانه سره راوله چې بيا وروسته لمر توديږي.

ملالې چې د خپل نازولي زوی برياليي له وژل کېدو بې خبره وه کټ کټ يې وخندل، بيا يې ځرګند ته کړل:

ګوره لېمه جانې ته به نوميالی ور ياد شوی وي، هسې به يې تاته ويلې وي چې ملاله ادې مې ياديږي او کور ته يې را وغواړه؟

ځرګند دومره په غم کې ډوب و چې د تمثيل لپاره يې هم شونډې سره خلاصې نه کړې ځو خندا وکړي، ملالې ته يې ويل:





د هغه غم مه کوه، ته او ننګيالی راشئ چې وروسته بيا تودوښه زياتيږي، شمشاد او نوميالی به ستا له لمسيانو او نګور ګانو سره وروسته راشي

ملالې ويل:

سمه ده، ځرګند سره يې مخه ښه وکړه

ننګيالي ژر ځان تيار کړ او له ملالې سره د ځرګند د کور په لور روان شول، په لاره کې ځو ځله ملالې له ننګيالي پوښتنه وکړه چې ولې خپه ښکارې خو ننګيالي هېڅ نه ويل، د ملالې په زړه کې اندېښنه پيدا شوه، بريالی خوار يې لا په ياد هم نه و چې په هغه به څه شوي وي

نوميالی له فتح خان، جانباز او د کلي له يو شمېر سپين ږيرو سره لاړل، کلي کې يې له ځو تنو پرته هېڅوک خبر نه کړل چې بريالی وژل شوی او جنازه يې په ښار کې کوي، شمشاد کور ته راغی، کوټې ته ننوت، په لوړ غږ يې چيغې پيل کړې، پوره يو ساعت يې وژړل، د زرياليي، توريالي، برياليي او ننګيالي مېرمنې او ماشومان يې هم خبر کړل چې بريالی وژل شوی دی، د بريالی مېرمنې هوسۍ تر شمشاد ډېر چيغې وهلې، د خپل سر وېښتان يې شکول، ځان يې له ډاګې ډاګې واهه، دومره هوسۍ او شمشاد وژړل چې آن غږونه يې کېناستل، نور به يې چې ژړل له خولې به يې غږ هم نه وته، په کور کې ټولو ژړل، د ماشومانو چيغو ټول کلی په سر اخيستی و، د ګاونډيو ښځې راغلې ويل يې څه شوي دي؟

هوسۍ ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورې مې په سر شوې، بريالی مړ دی، هرڅوک به چې خبرېدل
په خپله خوله به يې لاس کېښوده او ژړا به يې پيل کوله، کوڅه
کې د موټر غږ شو، شمشاد همداسې په ژړا ورغی، ويې ليدل
چې کليوال يې ريحان ولاړ دی، مخکې تر دې چې شمشاد
خبرې وکړي، ريحان په ژړا ورته ويل چې فتح خان راليږلی او
ټول راځئ چې د څرګند خان کور ته ځو، دوه بجو ته جنازه
رارسيږي

شمشاد په منډه کور ته راغی، ورينداره ګانې او وريرونه يې په
موټر کې کېنول، ټولو چيغې وهلې، د کوټې او حويلۍ دروازه
يې همداسې په مخ خلاصې پرېښودې، د ګاونډيانو ښځې
راغلې او ددوی دروازې يې بندې کړې، په موټر کې ناستو ټولو
ژړل، شمشاد ژړل خو غږ يې نه وته، له روان موټره دومره د
چيغو غږونه جګېدل چې فکر به دې کاوه د نړۍ غميز شور ټول
همدا دی، د څرګند کور ته ورسېدل، دا وخت نهه بجې شوې
وې، ملاله لاهم نه وه خبره چې زوی يې مړ دی، يوناڅاپه ټوله
کورنۍ يې په ژړا د څرګند په کور ورننوته، ملالې رامنډې کړې
چې څه شوي دي؟

ټولو ژړل، هېچا خپله ژړا دومره نه شوه کنټرول کولای چې ملاله
خبره کړي چې زوی يې بريالی په هلمند کې وژل شوی دی،
څرګند رامنډه کړه، ملاله يې له لاسه ونيوه، ويل يې:

خېښې هېڅ خبره نده، د بريالي په پښه يوه مرمۍ لږېدلې او
برسېرن ټپي دی، اندېښنه او ژړا مه کوئ، بيا يې ټولو ته اشاره
وکړه چې ژاړي دې نه





لېمه راغله خپله خوابښې ملاله يې له لاسه ونيوله، ويل يې:

ادې مه ژاړه هېڅ خبره نده، په بريالي څه نه دي شوي

د ملالې له سترګو اوښکې روانې وې، هسې يې غمو ملا
ورماته کړې وه، ويل يې:

لېمې لورې لکه چې خاورې مې په سر شوې، زه طالع نه لرم، لکه
چې بريال زوی مې له لاسه ورکړ، بيا لږ په لوړ غږ چيغه کړه،
اوف يې کړل

ليمې يې ټيکری په سر ورواچوه او کوټې ته يې بوتله،
هغې ته ويل:

ادې ! بريالی د پلخمري په ملکي روغتون کې دی لخيره يولس
بجو ته يې رارسوي

د څرګند کورنۍ د ملالې نګورګانې او لمسيان په ميلمستون
کې کېنول، ميلمستون د کور له کوټو يو څه لرې و د چيغو غږ
ترې نه راته

هلته نورو کم خو هوسې او شمشاد بيخي ډېر ژړل، په مخ يې
اوښکې د سيلاب په څېر روانې وې

شمشاد په خپل ګلکسي ټيلفون کې د بريالي عکس راوستی و،
هغه ته يې کتل او په لوړ غږ يې چيغې وهلې، تر دولسو بجو يې
چيغې ووهلې

ډېره سخته ورځ وه، شمشاد په کمه موده کې د خپل د دريم
ورور د مړينې اوريدلی و، د بريالي جسد يې لا نه و رارسولی
خو په ژړا يې کورنۍ ځانونه ستړي کړل، يوازې مور يې د لېمې
خبره منلې وه چې بريالی ټپی دی ځکه خو د هغې له سترګو
اوښکې نه تلې، دوه بجې د څرګند دروازې سره اته نهه موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېدل، په منځ کې یې امبولانس و چې د بریالي مړی پکې بار و، دا وخت په ډېرو جوماتونو کې ننګیالي او جانباز اعلانونه کړې و چې جنازه څلور بجې کوي.

شمشاد بیرون ووته، خپل کلیوال یې ولیدل، حیران حیران ټول ولاړ و، دومره حیران چې که له پوزې نیول شوي وای د ځینو ساه لا وته، کلیوال له امبولانسه چارپېر ولاړ و، د څرګند کلیوالو هم رډ رډ کتل، نه پوهېدل چې جنازه د چا ده، یوه له بله پوښتنه کوله چې څه خبره شوې ده، څوک مړه دي او دا جنازه د چا ده؟

تابوت له موټره جانباز، فتح خان، ننګیالي او نومیالي راکوزه کړ، شمشاد هم د تابوت یوه څنډه ونیوله خو زور یې ټول ژړا اوبه کړی و

نژدې خپلوانو او کلیوالو رډ رډ کتل، اوښکې یې تویولې خو تابوت یې له موټر نه راښکته کاوه، هسې نه و چې هغوی د بریالي په مړینه خواشیني نه و خو ډار یې له دې و چې که څوک یې دلته د تابوت په راښکته کولو کې عکس واخلي او د حکومت مخالفینو ته ویسې بیا به یې کلي کې ګُزاره سخته شي، لاس تر زنې ولاړ و، ځینو خو ان ژړا هم پټه کوله، د بریالي ملګري د دیوالونو سیوری ته ناست و، سرونه یې په زنګنو ایښي و، له سترګو یې بې اختیاره اوښکې د سیلاب په څېر رواني وې، ډېره سخته او خواشینونکې شېبه وه

د څرګند ګاونډیو رامنډه کړه، تابوت یې ونیوه، شمشاد حیران ودرېده، ویې لیدل چې د بریالي په تابوت د هیواد درې رنګه ملي بیرغ پروت دی، پرې ور ټیټ شو، لومړی یې بیرغ ښکل او





بیا یې د تابوت له ښیښې د بریالي مخ ولیده چې د باروتو په اور تک تور شوی و، خپله ملا یې ونیوه او پر مخې یې ځان د بریالي په مړي ورخطا که، چیغې یې کړې، وا بریاله وروره یې ناري کړې، فتح راغی شمشاد یې غېږ کې پورته کړ، نورو ته یې ویل:

هله جنازه دننه ویسئ، وخت کم دی، څلورو بجو ته مو د جنازې اعلانونه کړي دي، جنازه یې دننه کورته وېوړه، له مخامخ کوټې د ملالې سترګې په تابوت ولګېدې، چیغې یې کړې، د تابوت خواته یې رامنډه کړه، تابوت ته راونه رسېده، برنډه کې وغورزېده او بې هوښه شوه

ټول د بریالي په مړي راټول شول، د ټولو چیغو دوه درې کلي خبرول، د څرګند خان مېرمني شېبې او لور یې لېمې ژر د بورې شربت جوړ کړ، د ملالې په خوله کې یې ور وڅڅاوه، جانباز، څرګند او ننګیالي جنازه پرېښوده او د ملالې خواته راغلل، ننګیالي ژړل هېڅ یې نه ویل، جانباز ویل:

ورینداري که وضعیت یې ښه نه وي چې ښار ته یې بوځو؟

څرګند ویل:

ډاکټر ته به یې بوځو خو مېرمني یې شېبې ویل:

نا شربت مو خوله کې ور څڅاوه، ښایي ژر په هوش راشي ننګیالی بیرته د بریالي د مړي خواته ورغی، ملا یې په دواړو لاسو ونیوه، مشر ورور یې ترې ابدي بېل شوی و نو ځکه ورته ډېره سخته وه، ژړل یې خو غږ یې نه وته، په خامکي سنډو ګنډل شوي دستمال باندې یې خپلې اوښکې پاکولې، شمشاد د بریالي سرته او د بریالي مېرمن هوسۍ یې پښو ته ناسته وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوارو د زړه په زور ژړلي ځکه نه يې سهار او نه يې غرمه ډوډۍ خوړلې وه، نوميالی حيران د تابوت په څنګ کې ناست او ورو ورو يې ژړل، شمشاد ځان له ډاګې ډاګې واهه، د نوميالي کوژدنه لېمه ورته راغله، هغه يې لاسه ونيوه او لرې يې بوته، هغې ډاډګېرنه ورکوله، دلېمې مور په لوړ غږ جانباز ته نارې کړې، ويل:

جانباز کاکا، وا جانباز کاکا تشويش مه کوه ملاله په هوښ راغله

لېمې د دې غږ په اورېدو سره شمشاد د برنډې په يوه څنډه کېناوه، ژر د خپلې خواښې ملالې خواته راغله، هغه يې له لاسه ونيوه او د بريالي د تابوت سرته يې بوتله، د ملالې په سترګو توره شپه وه، د غره په څېر زوی يې مړ و، څو شيبې يې وژړل، بيا يې د تابوت د مخې تخته لرې کړه، خپل ښی لاس يې د بريالي په مخ تېر کړ، د هغه مخ د باروتو اور سوځولی و، ترڅو يې چې د بريالي څېرې ته کتل او د هغه په مخ يې لاس واهه ژړا يې نوره هم زياتېده، کوژده کړې نګور يې لېمه راغله، ملالې يې غېږ کې ونيوله، دې هم ژړا پيل کړه، ليمې چې ډېر وژړل ملالې د هغې له غاړې لاس تاو کړ، په حويلۍ کې يې ناستو ښځو ته وکتل، ويې ليدل چې د څرګند د ګاونډ او د خپل کلي ټولې سپين سرې او خپلوان يې راغلي، خپه دي، هېڅ نه وايي، هره سپين سرې ښځه په خپل ځای کې ناسته او اوښکې تويوي، خپلې خپلوانې او نورې زړې ښځې د ملالې خواته راغلې، اول يې د بريالي مړی او بيا يې ملالې ته ډاډ ورکول پيل کړل، ځينو سپين سرو ښځو ويل:





ملالې خورې مه ژاړه د ټولو همدا لار ده، ځينو ويل: الله ج درکړی و بېرته يې درنه واخيسته او ځينو بيا ويل د قسمت هرې فيصلې ته بايد په ورين تندي غاړه کېږدو، له مرګه تېښته نشته

د لېمي مور شپېي ويل:

ملالې الله ج دې د زړه صبر در نصيب کړي، ډېره سخته ده، دا دې دريم ځوان ځوی دی چې په مرميو سورى سورى بېرته راوړې، بيا يې اوف کړل، ويل يې:

الله ج ته خپله ښه پوهېږې

لېمې خپل ليوره شمشاد او د کلي سپين سرو ښځو ملالې ته ډاډګېرنه ورکوله، هوسۍ بيا له ډېره غمه ځان له ډاګې ډاګې په ځمکه ويشته، د خپل سر ويښتان يې شکول او ساړه ساړه آسويلې يې وېستل

له مخامخ دروازې ډله ځوانان هويلۍ ته راننوتل، ننګيالی او نوميالی له جانباز سره مخکې را روان و، څرګند راغی، په لاس يې ښځو ته اشاره وکړه چې جنازه خښولو ته وړو، ننګيالي او نوميالي له جانباز او څرګند خان سره کټ ته ودرېدل، نور ځوانان تابوت ته نژدې رانغلل ځکه د کلي ښځو هلته له راغلو ځوانانو مخونه پټول، ملالې چې دوی وليدل په خپل ځای کې يې د درېدو هڅه وکړه، لاسونه يې په ځمکه ولږول، په ډېر زور وهلو سره ودرېده، د تابوت په لور يې قدمونه واخيستل، د بريالي ناڅاپي مړينې يې د زړه زور اوبه کړی و، هېڅ وسه يې نه درلوده، دريم پل اوچتولو ته پاتې نه شوه او بېرته په ځمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولوېده، ژر شپېبې په غېږ کې راکلکه ونیوه، بیرته یې راپورته کړه، نورو ښځو هم رامنډې کړې، هغه یې تر تابوته ورسوله

ملالۍ ورو ویل:

ننګیالیه چیرته یې وړئ؟

تر څو چې ننګیالي خبرې کولې جانباز ویل:

ملالۍ وریندارې ورځې دومره اوږدې نه دي، دوه بجو ته مو د جنازې اعلانونه کړي و، دادی دوه نیمې بجې دي، تودوښه هم ډېره ده، خلک له لرې سیمو راغلي دي، ناوخته ده، بیا کلو ته موټر هم نه ځي نو جنازه به لږ وخته وکړو، ترڅو یې چې ښخوو نو مازدیګر کېږي.

ملالۍ چیغې کړې، ویل یې:

مانه مې بریال زوی مه وړئ، زه بې بریاله ژوند نه شم کولای، وا بریاله سر دې راپورته کړه ټول خپل او خپلوان دې دیدن ته راغلي دي

ننګیالی او نومیالی حیران حیران غلي ولاړ و هېڅ یې نه ویل، د جانباز له سترګو اوښکې راغلې، په خپل ځای کې کېناسته،لږ په لوړ غږ یې ژړا پیل کړه، بریالی که هرڅنګه و خو په جانباز ډېر ګران و، پنځه دقیقې یې هېڅ خبرې نه وکړې، بیا یې ویل:

ملالۍ ! زما چې دومره زړه خپه دی، پوهېږم چې ته ډېره خپه یې، دده په مړینه ټول کلیوال او خپلوان خپه دي خو څه وکړو، ټول مرو، څوک مخکې او څوک وروسته، ملالۍ ته یې ویل:

همت دې د زمري کړه، پوهېږم د اولاد د مړینې درد تر هره درده ډېر زور غواړي، اوس خیر دی ملالۍ وریندارې ته راشه او د وروستي ځل لپاره د بریالي دیدن وکړه چې بیرون خلک جنازې





ته په تمه دي، هغې دوه سوې سوې چیغې نورې هم وکړې خو په خپل ځای کې وخوزېده او د تابوت په لور یې د تلو هڅه وکړه، ننګیالي رامنډه کړه او د مور له اوګې لاندې یې شو، ژر یې د تابوت سرته وروسته، له ولاړې یې د بریالي په باروتو سوځېدلي مخ ته وکتل، ښایسته بریالی د باروتو اور داسې تک تور کړی و لکه تازه چې دې د سکرو له کانه راویستلی وي، د مخ د ځینو برخو پوستکی یې هم نه و،ملاله پرې ور ټېټه شوه، ننګیالي ته یې ویل:

زویه ته یې دا د تابوت تخته لرې کړه

ژر جانباز او ننګیالي د تابوت تخته لرې کړه

ملالۍ د بریالي په مخ خپل ښی لاس کېښوده، ژړا یې څو چنده زیاته کړه، په مخ یې بې شماره اوښکې روانې شوې، څو شپېبې یې سوې سوې کریغې وکړې او بیا یې په خپل لاس د تابوت تخته بېرته پرې ور کېښوده، ایسته ایسته یې وکتل، په هوسۍ یې سترګې ورخښې کړې، ویې لیدل چې په لوړ غږ چیغې وهي، دومره په لوړ غږ چې آن د کلي په کوز سر کې یې هم خلک خبرول، ملالۍ هوسې ته لاس وخوزاوه، ځان خواته د راتلو اشاره یې ورکړه، خو هغه د بریالي غم په ملا ماته کړې وه، پرته له بې روحه جسده یې نور هېڅ شي ته پام نه و، د ملالۍ زړه په باروتو د سوځېدلي ځوی جسد او نګور سوو سوو چیغو بیخي خپه کاوه، شپېبه په شپېبه یې خپګان ډېرېده، هوسې ته یې غږ کړ، هغه یې خواته را روانه شوه، ویل یې:

ملالۍ مورې څه وایې؟

هغې په ژړا ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هله لوري همت دي له لاسه مه ورکوه، له غیرته کار واخله او راشه د خپل بریالي وروستی دیدن دي وکړه چي کلیوال جنازي ته په تمه دي، هوسي له ولاړې د بریالي مخ ته وکتل چي ټول د باروتو اور سوځولی دي، بیا غلې هماغلته کېناسته

جانباز ویل:

تاسو خو مړی وکوت، نو مونږ به جنازه ویسو، ټولو د سرپه خوزولو سره د هو ځواب ورکړ، جانباز له ښځو لري ولاړو ځوانانو ته هم د لاس په خوځولو اشاره وکړه چي رادې شي، هغوی چي راغلل، بیا یي ویل:

هلکانو جنازه پورته کړئ چي خلک ډېر په تمه دي، تابوت ته ننګیالي او نومیالي هم اوږه ورکړه، کله چي هغوی جنازه پورته کوله نو د شمشاد، ملالې، هوسۍ او نورو چیغې څو برابره زیاتې شوې، فکر به دي کاوه چي ټول کانې، بوټې، دیوالونه او په دې کلي کي شته موجودات خپه دي او د بریالي په مرګ کریغي وهي، هغوی جنازه پورته کړه، وار په وار چیغي ډېرېدې، تر څو چي ځوانانو جنازه له حویلۍ بیرون ویسته، هوسۍ او ملاله دواړه بې هوښه شوې، د کلي ښځې په هغوی ورټولي شوې، ځینو ویل:

نظم یي ونیسي، او ځینو نورو ویل چي د بورې شربت یې په خوله کي وروڅځوئ

جنازه یي هدیرې ته ورسوله، نومیالي او ننګیالي په هدیره کي دومره وژړل چي جنازې ته راغلي کسان یې ډېر له ځانه سره په ژړا کړل





دیني عالم مولوي احساس چي کلونه وړاندي یي ددوی په کلي کي امامت کړی و، د قبر( کَبر ) په سره د وعظ او نصیحت لپاره پورته شو، ویل یي:

وا خلکو! بریالی ډېر نېک هلک و، هروخت به یي لمونځ د کلي په جومات کي په جماعت سره ادا کاوه، صالح ځوان و، د چا په کار کي یي کار نه درلوده، غیرت یي بې جوړې و، په وطن او خلکو یي زړه سوځېده الله ج دې ورته دا کَبر د جنت له باغچونه څخه یوه ښایسته باغچه وګرځوي، بیا یې په هیواد کې روانو ناخوالو ته په اشارې سره ویل:

وګورئ دا څه حال دی، په یوه او بل نامه وژل کېږو، هم مو مړی بې قدره دي او هم مو ژوندی بې قدره دی، ترڅو به مو دا حال وي او تر کومه به همداسې د سپین او تور په نامه وژل کېږو، ګناه مو څه ده، بیا یي ویل:

وخت کم دی زه ډېرې خبرې نه اوږدوم خو دومره وایم چي هره خوا مسلمان، افغان او بیا په ځانګړي ډول پښتون وژل کېږي، د خپلي خبرې د تاید لپاره یي ویل:

د کافرې پښتونخوا پښتون کافر دی
قتل عام یي دی روا پښتون کافر دی

نور یي وروستی دعا وکړه، کبر کیندونکو خپل بېلونه وټنګول او بریالی یي تر انبار خاورو لاندې کړ، ټول خپه روان شول، فکر به دې کاوه چي د وخت شاهان همدا و او کوم رالوتي باد یي پاچاهي ړنګه کړې ځکه ببوا که په لار روان دي، هېچا خبرې نه کولې، د سرو آسویلو غروونه اوربدل کېږي او له خپګانه د هریوه په وچلي دولس بجې وې، مخکې تر دې چي ننګیالی دوی له

(c) ketabton.com: The Digital Library



هدیرې راوګرځي هوسې. په هوښ راغله او ملاله بیا تر ناوختي هماغسې بې هوښه وه، په همدې شپه ملاله، زامن، نګورګاني او لمسیان یې ټول د څرګند په کور کې پاتې شول، پرته له ماشومانو نورو ټولو دا شپه همداسې په آهونو او غم په وینښه تېره کړه، سبا سهار وختي مخ په خپل کور وخوزېدل، هلته نو بیا د حکومت حاکمیت نه و، ننګیالی دوی نه شو کولای چې په جومات کې د خپل وژل شوي ورور بریالي فاتحه واخلي، نیم او نیمکله خپلوان یې کورته راغلل او د فاتحې مراسم یې په کور کې ترسره کړل، د بې وسۍ له امله یې په دریمه ورځ خیرات هم ونکړ.

اته ورځې تېرې شوې، د شمشاد په ګډون ټول د بریالي په غم خپه و، د بریالي مړینه د شمشاد لپاره یو غم، پوهنتون کې غیرحاضري یې بل غم او له سولي بې خبره یې بیا بل غم و چې شپه په شپه یې تشویش ډېرېده.

سولي ته هم شمشاد ډېر یادېده، اندېښنه یې وه چې وضعیت به یې څنګه وي ځکه مور یې ویلي و چې د بریالي د مړینې په ورځ د شمشاد وضعیت سم نه و او ډېرې بدې ورځې یې کولې، خپل ټیلفون یې راواخیسته، زړه نا زړه یې د هغه ټیلفون ته زنګ وواهه، شمشاد ټیلفون اوکې کړ، ویل یې:

بلې سولي سلامونه!

هغې سترې مه شې ورسره وکړه، ویل یې:

شمشاد جانه خدای ج دې بریالي لالا ته جنتونه، تاسې او ستاسې کورنۍ ته دې د زړه صبرنصیب کړي، مرګ حق دی، ټول مرو خو څوک مخکې او څوک وروسته.





هغه ترې مننه وکړه، په ژړغوني غږ یې ویل:

سولي مننه، والا ډېره سخته ده، خدای ج دې چاته د خپل ورور غم نه ور وینې، سرې غوټ په ملا ماتوي، زه مې د لالاګانو مړینې داسې کړې یم چې لاره رانه ورکه ده، اوف یې کړل نور غلې شو

سولي ورته کړل:

اې ! خیر دی ډېره اندېښنه مه کوه، یوازې تاسې خپه نه یاستئ، تاسو سره په دې غم کې ټول کلی او خپلوا ن شریک دي، قسم دی چې زه،هم ډېره خپه یم شمشاد ورته کړل:

پوهېږم سولي، ستا پلار هم زیات زحمت ووېسته، په هماغه شپه چې بریالی لالا مړ شوی واو جنازه یې په کابل کې وه، مونږ ستاسو په میلمستون کې وفتح خان اکا هېڅ ویده نه شو

سولي ویل:

شمشاده ! هره ورځ وژل کېږو ، له مرګه تېښته نه کېږي، بیا یې هی هی کړل

شمشاد زړه غټ کړ، ټوله دنیا یې په خپل غم کې له ځانه سره شریکه کړه، د زړه په زور یې ویل :

نه سولي نه، زه یوازې نه یم، د مرګونو لړۍ روانه ده، دا د هر کور کیسه ده، هر ځوان همداسې ورونه لري، مور لري، خویندې لري، میرمن لري، اولادونه او خپلوان لري، هره ورځ په ګڼو کورونو کې همدا حال دی، له څلورو پېړیو راهیسې د یوه او بل په نامه وژل کېږو، وینه مو ارزانه ده د سولې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې، ویل یې:

هو داسې خو ده، هېڅ کورنۍ بېغمه نده او روانو بدبختیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅوک بې داغه نه دي پرېښې خو بريالی لا ځوان و، د مرګ وخت يې نه، الله ج دې ورته هغه دنيا ګُل او ګلزار کړي، شمشاد زړه غټ کړ، سولې ته يې ويل:

مونږ او زمونږ په څېر د ګڼو کورنيو ژوند له همداسې زړه بوږنونکو تراژيديو او پېښو سره ملګرتيا کوي، اوږه په اوږه ورسره مخ ته ځي، کاش، زما د ورور مړينه وروستۍ شي، کاش بيا تورسرې مېرمنې د خپلو خاوندانو او سپين سرې مورګانې د خپل اولادو داغ ونه ويني، له غمه يې دنګې ملاګانې راکوپې نه شي، بيا يې اوف کړل چوپ شو سولې ورو ويل:

افسوس زمونږ په حال، چيرته چې د جګړې ميينان وي، چيرته چې د انسان وينې خپل ارزښت بايلې وي او چيرته د زورورو اوبه په بره روانې وي هلته به هره ورځ همدا حال وي، د يوې مور کمزوری زړه به اور اخلي، يوه ځوانه ميرمن به د خپل خاوند په تابوت اوښکې تويوي، د يوې خور له سترګو به د اوښکو په ځای وينې روانې وي، يو ورور به د خپل مټ د غوځيدو غږ اوري او يو خوږ ملګری به په بل ملګري خاورې اړوي او په ابدي سفر به يې لېږي.

شمشاد ته ځمکې ځای نه ورکاوه، ويل يې:

برياليه وروره ته په ما څومره ګران وې، کاش مخکې زه پوهېدلی چې نه شتون دې دومره سخت دی، بيا يې اوف کړل ويل يې:

ځوانيمرګه وروره ستا دردونه مې حس کړل، ته چې تللی يې شپه او ورځ راباندې داسې تېرېږي لکه د اور په تبخې چې ولاړ يم، غم دې دومره دروند دی چې ملا يې راماته کړه، ټول عالم





راسره ژاړي خو ستا د غم په راکمولو کې راسره هېڅ مرسته نه شي کولای، سولې ويل:

شمشاده ډېر غمونه مه کوه، هسې هم ډنګر يې دا غمونه به دې نور هم کمزوری کړي، هغه ايسته وکتل بيا يې هغه وخت ور په زړه شو چې په مازديګر کې يې د بريالي جنازه خاورو ته سپارلې وه، ويل يې :

پـه تور مابنـام دې کـډې بـار کـړې
پـــه تـــور مابنـــام د مـــرورو کـــډې ځينـــه

سولې ته يې ويل:

اې ! ازمويني هم راورسېدې، زه خو په جنازه او دواړو کې بند شوم، نه مې درس ويلی او نه خبر يم چې ازمويني کله او څه وخت دي نو ته دې درسونه وايه، زه هم اوس کار لرم، مينه درسره لرم، ښه وخت ولرې.

هغې ورته ويل:

سمه ده خو ته دې ډېر په ځان پام کوه
پنځه ورځې نور هم شمشاد په کور کې و،
څوک به دعا ته راتلل او څوک به تلل

بله ورځ يې ټولګيوال ملګري مرجان ورته زنګ وواهه، شمشاد ته يې ويل:

همت مو د زمري او صبر مو لکه د کرکر غر شه، بريالی لالا دې الله ج جنتي کړي، درې ورځې وروسته د پوهنتون ازمويني دي، لومړۍ ازموينه مو هم د ادبي فنون ده، چمتووالی دې ونيسه، شمشاد ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرجانه ستا دې کور ودان وي، سمه ده زه ډېر بوخت یم خو کوښښ به وکړم چې لږ درس ووایم او ځان له ناکامېدو خلاص کړم

د ازموینې په ورځ شمشاد پوهنتون ته لاړه، په سولې یې سترګې ولګېدې، ډېرې ورځې یې هغه نه وه لیدلې، که څه هم د ورور مړینې له هرڅه ویستلی و خو له سولې سره یې په مینه کې کمی نه و راغلی، هغې ولیده، خواته یې راغله ستړې مه شې یې ورسره وکړه

سولې ویل:

شمشاده څنګه یې، درس دې ویلی، ازموینې ته چمتو یې؟

هغه ورو ویل:

هو لږ لږ درس مې ویلی خو ډاډه نه یم چې له کومه ځایه به پوښتنې راشي، دواړه له ټولګي بېرون او د پوهنتون د انګړ په لور روان شول، سولې ویل:

اې ! ځان دې څومره ډنګر کړی دی، بې خوبي خو به دې ډېره نه وي کړې؟

شمشاد ځواب ورکړ:

نا سولې، د ازموینې غم یوخوا او د بریالي لالا د مړینې غم بله خوا، بیخي یې له خوبه ویستلی یم، شپه او ورځ مې د لالا په اړه فکرونه کوم، بیا یې ویل:

ازموینه به ورکړم خو ښایي چې پوهنتون رانه پاتې شي، دا لګښتونه به له کومه کوو، د کور جنجال یو خوا او د پوهنتون بله خوا





سولې ورته ویل:

غلې شه، هرڅه درسره منم خو دا خبره درسره هېڅ نه منم چې ته وایې د اقتصادي ستونزو له امله پوهنتون پرېږدم، بیایې هغه ته کړل:

اې دا زه د څه شي لپاره یم چې ته به پوهنتون خوشې کوې؟

د فتح خان ځمکې ډېرې دي، زه یې یوه لور یم، کومې پیسې چې ماته د درس ویلو لپاره راکوي د دواړو چاره پرې کېږي، هېڅ غم ونه کړې، بیا یې نېغ نېغ شمشاد ته وکتل چې په رنګ کې یې وینه وغړېده، ویل یې:

که نور هرڅه خلاص شول نو پلار مې راته یو لک روپۍ څو ورځې وړاندې طلایي لاکټ واخیسته هغه به خرڅ کړم او پیسې به یې تاته درکړم

شمشاد غلی شو، ویل یې:

سمه ده سولې وبه ګورو چې څه کېږي

سولې خپلې دواړه سترګې د شمشاد لیدو ته څلور کړې وې، رډ رډ یې ورته کتل،

ویل یې

شمشاده ته وګوره چې زه څومره ډنګره شوې یم؟

هغه نېغ نېغ ورته وکتل، ویل یې:

وبښه زما خو هېڅ پام نه و، خپلو غمو کې ډوب وم، رېښتیا ته ولې دومره ډنګره شوې یې؟

هغې وخندل، شمشاد ته یې کړل:

ته څه فکر کوې چې ولې به دومره خرابه شوې یم؟

شمشاد غلی شو، ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ډنګره شوې یې خو له خپلې پخوانۍ شوخۍ نه یې پاتې، زه نو څه پوهېږم چې تا ولې د خپل ځان خوښې کمې کړي دي؟

سوله مسکۍ شوه ویل یې:

نور نو ستا سوله پرته ستا له غمه څه غم لري، بیا یې دا ټپه د کلمه کړه:

چې مړوندونو کې مې تنګ و
هغه بنګړي مې اوس څنګلو ته راځینه

شمشاد روان شو، سولې د خپل ښي لاس د دوه ګوتو په خوزولو سره له شمشاد سره مخه ښه وکړه.

د پوهنتون ازمویني روانې وې، سولې شپه او ورځ په ځان یوه کړې وه، درسونه یې ویلې، هڅه یې داوه چې په ټولګي کې یا خپله او یا یې مین شمشاد اول نومره شي خو شمشاد د کور په کارونو کې دومره بوخت و چې د ازموینې په شپه به یې دوه درې ساعته د ازموینې چمتووالی نیوه، هر استاد به چې د خپلې اخیستې ازموینې نومرې اعلانولې نوتر ټولو لوړې نومرې به پکې د شمشاد وې.

بله ورځ یې هغو ټولګیوالو چې په خپل سر کې د اول نومره کېدو نیت درلوده په ټولګي کې ویل:

شمشاد تکړه نه دی هسې استادان ډېرې نومرې ورکوي

بل ټولګیوال یې ودان ویل:

زه پوهېږم چې ولې استادان شمشاد ته ډېرې نومرې ورکوي؟

د ودان خبرې نه وې خلاصې چې شاهد پرې راغبرګ کړ:

هلکه چې دومره پوهیږې نو ولې یې نه وایې مونږ دې په سل رقم شک کې اچولي یو؟





ودان خوله خلاصه کړه، ټولو ټولګیوالو یې د سولې په ګډون غوږونه چچ ونیول چې هغه به اوس څه وایي؟

ودان ویل:

شمشاد ډېرې اقتصادي ستونزې لري او ورور یې هم څه موده وړاندې مړ شو، استادان ددې لپاره زیاتې نومرې ورکوي چې دا هلک وهڅول شي او پوهنتون بس نه کړي کنه نور خو چندان تکړه نه دی

د شمشاد نژدې ملګری مرجان چې له مزاجه شوخ طبیعته و کټ کټ یې وخندل،

بیا یې ټولو ته ویل:

هلئ چک چکې وکړئ، هلئ ژر کوئ، ټولو لاسونه وپړکول، مرجان بیا په خندا شو ویل یې:

شمشاد له ښوونځي هم اول نومره فارغه شوی دی، نومرې څوک خیرات نه ورکوي، هسې مو ګډې وډې خبرې پیل کړي دي، تختې ته یې ډب ورکړ، په غوسه یې ویل:

تاسې د یو چا وړتیا نه شئ زغملی، وغواړئ که ونه غواړئ هغه هلک استعداد لري، خیر دی چې د خان زوی نه دی او پلار یې ډېره ارګاه او بارګاه نلري خو ښه استعداد، خندانه څېره او پاک زړه خو لري د خدای ج ظالمانو نور دا کیسې پرېږدئ، ودان په خپله چوکۍ کې ودرېده چې خبرې پیل کړي خو په دې وخت کې شمشاد ټولګي ته راننوت، ټول غلي شول، چا آه هم ونه کړ، حیران شو، ویل یې:

څه خبرې مو پیل کړې وې، لکه چې زه پردی یم او مانه یې پټوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودان چې مخکې يې د شمشاد د ډېرو نومرو اخيستو په غبرگون کې خبرې کولې مسکی شو، په ټولگي کې يې ټولو ټولگيوالو ته وکتل چې ټول غلي ناست دي او هېڅ نه وايي، ويل يې:
شمشاده ! هلکان د ازموينې غم وړي و، زړه مې پرې بد شو، يوه ټوکه مې ورته وويلې چې لږ خوشاله شي هسې خو يې هم د نومرو غم لړمونونه وراسته کړي دي، تر څو چې شمشاد څه ويل مرجان په کړس وخندل خو ودان اشاره ورته وکړه چې د نومرو په اړه دې هېڅ هم نه وايي، مرجان ويل:
شمشاده ! ودان ماته په ډېره وړه خبره داسې غوسه و چې هېڅ نه غلی کېده خو ته چې ټولگي ته راننوتې لکه په اور چې اوبه تویې شي غلی په خپل ځای کې کېناسته، گوره ورته له تیرې غږ وځي له ده نه، شمشاد ورو وخندل ويل يې:
نېکبختو زه خو څه د چا پلار یا مشر ورور نه یم چې رانه وډار شئ
دوی په همدې خبرو کې و چې استاد ټولگي ته راننوت او ازموینه پیل شوه
ازموینې پای ته ورسېدې، یوه اونۍ وروسته تدریسي مدیر شمشاد ته زنگ وواهه، ويل يې:
هلکه تاته دې مبارک وي، اول نومره شوی يې او په ټول پوهنځي کې لوړه فیصدي ستا ده
هغه ژر منډه کړه، په خندا خندا يې ملالې مور ته غېږه ورکړه، ويل يې:
ادې ! مبارک مبارک مبارک





زه په پوهنتون کې اول نومره شوی يم، تر ټولو لوړې نومرې زما دي، ننگيالي او نوميالي د مبارکي تر څنگ شمشاد ته غېږه ورکړه، نور يې هم وهڅاوه، د ملالې لپاره په تېره څه باندې يوه مياشت کې ترهرڅه زياته د خوشالۍ ورځ همدا وه.
شمشاد خوشاله خوشاله هره خوا تاوېده، دومره خوښ و لکه د پاچاهي باز يې چې په سر ناست وي، سوله ور په زړه شوه، بيرون ووته، د هغې شمېره يې په خپل ټيلفون کې ونيوله، سولې ټيلفون اوکې کړ، ويل يې:
بلې سلامونه زما شمشاده ستړی مه شې
شمشاد ځواب ورکړ، خندل يې
سولې ورته ويل:
نن ډېر خوشاله ښکارې څه خبره ده؟
ويل يې:
ليونۍ ! زه ستاسې اول نومره شوم ماته مبارکي راکړه، لوړې نومرې مې خپلې دي
سولې او کړل، بيا يې ويل:
اې ! ته رېښتيا وايې؟
شمشاد ځواب ورکړ چې هو رېښتيا وايم، هغې مبارکي ورکړه خو شمشاد ويل:
لس ورځې وشوې ته مې نه يې ليدلې، بيخي درپسې خپه شوی يم، سولې په ټيلفون کې مې ستا هغه تصوير ته گورم چې د پوهنتون په انگړ کې مو د ټيلفون په سلفي کمره اخيستی و.
اې ! ته پوهېږې سولې، تصوير ته چې دې گورم لامکاني خبرې راته کوي او د ونو د پاڼو په څېر د خپل مينتوب گڼې خاطرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپه زړه کوي
سولې ! ستا نه د لرې والي او د يوازېتوب سکوت مې هم د تصوير په بيا بيا کتو د صبر کورګی ړنګوي، ګوره ته خو رانه لرې يې خو انځور دې زما د سترګو په نينې ګک کې برجونه درولي دي او د مينې جنګيالي پکې ستا د حسن دنيا ساتي
سولې ښاا کرل خو شمشاد بيا پرې ور غبرګ کړ ويل يې:
واپه ماميينې !
د يادښتونو په يادېدو سره دې نوره هم زما د زغم کېږدۍ مظبوطيږي، نه غواړم د سکوت طلسم مې مات کړم
سولې ورته وخندل ويل يې:
په خبروکې دې دومره هنريت پروت دی چې بيخي په انسان اغېز کوي، ته څومره تکړه يې، توري داسې سره اوبدې لکه کلونه چې دې ليکوالي کړې وي، بيا يې ويل:
ګوره ستا يادونو څومره ډنګره کړې يم خو ته بيا برعکس زما تصوير ته په کتو خپلې تجربې پخوې او داسې خبرې دې د ذهن په کتاب کې ليکې چې عواطف راپاروي
شمشاد ويل:
نانا سولې داسې نده خو سولې يې خبرې ور پرې کړې او ورته ويل يې:
غم دې په غم پسې زياتيږي
زه دې نور غم په غم کې نه حسابومه
شمشاد ارشاد کړل خو هغې ويل چې همدا يوه ټپه يې په ذهن کې وه





بې پامه سوله له شمشاد سره د مينې او ميينتوب په خبرو بوخت وه چې مور يې پرې راغله، د سولې خبرې يې واورېدې چې له شمشاد سره ښه په خوند غږيږي، ورسره کيسې کوي او يو له بله سره د زړه خبرې شريکوي، د سولې يې چې مور ته پام شو ژر يې ټيلفون پرې کړ، مخکې تر دې يې چې مور ترې پوښتنه وکړي رنګ يې سور او سپين واوښته، ويل يې:
ادې شمشاد راته زنګ وهلی و، د درسونو په اړه يې راته خبرې کولې، خو مور يې سترګې پرې را ايستلې وې او رډ رډ يې ورته کتل، سولې هڅه کوله چې ځان سپين ثابت کړي خو مور يې هېڅ نه ويل، سترګې يې پرې ګنډلې وې او په تروش تندي ورته ولاړه وه، سولې چپ شوه، مور يې په غوسه ويل:
ته مې څومره پاکه ګڼلې خو ستا په اوړو کې هم شګه راووته او د پوهنتون په لومړی کال دې د مينې تارونه زغلولي دي، که همداسې روانه واوسې د فتح خان نوم به د خاورو سره خاورې کړې، په کلي کې به چاته کتلی ونه شو.
سوله په ژړا شوه، ويل يې:
مورې ما له شمشاد سره د خپلو درسونو په اړه خبرې کولې خو ته چې دومره په ما بې باوره يې او شکونه راباندې کوې اړه يم چې پوهنتون پرېږدم، مور يې غلې شوه او سوله په تريو تندي له کوټې بيرون شوه
ورځې همداسې تېرېدې، ورو ورو پوهنتونونه پيل شول، دا سمستر په دومره تودې هوا کې پيل شو چې ټولګي کې به په ټولو ناستو نجونو او هلکانو خولې راماتې وې او د هر استاد تر درس وروسته به نجونو او هلکانو هڅه کوله چې له ټولګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرون ووځي ، بله ورځ د رخصتي په ساعت کې شمشاد او سوله سره د پوهنتون په انګړ کې ودرېدل، شمشاد ویل:

ښه شو چې دا پوهنتون خو پیل شو کلي کې مې بیخي طاقت نه کېده، بیا یې ویل:

پوهنتون خو ښه ده خو هوا دومره توده ده چې بیخي انسان له پوهنتونه زړه توری کوي، په کاغذي دستمال یې د خپل مخ خولې پاکې کړې، سولې ته یې وکتل، کټ کټ په خندا شو

هغې ویل:

ولې خاندې خبره څه ده شمشاده؟

هغه لږ مسکی شو، ویل یې:

اې ! دومره خولې درباندې را راواني دي چې آن کالي دې ټول لامده شوي دي ستا خو هېڅ ورته پام نه دی، سولې خپلو کالیو ته وکتل ویل یې:

ته اوس دا خبرې پرېږده، یو وخت مې اورېدلی و چې په ژوند کې باید داسې یو ملګری انسان پیدا کړې چې د هېنداري او سیوري په شان وي هغه ځکه چې هنداره دروغ نه وايي او سیوری دې یواځې نه پرېږدي

شمشاد لومړی غلی شو، بیا یې ویل:

اې ! نو داسې انسان کله پیدا کېږي وا سولې؟

سوله په خندا شوه په ځیر ځیر یې شمشاد ته وکتل، ویل یې:

شمشاده ته د هنداري او سیوري په خبر یې راته، نه دروغ راته وایې او نه مې یوازې پرېږدې، هغه امم کړل، په خندا شو سترګې یې یوخوا او بل خوا واړولې، د پوهنتون په انګړ کې یې





ټول وخارل چې څوک یې په څنګ کې ولاړ نه وي، بیا یې سولې ته ویل، یوه شاعر ویلي:

**ځان رانه ورک و، پوهېدم نه چې زه چېرته یمه**
**تانه مننه، ته چې راغلې ځان مې بېرته وموند**

سولې او شمشاد ددې ورځې خبرې همدلته پای ته ورسولې او ځانونه یې یو د بل په دیدن ماړه کړل

ننګیالي له نومیالي او شمشاد سره مشورې پیل کړې چې څه وکړي؟ نومیالي ویل:

زه د واده کولو په نیت راغلی وم خو د بریالي لالا تر مړینې وروسته مې له ځانه سره پرېکړه کړې چې بېرته ایران ته لاړ شم، خواري او مزدوري وکړم څو پیسې راولېږم او تاسو د کور روزګار پرې وچلوئ، شمشاد غلی ناست و، هېڅ یې نه ویل، ننګیالي ویل:

نا نومیالیه نا! ته څو کاله له کور او کلي لرې وې، په ایران کې دې سخت کارونه وکړل او مونږ په کور کې ناست و ستا رالېږلې پیسې مو نوش جان کولې، اوس نوبت زما دی چې کار وکړم او پیسې راولېږم چې د کور اړتیاوې پرې پوره کړو

شمشاد په خپل ځای کې وخوزېده له ټوکو یې ویل:

تاسو پیسې رالیږئ شمشاد به یې مصرفوي، بل وار لخیره زما نوبت دی چې پیسې وګټم او تاسو پرې د کور اړتیاوې پوره کړئ

نومیالي غلی شو، هېڅ یې ونه ویل خو ننګیالي ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاده ! تاته لا ډېر وخت شته، لومړی دې درسونه خلاص کړه او بیا د پیسو ګټلو فکر ته دې په سر کې ځای ورکړه، اوس ددې وخت نه دی چې درس دې پرېږدې او پیسې وګټې

نومیالي ویل:

که ستاسو خوښه وي، ملاله مور به راضي کړم او زه به لخیره همدې اونۍ کې ایران ته وخوزېږم، ننګیالی په خپل ځای کې ودرېده، یوخوا او بل خوا یې وکتل، ویل یې:

نومیاله ورورکه ته دې ورو ورو د واده تیاری وکړه، شمشاد به یې هم همداسې خپل درسونه ووایي، په ټولګي کې به اول نومره وي، زه به لاړ شم ملي اردو ته

شمشاد په خپل ځای کې ودرېده، ویل یې:

لالا ته هم ځې ملي اردو ته؟

ننګیالي د سر په خوزولو سره د هو ځواب ورکړ

هغه په ډېره حیرانتیا ویل:

لالا له لوږې نه مړه کېږو، زریالي، توریالی او بریالی لالا د وسلې شوقیان و ګوره چې دربواړه مړه شول، هغو خپله لاره ونیوله، سترګې یې پناه کړې، غم یې ملالې ادې، مونږ، خپلو ماشومانو او میرمنو ته پرېښوده، زما خو له زړه وینې څڅېږي، اوف یې کړل نور غلی شو، نومیالي ویل:

د بریالي لالا مړی له پردي کوره خښ شو، زړه مې قلم قلم دی، هېڅ ویلی نه شم، اوف څه وکړو نو

شمشاد چې له وسلې یې زړه تورو او درې ورونه یې په ګولیو سوري ورته بې روحه راوړي و، ننګیالي او نومیالي ته یې وکتل، بیا یې ویل:





هاغه نظر اوس په هغو سترګو کې پاتې نه شو
نه ځو زړګیه نه ځو نور په دغه لاره نه ځو

د شپې یې په کور کې یې خبرې تاو راتاو کړې، ننګیالي ویل:

مورې درې ورونه مې مړه شول، مېرمنې او اولادونه یې پاتې شول، دوی ته روزي پیدا کول آسانه کار نه دی او نه هم دا پیسې دلته په کلي کې پیدا کېږي، وریندارګانې یې د ننګیالي خبرو ته ځیر وې، ټول چوپ شول، مور یې ملالۍ ویل:

څه وکړونو الله ج راوستې ورځ ده، چاره نلرو، وچه او لمده به خورو او خپله ګوزاره به پرې کوو.

نومیالی ورو په خپل ځای کې وخوزېده، په کوټه کې ناستو ورونو، وریندارګانو، وریرو او مور ته یې وکتل چې غلي ناست دي ورو یې ویل:

څه وکړو او چېرته لاړ شو؟

شمشاد ژر ویل:

ولې تا او ننګیالي لالا خو په خپلو کې ښه مشوره وکړه نو اوس ولې وایئ چې څه وکړو او چېرته لاړ شو؟

د ملالۍ شاته بالبنت ایښی و، په خپل ځای کې یې ځان رانېغ کړ، په غوسه غوسه یې ننګیالي او نومیالي ته وکتل، په تُنده لهجه یې پوښتنه وکړه:

هلکانو ! شمشاد خو به دروغ نه وایي تا سو څه تصمیم نیولی؟

نومیالی غلی شو ویل یې:

ادې هېڅ تصمیم مو نه دی نیولی خو ننګیالي ورو ورو خبرې پیل کړې، مور ته یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادي ګوره پوله او پټي نلرو چې په شمشاد پوهنتون ووايو ، کونډې او يتيمان وساتو او خپله هم په کور کې کينو ، له خلکو پوروړي کېږو

ملاله لومړی غلې شوه ، بيا يې ويل:

نو څه کوئ، څه مو له وسه کېږي، خير دی شولې او غنم به کرو ، پردې ځمکې به په اجاره ونيسو ، ننګيالی يې د مور په ځواب کې ويل:

مورجانې کاش يو غم واي، نوميالي کلونه په ايران کې تېر کړل، د کوژدې يې دوه کاله وتلي دي، بايد هم د روزګار غم وکړو او هم دده د واده، تر څو به پردۍ لور دده په نامه د پلار په کور کې ناسته وي؟

ملالې ويل:

ننګيالي به بيا کوم ليونی پلان له ځانه سره جوړ کړی وي، اړتيا نشته چې د هغه په اړه له مونږ سره مشوره وکړي، ننګيالی په خپل ځای وښورېده، رډ رډ يې ملالې مور ته وکتل، شمشاد او نوميالي ته يې د خپلو خبرو د تايدولو لپاره سترګه ووهله، ويل يې:

مورجانې ! تر څو به پردۍ ځمکې په اجاره نيسو ، په شولو او غنمو کې هم دومره ګټه نشته چې خپل روزګار پرې مخ ته ويسو او هم د نوميالي واده پرې وکړو نو که ستا او د ټولې کورنۍ خوښه وي زه غواړم چې د بريالي لالا په ځای ملي اردو ته لاړ شم؟

وريندارګانو او مېرمنې يې چې د ننګيالي خبرې واورېدې لاسونه يې په خپلو خولو کېښودل، حيرانې شوې، اوربۍ په خپل





ځای کې غونچه کېناسته، هېڅ يې نه ويل په تمه وې چې د ننګيالي ددې خبرو په غبرګون کې ملالۍ څه وايي؟

ملالې تندی تريو کړ، له سترګو يې اوښکې راغلې، ويل يې:

تاسو نو ما وژنئ، زړه مې غمونو وخوړ، سترګې مې د پخوا په څېر ديد نه کوي، د بريالي تر مړينې وروسته مې ګوره ملا نوره هم راکوپه شوې، ورځ تر بلې کمزورې کېږم، په دوه درې کلونو کې مې درې زامن ځوانيمرګان شول، د ملالې خبرې چې خلاصې شوې د څو شېبو لپاره هېچا په زوره خپله ساه هم نه وېسته، يوه بل ته کتل، د خبرو کولو جرات په چاکې نه و ، فکر به دې کاوه چې په کوټه کې بې روحه بوتان اېښودل شوي، سا په چاکې نشته، ځکه خبرې يې نه کولې

تر څو شېبو وروسته ننګيالي ويل:

مورې زه به ملي اردو ته لاړ شم خو ژمنه مې داده چې جګړو ته نه ځم او په کومه اداري شعبه کې خپله دنده مخ ته وړم

نوميالي ويل:

که په شعبه کې دنده کوې بيا خو خطر نشته لاړ شه خو جګړو ته که ځې اجازه نه درکوو ، د بريالي کونډې هوسۍ سوړ آسويلي ووېسته، ويل يې:

نا نا اورۍ خورې که دې ياد وي بريالی هم چې ملي اردو ته روانېده ژمنه يې وکړه چې جګړو ته به نه ځي خو هغسې ونه شو ، ملالې خپل سر په زنګنو ايښی و ، د هوسۍ خبرې چې خلاصې شوې سر يې له خپلو زنګنو پورته کړ، ويل يې:

اه خدايه ج ! د زړه صبر راکړې، دا څه اورم او څه وکړم؟

د ملالې زړه نه غوښتل چې ننګيالي ته اجازه ورکړي څو ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اردو ته لاړ شي خو نیستي او ناداري دا هم اړه کړه څو د ننګیالي ملا ور وتړي او ملي اردو ته یې روان کړي، ملالې ټولو ته وکتل، په ننګیالي یې سترګې ورخښې کړې، ویل یې: زویه ! نور زه د غم زغم نه لرم، ملي اردو ته لاړ شه خو چې د بریالي په څېر جګړو ته لاړ نه شې

شمشاد ، ننګیالي او نومیالي لاسونه وپړکول، دوی درېواړه خوشاله شول چې مور یې ملي اردو ته د تلو اجازه ورکړه خو د اورېې هېڅ زړه نه و چې د هغې خاوند دې ملي اردو ته لاړ شي.

ننګیالي ویل:

مورې سبا به د ملي اردو فورمه د جلب او جذب له مرکزه واخلم او بله ورځ به لاړ شم، ملالې د سر په ښورولو ننګیالی پوه کړ چې سمه ده

د همدې شپې په سبا اورېې ننګیالي ته ډېر زارۍ وکړې چې ملي اردو ته دې نه ځي خو هغه ټینګار کاوه چې په کروندو کې ګټه نشته او یوازې ملي اردو ته په تګ سره کولای شي چې د کور اړتیاوې پوره کړي، دا ورځ او شپه هم تېره شوه، سهار وختي هغه ملي اردو ته د تلو په نیت روان شو ، د ننګیالي دوی روزنیزه دوره د بلخ ولایت په شاهین قول اردو کې وه.

سولې ته په نیمه شپه شمشاد ور په زړه شو ، آن دومره چې د کوټې دیوالونه ورته ویرونکي ښکارېدل، د کوټې چت ورته د هجر پیغورونه ورکول، په خپل ځای کې اړخ په اړخ واوښته خو خوب ورنغی، ټیلفون یې واخیسته، غوښتل یې شمشاد ته زنګ ووهي خو هغه ورته ویلي و چې د شپې له خوا خبرې نه شي کولای، پیغام لیکل یې شمشاد ته پیل کړل،





په پیغام کې یې ولیکل اې ! نه غواړم هېر مې شې او نه هم دا غواړم چې د فراق درد دې ډېر په ځان تېر کړم، د پوهنتون د رخصتیو پای ته یې په اشارې ولیکل:

ورځې لنډېږي او اونۍ هم راباندې ژر ژر تېرېږي هغه ځکه چې د راز او نیاز د شریکو وخت په نژدې موده کې راتلونکی دی، ښایي د بېلتون دیوال مو د وخت په یوه څپېړه ونړېږي او په پوره مینې دواړه سره یوځای شو او په مړه ګېډه زه ستا او ته زما دیدن وکړې.

بې تا مې رڼې ورځې تیارې او تیارې شپې مې د ګور په څېر دي درې ورځې وروسته د شمشاد دوی دوهم سمستر او د ننګیالی دوی روزنیزه دوره په یوه وخت پیل شوه، شمشاد او سولې په پوهنتون کې سره کیسې وکړې، څه موده یې یو او بل سره نه و لیدلی، سولې شمشاد ته ویل:

اې ته بیخي خپه ښکارې څه شوي دي؟

هغه ویل:

لالا مې ننګیالی ملي اردو ته روان شو ، له بدې ورځې لاړه ډېر ورته خپه یم.

سولې ویل:

خیر دی، په هغه به هېڅ نه کېږي، اندېښنه مه کوه، بیا یې له شمشاد پوښتنه وکړه، اې تا ولې اول راته دا خبره ونه کړه چې لالا مې ملي اردو ته لاړ، اخر دې زه اړه کړم چې څو ځله درنه ستا د خپګان په اړه پوښتنه وکړم؟

شمشاد په ځواب کې ورته دا بیت دکلمه کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خاموشي مې ګرانې ټوله ځواني وخوړله
ګوره په زړه مې کیسې وې درته کولې مې نه

وختونه همداسې تېرېدل، د سولې دوی دا سمستر هم پای ته ورسېده او ازموینې یې ورکړې په دې ازموینه کې بیاهم شمشاد اول نومره شو

منی شو، ننګیالي هم د ملي اردو روزنیز ه دوره پای ته ورسوله او د هیواد په سویل لویدیځ زون کې یې دنده پیل شوه

ننګیالي د شمشاد ټیلفون ته زنګ وواهه، په کور کې یې د ټولو غټو او وړو پوښتنه وکړه، بیا یې ویل:

شمشاده ملاله مور څنګه ده؟

هغه ویل:

اوس شکر ښه ده، بیخي ډېره ستا اندېښنه کوي، ته دې په ځان ډېر فکر کوه، دوه شپې وړاندې یې هم بیخي ډېر یادولې، له مایې پوښتنه وکړه چې ننګیالي خو به زنګ نه وي درته وهلی

بیا یې ویل: لالا ملاله ادې دې په خوله خو اوږي، وریندار دې په زړه کې یادوي،بیا یې په کړس کړس وخندل ننګیالي ته یې ویل:

په مینتوب واده کول او بیا د لومړي ځل لپاره دومره اوږده جدایي کنه ډېره سخته ده

شمشاد غوښتل خبرې اوږدې وکړي خو ننګیالي یې خبرې ورپرې کړې، هغه ویل:

غلی شه تانو پیدا کړه دا خبره

شمشاد ویل:

نومیالی غواړي موټر واخلي، له ښاره به کلي او له کلي به کلیوال ښار ته بیایي او دومره پیسې به پیدا کوي چې د کورنۍ





یوه برخه اړتیاوې پرې پوره شي

ننګیالي لومړی چوپ شو، بیا یې ویل:

سبا لخیره دیرش ذره افغانۍ درته درلېږم نومیالي ته یې ورکړه چې موټر پرې واخلي، نور یې سره مخه ښه وکړه.

د همدې ورځې په سبا شمشاد د کلي کوز سر ته روان شو، منی و، د ونو پاڼې د طلا په څېر تکې زېړې شوې وې، طبعیت عاشقانه و، سوله ور په زړه شوه، هغې ته یې زنګ وواهه، تر جوړ پخیر وروسته یې ویل:

اې! طبعیت څومره ښکلی شوی، هرڅه شته خو یوازې ستا د دنګې ځوانۍ، الف قد، خماري سترګو او مارډوله تورو زلفو دیدن نشته، ښانګې! باور وکړه زه بیخي درپسې خپه شوی یم، آن دومره چې د ونو د پاڼو په څېر مې څېره زېړه پېړه شوې ده، هڅه کوم چې زړه مې ټکور کړم خو ستا یاد مې داسې په زړه منګولې ښخې کړي چې د ټولو هڅو سره مې هم بیا په پرېکړه کې پاتې راځم او ته بیا زما د زړه د پرېکړې خلاف نوره هم ډېره یادیږې.

سولې لومړی شمشاد ته ډاډګېرنه ورکوله، ویل یې:

د ملک فتح خان د لور خپلول آسانه کار نه دی، زغم او صبر ولره، وخت به هرڅه سم کړي، بیا یې ویل:

که ما وپوښتې ته به وتښتې ځکه چې تر تا زه ډېر دردونه لرم، یو ډول د نهیلۍ احساس کوم، اې !

زه لکه د مني پاڼه ورو ورو مخ په وچېدو یم او ته هم لکه سیم د ځوانۍ غرور نرى کړى یې، بې تا دې نه شم خوږه غم مې له غروره او زغم مې له معصومیته یو بل غاړه او غېږ نه ورکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوف تر څو به زه دلته او ته هلته له جدایي کړېږې، په یاد به مې شپې سبا کوې، خدایه ج صبر راکړې.

شمشاد ویل:

سولې ته هم ډېر زړه مه خوره، دوه درې کاله وړاندې مو دیوځای کېدو هېڅ تمه نه وه، اوس خو په پوهنتون کې سره ګورو او ښه خبره بیا داده چې په ټیلفون خومو بندیز نشته، سولې هېڅ ونه ویل، ټیلفون یې نور هم غوږ ته نژدې کړ خو خبرې یې ونه کړې،

شمشاد ویل:

مینتوب مې ورځ تر بلې په روحي خپګان بدلېږي، نه غواړم چې روحي خپګان مې ددې لپاره کم کړم څو له تا سره مې مینه کمه شي، په موسکا یې دا بیت دکلمه کړ.

بس یوه د مینې کلمه راته رایاده ده
ژوند ستا سلګۍ سلګۍ کیسه راته یاده ده

سولې خپه وه، د زړه په زور یې وخندل ویل یې:

زما او ستا د یوځای کېدو لوی لامل زده کړې دي، که دې پوهنتون ووایې او همداسې لا ښه وځلېږې نو په آسانه به مې خپله کړې

هغه په خندا شو، ورو ویل:

سولې ته رښتیا وایې؟

هغې هو کړل او ددې ټېپې په ویلو سره یې شمشاد ته د یوځای کېدو پیغام ورکړ





دا وایه وایه سبق وایه
چې لوی سړی شې مابه تاته درکوینه

نومیالې سراچه ډوله موټر واخیسته او سورلې به یې پکې ښکته او پورته وړله، ژوند یې که څه هم ډېر ښه مخته نه ته خو ګُزاره یې پرې کېده، لاس یې چاته اوږد نه و، د ژمي په سړو ورځو کې یې موټر وچلاوه، او هڅه یې داوه چې پیسې پیدا کړي څو د را روان پسرلي په دوهمه او یا وروستۍ میاشت کې خپل واده وکړي.

پوهنتونونه پیل شول، د پوهنتون په دوهمه ورځ سولې او شمشاد وروسته تر اوږدې جدایي یو د بل دیدن وکړ، دواړو سره سترې مه شي وکړه، د ټولګي په یوې څنډه کې سره کېناستل، شمشادد سولې په څېره خپلې سترګې وګنډلې، رډ رډ یې ورته کتل:

ویل یې:

اې ! بیخي درپسې خپه شوی وم، یادېدې مې شکر چې پوهنتون پیل شو

هغې ویل:

شمشاده! مشرانو ویلي چې د صبر ونډې درنې وي نوکه ما او تا صبر نه وای کړی دلته به مو څنګه اوس سره کتلی وای، د هغه لیدو ته یې دوه سترګې ځلور کړې، په ځېر ځیر یې ورته وکتل، بیا یې په خندا ویل:

کاشکې ژمی هم پوهنتونونه ته رخصت کیدلی، په وړیا او آسانه به مو سره دیدنونه کول، بیا یې په ټولګي کې ښکته او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته وکتل چې هېڅوک نشته، له سترګو یې اوښکې راغلی ویل یې:

**مینتـــوب یـــم داســـې حـــد تـــه رســـولې**
**یـــار د بـــل درومـــې او زه ورپســـې ژاړم**

شمشاد په چوکۍ کې وخوزېده، هڅه یې وکړه چې خبرې پیل کړي خو داچې د سولې لیدو ته یې دوه سترګې څلور کړې وې هېڅ یې ونه ویل

دوی په خپلو خبرو بوخت و چې ټولګي ته یې ټولګیوال اټک، ببېټ او اند راننوتل، هغوی سولې او شمشاد ته وکتل چې په کیسو سره اخته دي، اند چې یو څه شوخ ویل یې:

سولې او شمشاده مونږ خو به مزاحمت درته نه وي کړی؟

سولې د سر په خوزولو سره د نا ځواب ورکړ خو شمشاد ویل:

نا هسې د درسو په اړه غږېدو، مونږ به څه پټې خبرې وکړو

په عادي توګه یې په دې کال هم درسونه مخته لاړل، شمشاد چې د لوړ استعداد څښتن و، هڅه یې دا وه چې ښه درسونه ووایي او په دې کال هم د خپل ټولګي اول نومره شي.

د دریم سمستر درسونه او ازموینې یې هم تېرې شوې، په دې ازموینه کې شمشاد بیا اول نومره شو، په ډېرې خوشالۍ سره یې ټول خبر کړل چې په دې ازموینه کې هم اول نومره شوی دی، هغه ډېر خوښ و، یوه اونۍ تېره شوه، شمشاد ته په ځان مینه سوله ور په زړه شوه، سوچونه او فکرونه یې وکړل، له کوره د سولې دوی د دروازې په لور روان شو، بیا یې خپل ټیلفون راووېسته، په ښیښه یې ورته ګوتې تېرې کړې، په پیغام خونه کې یې سلام او ستړي مه شي ولیکه، د پیغام په لیکلو لیکلو د



سولې دروازې ته ورسېده، په سرک کې یې یوې خوا اوبلې خوا ته وکتل، په دروازه کې ولاړ پاتې شو، بیا یې په پیغام خونه کې دا شعر ولیکه:

**غلـــی دې کوڅـــه کـــې مســـا پر غونـــدې ولاړ یمـــه**
**مـــات مـــې دی غـــرور یـــوه ســـوالګر غوندې ولاړ یمـــه**

**څـــومره ســـخت مـــزل و پـــه ســـختیو مـــې پیـــدا کړلـــې**
**اوس دې دروازه کـــې مـــرور غونـــدې ولاړ یمـــه**

د همدې ورځې په سبا سولې د شمشاد پیغام وکوت، هغه چې هم ورپسې ډېره خپه شوې وه، شمشاد ته یې زنګ وواهه، ویل یې:

اې ! ته څنګه یې بیخي رانه ورک یې؟ وبښه اوس مې دې پیغام وکوت

شمشاد د کلي په کوز سر کې د یوه ولاړ غټ توت ډډ ته تکیه وکړه، بڼ کې یې ټولو ونو ته وکتل چې په ځمکه یې وزرې غوړولې او د لمر وړانګې نه پرېږدي څو په ځمکه ولږېږي سولې ته یې ویل:

ښه یمه خو دومره ډېر هم ښه نه، تېره ورځ مې زښته ډېره یادېدې، ونو او بوټو ستا د نه شتون پېغورونه راکول، آسمان راته داسې ښکارېده لکه ټول زور یې چې زما په سر وي، ځمکې په خپله غمازه هنداره کې د یوې نابریالۍ مینې انځور راښوده، بیا مې پیغام درولېږه

سولې ویل:

اول مي فکر درته نه و
اوس مي د زړه ستني کړې درپسي ځینه

شمشاد واه واه کړل نور غلی شو، سولي دوه سترګې له کړکۍ د حویلۍ انګړ ته څلور کړې وې، ناڅاپه يې پام شو چې مور یې غوټۍ غوږونه بوخ نیولي دي، او ددې خبرو ته غوږ ده، ژر یې ټیلفون پرې کړ، ویل یې:

ادې ! زه له شمشاد سره غږېدم، پوښتنه مي وکړه چې که کتابونه ولري ماته یې د کوم ماشوم په لاس راولېږي، غوټۍ توره او شنه واوښته، تندی یې تروش کړ، غوښتل یې چې څانګه له وېښتانو راونیسي او جزا ورکړي، خپل ځان یې کنټرول کړ، سوله غلي ناسته وه، ښکته یې ځمکې ته کتل او په قالینه کې یې د لاس په ګوته خطونه ایستل، غوټۍ سولي ته وکتل، وړاندې ورغله،د لاس په خوزلو سره یې خبرې پیل کړې، ویل یې:

ما څومره په تا باور درلوده، زما باور دې له خاورو سره خاورې کړ، نور څوک اوس په کلي او ښار کي خلاص شول چې ته له شمشاد سره خبرې کوې، هغه شمشاد چې د کورنۍ نوم یې په بې وځلۍ کي ځانګړی شهرت لري.

سولي ورو ویل:

مورې ! اوس ما خو کومه ګناه نده کړې، یوشتمه پېړۍ ده، له خپل ټولګیوال سره مې غږېدلې یم، ته ولې په ما دومره بدګمانه یې؟

غوټۍ نور هم خپل تندی تروش کړ، اوف اوف یې کړل، بیا یې سوړ آسویلی ووېسته، ویل یې:





سولي سولي !! ته به مي اخر د ډوډۍ پرځای په تناره کې پخه کړې، نور چوپ شوه، غوټۍ په سولي باندې ورځې بدې کړې، هره شپېه یې ورپسې څار کاوه،همداسې ورځې تېرېدې، د پوهنتون څلورم سمستر پیل شو،

غوټۍ ویل:

سولي ! نور دې خوښه خو که خبره شوم چې له شمشاد سره دې په پوهنتون او یا په ټیلفون کې خبرې کړې دې نو هماغه شپېه به دا دنیا درباندې تنور کړم او پوهنتون ته به دې هم پرې نه ږدم، هغې د سر په خوزولو سره د سمه ده ځواب ورکړ او پوهنتون ته ترې روانه شوه.

د پوهنتون یوه میاشت نوره هم تېره شوه، د پخوا په څېر به سولي او شمشاد په پوهنتون کې په عادي توګه یو او بل لیدل، سره به یې خبرې کولې او د زړه دنیا به یې په دیدنونو اباده وه.

د شمشاد دوی کورنۍ د نومیالي د واده بند اوبست کاوه، یوه اونۍ هغه پوهنتون ته رانغی، خپله به په کور او زړه به یې په پوهنتون کې و، د غوټۍ له خبرداري وروسته سولي هڅه کوله چې له شمشاد سره کتل او خبرې په داسې ډول وکړي چې څوک د اړیکو درلودو شک پرې ونه کړي.

سولي چې اته ورځې شمشاد نه و لیدلی زړه یې غوښتل چې خبرې ورسره وکړي او خواته یې ورشي خو د مور له ویرې یې د پوهنتون په انګړ کې له ټولګیوالو بختورې، برېښنا ، پښتنې، تلوسې او خوږې سره ولاړه پاتې شوه، د هغه څنګ ته وره نغله څو ورسره د زړه خواله وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشاد له لرې واټنه پرې سترګې ګنډلې وې، رډ رډ یې ورته کتل،د هغې لاسونو ته ځیر و چې کله به ورته د لاس په خوځولو اشاره وکړي، سولې هڅه کوله چې له ټولګیوالو سره یې خبرې لنډې کړي او د شمشاد خواته ورشي خو هغوی په یوې پوښتنې پسې بله پوښتنه کوله او د سولې خبرو ته بوخې ولاړې وې ، هغې شمشاد ته پرلپسې څو واره وکتلې، شمشاد په خندا شو، سولې ولیده چې هغه ورته ګوري او خاندي له ملګرو یې څو قدمه لرې لاړه، آسمان او ځمکې ته یې وکتل چې هرڅه په خپل ځای دی او یواځې ددې زړه ده چې د شمشاد په مینه کې بند دی، دا بیتونه یې د ځانه سره دکلمه کړل:

سوځم په انګار د لرې لرې نه
خاندي راته یار د لرې لرې نه

ناز کوي ادا کوي مستي کوي
اخلي مې ازار د لرې لرې نه

ستورو کتل ماته او ما ستورو ته
یار ته انتظار د لرې لرې نه

دا ورځ همداسې تېره شوه، د سولې په زړه کې دومره خبرې او پوښتنې پیدا کېدې چې ددرس ویلو پرځای به یې له شمشاده د پوښتنو کولو لپاره تیاری نیوه
سبا د پوهنتون په انګړ کې سره مخ شول، د شمشاد تور وېښتان باد رپول،د لمر سترګې هم خپلې وړانګې ډېرولې او د روښانه سبا په نیت هلکان او نجونې پوهنتون ته په رانوتې وې.





سولې ویل:
اې ! بیګا مې سوچ وکړ،ډېرې هلې ځلې مې وکړې څو پوه شم ولې یو شمېر انسانان د مینې په دریاب ځان ورګډوي او ولې یو شمېر نور بیا د خیر په غونډۍ ناست او لاسونه ورته پړکوي؟
شمشاد کټ کټ وخندل ویل یې:
مینه د چا په اختیار او اراده کې نه ده چې زړه دې وغواړي ویې کړي او زړه دې ونه غواړي ویې نه کړې، مینه لکه اور سوځول کوې، د سمندر په څېر دې له ځانه سره وړي او د سپرغۍ په څېر دې الوځوي او وزرونه درکوي، د مینې زور هېڅوک نه لري، کله ډېره ساده او کله دومره پیچلې شي چې حد نه لري، ښه خو خبره یې چې د مین سترګې ړندې وي.
سولې کټ کټ وخندل ویل یې:
پخوانیو خلکو به ویل چې مینه سړی ړندوي نو ځکه څېړنو ښودلې ده چې د مینې په وخت کې انسان کولای نه شي د خپلې مینې او یا میین کمې ووینې.
شمشاد ویل:
سولې خبرې نه اوږدوم زه بېرته ځم کورته، ددې لپاره راغلم چې په ټولګي کې غیرحاضر نه شم دوه ورځې وروسته د نومیالي لالا واده ده له وړاندې د ې خبره یې
سولې ویل:
سمه ده زه او مور مې دواړه درځو لخیره
واده تیار شو، د واده په ورځ سوله او مور یې غوټۍ د ورابانو په ډله کې د نومیالي د خُسر کور ته ورغلل، شمشاد سوله ولیده، غوښتل یې چې خبرې ورسره وکړي، ناڅاپه یې ټیلفون

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړنګېده، سولۍ ورته په پیغام کې لیکلي و:
شمشاده زما خواته رانه شي چې مور مې ځاري.
واده تیار شو، د کلي هغو سپین سرو ښځو چې ګیبي پایڅې اوپه ځانګړي افغاني دود کالي یې درلودل اتڼ ته راپورته شوې، تورپیکې، درخانۍ او زرکه چې د اتڼ په چمبه وهلو کې نوموتې وې له چمبو یې کوکارې پورته کړې، په سرو لاسونو یې چمبې ته داسې ګوزارونه ورکول چې غږ یې لسم کلي ته هم رسېده، د مستې قلندرې سندرې ته اتڼ روان و، د سولۍ مور غتۍ هم ملالۍ اتڼ ته پورته کړه په دې وخت کې شمشاد ځان ناوې ورینداري لېمې ته ور ورساوه، سوله یې وروښوده، ویل یې:
لېمې ورینداري تاسره مې ژمنه کړې وه، هاغه له قده دنګه او په څېره زړه راښکوونکې نجلۍ سوله ده چې ماسره یوځای درس وایي او پرې میین هم یم.
واده تېر شو،
د سولۍ او شمشاد د څلورم سمستر ازمویني پیل شوې،
هغوی دواړه به په ازموینه کې څنګ په څنګ کېناستل،
سولۍ به له شمشاد او شمشاد به له سولۍ سره مرسته کوله،
په ازموینه کې بیا شمشاد اول نومره او سوله څلورم نومره شوه.
د پوهنتون رخصتۍ سولۍ او شمشاد ته د یوه اوږده بېلتون زیری ورکاوه، منی و، د ځینو ونو پاڼې ژیړې او د ځینو لا لاندې را تویې شوې وې، تر ونو لاندې په ځمکه پرتې ژېړې پاڼې داسې ښکارېدې لکه طلایي فرش چې چا په ځمکه هوار کړی وي، عمرخوړلو کسانو د سترګو په سر د لاس چتر جوړ





کړی و څو د لمر وړانګې یې سترګې وې نه سي، شمشاد د بڼ په خوا کې د سیند په څنډه په لویه غټه تیږه پلتۍ وهلې وې او ناست و، په سیند کې د پخوا په څېر اوبه زیاتې نه وې، په تېږه به چې لږېدې یو ډول خوږه موسیقي به یې تولیدوله، د مرغانو شورجوړ و، شمشاد چې د سولۍ مینې لکه سیم نری کړی و خپل ښي جېب ته یې لاس کړ، شپېلۍ یې ترې راوویسته، یوخوا او بل خوا یې وکتل، د شپېلۍ په هرسوري باندې یې په ډېر هنر سره ګوتې کېښودې، په هر پوکي سره به یې یو ډول سوې کریغې له شپېلۍ ویستې، شمشاد چې د شپېلۍ په جادویي غږ د مینې نغمې راتاوې کړې د میینانو په ټپونو یې د ځان او سولۍ په ګډون مالګې وشیندلې.
هغه هم دا نغمه:
نن د جانان دیدن ته ځمه تورې نرۍ وریځې
خدای خودې لنډ کړي دا د ځمکې تنابونه مستې نازنینې
شمشاد لا شپېلۍ نه وه ایښې چې ټیلفون یې وشرنګېده، ژر یې ټیلفون اوکې کړ، تر سترې مه شې وروسته سولۍ ورته ویل:
شمشاده لږ لږ رانه هېر وې
کوم ځوانیمرګ شپېلۍ وهي غرقه یې کړمه
هغه په لوړ غږ وخندل ویل یې:
سولۍ فکر کوم د شپېلۍ غږ دې واورېده، هغه زه یم د سیند په غاړه ته رایاده شوې او زړه مې په شپېلۍ یخ کړ.
سولۍ ویل:
که رېښتیا ته یې نه زه اړیکه پرې کوم ته یوه بله خوږه نغمه په شپېلۍ کې راته وغږوه، وخت په شمشاد او سولۍ ډول ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانې وکړې خو د یوځای کېدو تمه یې ډېره او په مینه کې یې ماته لا هېڅ منله .

د ژمي سړې او د بېلتون اوږدې شپې دواړو همداسې تېرې کړې، پسرلی راورسېده، د هغوی پوهنتون پیل شو .

ننګیالي شمشاد ته زنګ وواهه، ننګیالي ویل:

دنده مې اوس په کندهار ولایت کې ده، قوماندان راته ویل چې شل ورځې وروسته په رخصتي کورته لاړ شه، شمشاده درځم تاته او ملالۍ مور ته څه دروړم؟

شمشاد وخندل، ویل یې:

ماته هېڅ مه راوړه خو ملالۍ ادې ته چې هرڅه راوړې ستا خوښه

ننګیالي ویل:

زه اوس په ټانک کې سپور یم بیا غږېږو په مخه دې ښه

لس ورځې تېرې شوې ټول په تمه و چې ننګیالی به لخیره کورته راځي، بله ورځ سهار د نومیالي ټیلفون ته له نامعلومه شمېرې زنګ راغی، هغه ورسره خبرې وکړې.

نومیالي ترې پوښتنه وکړه چې څوک یې او چاسره کار لرې؟

هغه ویل:

زه جګړن پتنګ پتیال یم د ننګیالی دوی د ټولي قوماندان، نور غلی شو

نومیالي ویل:

ښه وایه قوماندان صاحب څه خبره ده؟

جګړن پتیال ورو او په ژړا ویل:

كُلُ نَفْسٍ ذائقَةُ الْمَوْت تېره شپه زمونږ په پوستو بریدونه شوي و ، ننګیالي دوی د جګړې سیمې ته په لاره و چې د حکومت د





مخالفینو کمین ته برابر شوي، اته نفره مو ورک دي او د ننګیالي په ګډون ځلور کسان مړه شوي دي، الله ج دې وبښي

نومیالي چیغې کړې ویل:

جګړنه ته رینښتیا وایې؟

جګړن ویل:

هو اوس یې جنازې په روغتون کې دي ځکه ټول سوځیدلي پېژندل کېږي نه، تر پېژندو وروسته لخیره جنازه کابل ته درلېږو ، جګړن له خپلو سترګو راغلې اوښکې پاکې کړې ویل یې:

ورور جانه تاسو زحمت مه باسئ زمونږ امبولانس جنازه د مرکزي بغلان تر ښاره در رسوي، مړی به تر درې بجو هلته در ورسېږي، هېڅ د کتو نه دي کوښښ وکړئ چې همدا نن یې دفن کړئ.

نومیالي ژړلې خو جګړن تیلفون پرې کړ

لېمې له نومیالي پوښتنه وکړه چې څه شوي خو هغه ځواب ورنکړ او په بېړه یې ځان د جانباز کورته ورساوه او خبر یې کړ چې ننګیالی وژل شوی دی، له هغه ځایه نومیالی او جانباز د فتح خان کورته راغلل، فتح خان یې خبر کړ، نومیالي د فتح خان په میلمستون کې په لوړ غږ چیغې وهلې، په خړ څادر جانباز هم خپلې اوښکې پاکولې او فتح خان سر په زنګنو ایښی و هېڅ یې نه ویل، جانباز خپل ټیلفون راووېسته او د نومیالي خسر ځرګند سره یې اړیکه وکړه، هغه ټیلفون اوکې کړ، جانباز ورته ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرګنده ! خبره واوره ننګیالی مړ شوی دی، جنازه یې نن تر درې بجو له کندهار رارسیږي، قومندان یې ویل چې ټول سوځېدلی او د کتو نه ده نو باید همدا نن یې خښ کړو ته هلکان هدیرې ته ولیږه او مونږ به له ده ځایه در روان شو.
نومیالۍ د خپل کور پر لور منډه کړه، سرک کې خلکو چې هرڅه غږونه ورپسې وکړل د هېچا ځواب یې ورنکړ، خپل دروازه په غربهاري خلاصه کړه، د حویلۍ په منځ کې یې په لوړ غږ چیغې پیل کړې، ټول پرې راټول شول، نومیالۍ په لوړ غږ چیغې وهلې، ټول یې خبر کړل چې ننګیالی وژل شوی دی.
ټولو چیغې پیل کړې خو د ملالۍ، اوږۍ او شمشاد چیغو ټول کلی خبر کړ، په کوڅه کې ټول کلیوال راټول شول، د کلي بوډۍ ښځې راغلې، هغوی هم ژړلې، کلیوالو په کوڅه کې رډ رډ یوه بل ته کتل، حیران ولاړ و، ځینې خو آن دومره خپه وچې له زړه یې وینې څڅېدې، جانباز د شمشاد دوی کور ته راننوته، ویل یې:
ملالۍ وریندارې وخت کم دی موټر دروازې ته راغلي دي تاسو پکې کینئ او د ځرګند کور ته درځئ، څو قدمه وړاندې لاړه زرکې او شمشاد ته یې ډاډګېرنه ورکړه، هغوی یې هم له حویلۍ بیرون راووېستل او په موټر کې یې کېنول، له خپل ښې جېبه یې د نصوارو قطی راووېسته، مخکې تر دې چې نصوار خولې ته واچوي ویل یې:
کلیوالو ! جنازه څلور بجې د نومیالۍ د خسر ځرګند په کور کې ده ټول هلته راشئ، نور په موټر کې کیناسته او دروازه یې په غرَب په ځان پسې پورې کړه





د غرمې تر ډوډۍ وروسته د ملي اردو یو رنجر موټر او یو امبولانس راورسېدل، له رنجر موټر دوه پنډ پنډ دریشي کړي کسان راکوز شول، یو یې د ننګیالی دوی د ټولی قومندان جګړن پتنګ پتیال او بل یې د هغوی د ټولي بریدمل محب الله زغم و، سترګو ته دواړو لاسي دستمالونه نیولي و او خپلې اوښکې یې پاکولې، جانباز سره یې سترې مه شي وکړه، د ننګیالي ملګرو د پوځي امبولانس دروازې خلاصې کړې، هغو ویل:
ننګیالی دی الله ج وبښي مونږ یې خپله له امبولانسه راکوزوو، د جنازې تر راښکته کولو وروسته جګړن پتیال ویل:
ستا سو غم زمونږ غم دی، ټول وجود یې سوځېدلی دی، پېژندل کېږي نه، هېڅ اړتیا نشته چې د تابوت د سر تخته لرې کړئ.
جانباز د سر په خوزولو سره د سمه ده ځواب ورکړ، کلیوالو یې تابوت په لسو نفرو ونیوه او د حویلۍ پر لور یې روان کړ، جنازه یې چې د ځرګند په حویلۍ ورننوېسته زرکې، ملالۍ او شمشاد رامنډه کړه، کلیوالو ژر تابوت په ځمکه کېښوده، لرې لرې خپه ودرېدل، شمشاد او ملالۍ پړمخې ځان په تابوت ور واچوه، زرکه د تابوت سرته کېناسته، جانباز راغی، هغوی ټول یې پورته کړل، کلیوالو ته یې اشاره وکړه چې تابوت دې د حویلۍ په انګړ کې کېږدي.
ملالۍ غوښتل چې د تابوت د سرتخته لرې کړي او د ننګیالي جسد وګوري خو جانباز نه پرېښوده، شمشاد د تابوت اړخ ته او زرکه د ننګیالي د مړي پښو ته ناسته وه، د سروښتان یې شکول، ددوی زړونه لا په چېغو نه و یخ چې جانباز له څو کلیوالو سره حویلۍ ته راننوته ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوخته ده ملالې جنازه وړو، بېرون کليوال ډېر په تمه دي، ملالې هڅه کوله چې څو شيبې نور هم تابوت ته وگوري خو هغوی جنازه پورته کړه، په دې وخت کې د چيغو غږ دومره ډېر شو چې آن دوه درې کلو کې اورېدل کېدل.

پرته له دې چې کليوال د تابوت تخته لرې کړي جسد يې خاورو ته وسپاره او د هغه د کورنۍ په زړه يې يو نه جوړېدونکی داغ پرېښوده.

شل ورځې تېرې شوې، د ملالې ملا د ننگيال غم راکوپه کړه، د سترگو ديد يې کم شو او ناروغه شوه، هره شېبه به يې د ننگيالي نوم يادوه.

بله ورځ سولې زړه نا زړه د شمشاد ټيلفون ته زنگ وواهه، تر جوړ پخير وروسته يې ويل :

خدای ج دې تاسو ته د زړه صبر درکړي ، ورور دې ډېر نيک او ښه انسان و جنتي دې شي ، څه وکړو الله ج دې ورته هغه دنيا ښه کړي .

شمشاد ويل :

هو سولې گور ته ټول کډې کوو خو د چا کډې وړاندې او د چا بېرته .

سولې له شمشاده پوښتنه وکړه چې پوهنتون ته ولې نه راځې؟

شمشاد سوړ اسويلی وويسته ويل يې:

سولې ښايي نور پوهنتون ونه شم ويلی ځکه په هغو دېوالونو مې چې تکيه کوله ټول ونړېدل، ژوند مې ډېر تريخ دی، درې کلونو کې مې څلور ورونه مړه شول، څلور کُنډې مونږ ته په کور





کې ناستې دي، ملاله ادې مې چې د هريوه ورور مېرمنې ته گوري له سترگو يې لارې لارې اوښکې ځي.

سولې غلې شوه، بيا يې ويل:

گوره دا به د الله ج رضا وه، استادانو ويل چې شمشاد خبرکړئ څو پوهنتون ته راشي، څو ورځې وروسته ازمويني پيل کېږي.

شمشاد سولې ته په ځواب کې ويل:

سمه ده خپله هڅه به وکړم، بيا يې دا لنډۍ په غمجن غږ د شونډو په څوکو تېره کړه

**دا خو مې زړه دی چې لا ټينگ دی**
**دومــــره غمونــــه دريابونــــه وچوينــــه**

سولې ويل:

شمشاده ! ما درسره ژمنه کړې چې د پوهنتون لگښت دې زه درکوم نو د پوهنتون له اړخه بېغمه اوسه، شمشاد هېڅ ونه ويل خو سولې ويل:

رېښتيا زيات وخت وشو نه مې ليدلی ډېره درپسې خپه يم هغه ځواب ورکړ چې سمه ده لخيره سبا ستا لپاره درځم وبه دې وينم او هم به لږ درس ووايم زه هم در پسې زيات خپه شوی يم.

سبا يې پوهنتون کې سره وليدل، سولې ويل:

اې ! ننگيالی ډېر ښه انسان و، ملکوتي شوي روح ته به يې دوعا کوو خو شمشاد غلی شو، په سترگو يې لاس وواهه، بيا يې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سـردرو وطـن تـه وايـه
پـه مـړو مـوړ شـوې کـه لا نـور کـوې مرګونـه

آسـمانه درز وهـه رالـوېږه
پـه ماقيامـت دی چـې پـه ټولـو قيامـت شـينه

دوی په خبرو بوخت و چې ټولګيوالې يې شغله، شربت ګله، شبېه، ننتکۍ، مکۍ او ورېمه راغلې ټولو شمشاد او سولې سره سترې مه شي او غم شريکي يې ورسره وکړه، مکۍ ويل:
شمشاده ! باور وکړه چې د ننګيالي ورور په مرګ دومره خپه شولو لکه خپل ورور مو چې مړ وي، بيا ستا نه راتګ پوهنتون ته بيخي زيات اندېښمن کړي و.
دوی خبرې خلاصې کړې او ټولګي ته په ګډه روان شول، ددې سمستر ازمويني پيل او تېرې شوې، شپږم سمستر کې شمشاد نه غوښتل چې پوهنتون ته راشي، سولې څو واره زنګونه ورته ووهل خو هغه ويل چې کور کې ډېرې ستونزې لري او نه شي کولای چې پوهنتون ته راشي، لس ورځې پوهنتون ته رانغی.
د پوهنځي د پښتو څانګې آمر جهانزېب څو واره هڅه وکړه چې شمشاد سره خبرې وکړي چې ولې پوهنتون ته نه راځي خو ټيلفون يې رُخ نه شو، اخر دېته اړ شو چې د شمشاد دوی کلي ته ورغی، د غرمې ډوډۍ يې د سولې دوی په مېلمستون کې وخوړه، د سولې پلار سره يې کيسې وکړې، هغه يې هم د ځانه سره ملګری کړاو د شمشاد دوی کور ته ورغی.





فتح خان د شمشاد دروازه ودبوله، نوميالی ورته راووته، تر سترې مه شي وروسته فتح خان ويل:
دا د شمشاد دوی د څانګې آمر صاحب جهانزېب دی، له پوهنتونه راغلی دی
نوميالي ژر دروازه خلاصه کړه، ويل يې:
راځئ پاتې کيسې به په مېلمستون کې وکړو، نوميالي هغه کينول او خپله په منډه کور ته لاړ، شمشاد ته يې ويل چې د څانګې مشر يې راغلی دی
شمشاد هم کوټې ته ورغی، د سولې مشر جهانزېب تر دعا وروسته ويل:
شمشاده ! غم او ښادي په ژوند کې راځي خو ته لس ورځې کېږي چې پوهنتون ته نه يې راغلی، ټولګيوالو ته دې ويلي و چې نور پوهنتون ته نه شم راتلی، ما هڅه وکړه چې زنګ درته ووهم خو ټيلفون دې چالانه نه و نو ځکه دلته راغلم، غرمه مې د فتح خان اکا په کور کې ډوډۍ وخوړه، بيا يې نوميالي ته ويل:
که ستونزه نه وي ځوانه ! مورکۍ مو هم کوټې ته راولئ، زه غواړم يو څه خبرې تاسو ته وکړم.
نوميالي هېڅ ونه ويل او له کوټې ووت، ملاله يې له لاسه نيولې وه او کوټې ته يې رانوېسته، ملالې په زوره زوره خپله ساه وېسته، تر سترې مشي او ډاډ ورکولو، وروسته د سولې مشر جهانزېب ويل:
مورې ! شمشاد زمونږ د پوهنتون يو له ممتازه زده کوونکو څخه ده، پنځه سمستره اول نومره پاتې شوی، ښه راتلونکې په مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لري، ده یې ټولګیوالو ته ویلي چې نور پوهنتون ته نه راځم نو ځکه زه ورپسې راغلم.

د آمر جهانزیب تر خبرو وروسته په کوټه کې ټولو یوه بل ته کتل خو هېڅ یې نه ویل، ملالې چې د کوټې په قالینه سترګې خښې کړې وې ویل یې:

آمر صاحب زمونږ هیله او امېد همدا شمشاد و، اوس مو هم خوښېږي چې دی پوهنتون خلاص کړي خوځه وکړم، څلور زامن مې مړه شول، څلور تور سرې ښځې ترې پاتې دي، هر زوی مې یوه یوه لپه ماشومان لري نو که شمشاد پوهنتون ته لاړ شي دومره پیسې به لکومه کړو چې هم یې مونږ وخورو هم خپل روزګار پرې مخته بوځو او هم شمشاد پرې پوهنتون ووایي.

دې وخت کې دروازه خلاصه شوه، جانباز کوټې ته راننوته، فتح خان ورته آمر ور وپېژنده، آمر په کوټه کې ټولو ناستو کسانو ته وکتل، ویل یې:

الله ج روزي رسان دی، کلي کې مالداره کسان زیات دي، تمه ولرئ، ناهیلي کېږئ مه، بیا یې فتح خان ته وکتل چې غلی په خپل ځای کې ناست او هېڅ نه وایي

جانباز چې بوخ په خپل ځای کې ناست او امر ته یې کتل اول وپشېده او بیا یې ورو وخندل، ویل یې:

یاره امر صاحب زه خپله ددې پوهنتون او مکتب سخت مخالف وم، آن تر دې چې شمشاد په کانکور کې پوهنتون ته کامیاب شوی و مبارکي مې هم ورنکړه خو اوس وایم چې پوهنتون ښه دی باید هرڅوک یې په خپلو اولادونو ووایي، له جېبه یې د نصوارو قطی راووېسته امر جهانزېب ته یې ویل:





یاره انجنیر صاحب مال د خدای ج دی لس زامن او شل جریبه ځکه لرم، ټولو زامنو ته مې ودونه کړي خو درس مې په یوه هم نه دی ویلی اوس لږ پښېمانه یم، لونې خو مې هېڅ جومات ته نه دي لېږلي.

امر رډ رډ ورته وکتل، تندی یې تریو کړ، جانباز پوه شو چې امر ته غوسه ورغله، بیا یې ویل:

ښاا دا کیسې به پرېږدو تر څو چې شمشاد پوهنتون خلاصوي هرکال زه سل منه وریجې او سل منه غنم همداسې ورپیا ورکوم اخر خپلوان مې دی پردی خو نه دی

ملالۍ او نومیالي مسک شول ، خوشالي یې په سترګو کې ښکاره شوه ، په کوټه کې یې ټولو ته وکتل بیا یې ویل :

سمه ده جانباز اکا چې مونږ سره دومره مرسته وکړي نو مونږ هېڅ کله شمشاد له پوهنتون نه راتاووو.

شپږم سمستر هم همداسې تېر شو، د شمشاد د پوهنتون ټول لګښت به هغه میینې سولې ورکاوه.

د سمستر په وروستۍ ورځ سوله او شمشاد په یوه موټر کې تر کوره راغلل، په لاره شمشاد په معصومو، سترګو سولې ته کتل، زړه کې یې خبرې وې خو په خوله یې نه راتلې، سولې ویل: اندېښنه دې وه، هروخت به دې تندی تریو نیولی و چې پوهنتون نه شم ویلی، پرېږدم یې، هسې او دسې دغه ده شپږم سمستر هم خلاص شو، اووم سمستر به هم تېر شي او اتم سمستر خو هسې هم په منوګراف لیکلو تېرېږي.

شمشاد کټ کټ وخندل ویل یې:

غلې شه اوس به مې یو ساعت کې له پوهنتون فارغ کړې

سولې خپلې دوه سترګې د هغه لیدو ته ځلور کړې وې، په ځیر ځیر یې ورته کتل، له ځانه سره مسکۍ شوه، ورو یې سوړ آسویلی ووېسته، ویل یې:

آوف خدایه ! چې د ا د ژمي اوږده رخصتي به څنګه تېریږي؟

شمشاد ورته هېڅ ونه ویل، سترګې یې د موټر ښیښې ته رډې نیولې وې، موټر دومره تیز روان و چې آن ددوی له سترګو ونې په حرکت کې ښکارېدې

سولې شمشاد ته وکتل چې په سوچونو کې ډوب دی، ویل یې:

## وا په ما مینه

## یاره کابل ته کډې لاړې

څه په سوچونو کې ورک یې، لږ ماته ځیر شه، کیسې وکړه، سمستر اخر شو ښایي بیا ژر سره ونه ګورو، شمشاد سترګې سولې ته راواړولې، په دې وخت کې سولې په خپلو وېښتو کې ګوتې د ګومنځې په څېر تېرې کړې، شمشاد ویل:

سولې زه ډېر درپسې خپه کېږم خو هېڅ نه وایم، زه غم په زړه دننه تېروم

سولې یې له لاسي بیکه د خپلو یادښتونو کتابچه راووېسته، د کتابچې په وروستۍ پاڼه یې په سره قلم لاسلیک وکړ، شمشاد ته یې وسپارله، ویل یې:

اې ! تر کوره حق نه لرې چې دا کتابچه خلاصه کړې، په دې کتابچه کې مې د زړه خبرې د زړه په وینو لیکلي دي، ښایي لوستل یې درته ډېر سخته واوسي خو ته یې وزغمه، کله مې چې یادښتونه لولې فکر وکړه چې ته فرهاد یې او د شیرینۍ د لاس ته راوړلو لپاره غر په تېشه سوری کوې.





هغه وخندل ویل یې:

هههههه خو زه شمشاد یم فرهاد نه

موټر چلوونکي موټر د امام قطیبې ځلور لارې یوې څنډې ته ودراوه ویل یې:

پخیر راورسېدئ، کوز شئ، ستاسې کیسې څومره اوږدې او خوږې دي چې هېڅ نه خلاصیږي، د میینانو په څېر چې یوه کیسه خلاصه کړئ نو بله مو تیاره راجوړه کړې وي هغه پیل کوئ.

ورځې او وختونه تېرېدل، بله ورځ د ژمي سړې سیلۍ یو ډول ویرونکی غږ کاوه، شمشاد د کلي له دوکانه د کور په لور روان و، زنګ ورته راغی، ویې لیدل چې سوله ورته زنګ وهي، شمشاد سره یې ملګري و، ژر یې ټیلفون بې غږه کړ، غټ غټ قدمونه یې واخیستل، ملګرو یې تکل، خاورین او سمسور وخندل، سمسور ویل:

شمشاده ! فکر کوم معشوقې دې زنګ درته وواهه څنګه له مونږه دوه درې قدمه مخکې شوې، د سمسور خبرې نه وې خلاصې چې خاورین بیا وخندل ویل یې:

شمشاده ساده ګله، د معشوقو غم مه کوه، هغه دې نه دي اوریدلي چې( یار له کوځې تېر کړه رنګ یې هېر کړه ) تکل ویل:

خاندئ مه، بل چا به زنګ وهلی وي ورته، تاسو ته خدای ج درکړه، یوه خبره چې پیدا کړئ کوچ ترې باسئ.

شمشاد ودرېده، ویل یې:

نومیالی لالا مې دی، هغه راته ویلي و چې ژر کورته راشه خو ما ناوخته کړه ځکه مې ټیلفون اوکې نه کړ چې راباندې غوسه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي.
څو ورځې نورې هم تېرې شوې، د میینانو ورځې راورسېده، د سولې دوی کورنۍ د بي بي سي نړۍ دا وخت خپرونه کتله،خبریال ویل:
نن د میینانو ورځ ده، په ګڼو هېوادونو کې دا ورځ میینان لمانځي او اوس اوس په افغانستان کې بې هم میینانو لمانځنه پیل کړې، د سولې ورور پاڅون ژر ټلوېزیون ګُل کړ، پلار یې فتح خان چې د بي بي سي دې راپور ته غوږونه څک نیولي و او سترګې یې د ټلوېزیون په ښیښه ورګنډلي وې، په خپل ځای کې رانېغ شو ویل یې هله پاڅونه زویه بېرته ټلوېزیون چالانه کړه، هغه په غوسه ټلوېزیون چالانه کړ، هېڅ یې ونه ویل، د ریموټ په ځنډه یې د کوټې په قالینه کې خطونه ایستل، د راپور تر خلاصېده وروسته مور یې غوټۍ تړې د ټلوېزیون د ګُل کولو د لامل پوښتنه وکړه
پاڅون ویل:
نوې ناوې راغلې نوې کڅوړې ورپورې، دا خلک خو په هېڅ هم نه پوهېږي، ورځ تر بېګا په بېکاره خبرو خپل او د خلکو وخت ضایع کوي، دلته په بغلان کې همدا نن څومره کسان په یوه جګړه کې مړه شول او دوی لګیا دي ددې راپور پرځای یې د میینانو په ورځ راپور جوړ کړی، هلک نجلۍ او نجلۍ هلک ته ګلان په غاړه کې ور اچوي.
غوټۍ غلې شوه، فتح خان په خپل ځای کې په ګونډو شو، پاڅون ته یې وکتل چې له ډېرې غصې یې په وچلي دولس بجې دي، ویل یې:





زویه ! هره ورځ د جګړو، وژنو او تاوتریخوالو خبرونه اورو، پرېږدئ چې د میینانو د ورځې په نامه هرڅوک خپل ځان خوشاله وساتي، بیا یې خپلې بوډۍ شوې مېرمنې غوټۍ ته وکتل ویل یې:
کاشکې زه ستا په مور همد اوس میین وای چې ما هم د یوه لاسي ګل پرځای دوه درې ګلان ورته راوړي وای
غوټۍ تندی تریو کړ، وبې خندل، ویل یې:
غلی شه د ماشومانو پلاره، سپین ږیرې شوې خو له دې شوخۍ او خبرو دې وانوښتې، سبا سهار شمشاد سولې ته زنګ وواهه ویل یې:
زه غواړم ستا خواته درشم، دروازه کې دې لیدلی شم؟
هغې لومړی د کوټې له کړکۍ خپله حویلۍ وځارله، بیا یې ویل:
هو درسره لیدلی شم خو ډېرې خبرې ښایي ونه شي شمشاد له ښاره یو سور ګل سولې ته د میینانو د ورځې په خاطر په خپل جېب کې اچولی و، دروازې ته یې راورسېده، سولې ته یې زنګ وواهه، هغې یې ټیلفون پرې کړ، دروازه خلاصه شوه، د سولې او شمشاد زړه درېېده چې څوک یې ونه ویني، سولې ویل:
شمشاده ژر دې خبره راته وکړه چې پلار او پاڅون ورور مې په کور کې دي.
هغه جېب ته لاس کړ، ګل یې راوویسته، سولې ته یې ډالۍ کړ، ویل یې:
تور توتان له تا قربان، د میینانو ورځ دې درته مبارکه وي، مینه درسره لرم، همدا مې له وسې کېده، پرون د میینانو ورځ وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما هېره نه وه خو بوخت وم ، نن مې درته ګل راوړ، ډېره زیاته ښښنه درنه غواړم، نور روان شو.

بیا یې تر پسرلي سره ونه لیدل، کله کله به دواړو په ټیلفون سره خبرې کولې

د پسرلي په لومړیو ورځو کې سولې او شمشاد سره تر یوه اوږده لرې والي ولیدل، دواړو یو د بل په دیدن سترګې مړې کړې، د اووم سمستر لومړۍ ورځ یې د مینې او مینتوب په خبرو تېره کړه، شمشاد ویل:

د هرې سختۍ تر شا ښه وختونه هم شته، د ژمي په رخصتیو کې مې بیخي ډېره یادېدې، کانو او بوټو به ستا د نه شتون پیغورونه راکول، ومې زغمل دادی اوس درته مخامخ ولاړ یم او وړیا دې دیدن کوم.

سوله په خندا شوه ویل یې:

که ما وپوښتې ته به وتښتې، ستا یادونو او غمونو مې زړه سوری سوری کړ، بیا یې دا ټپه دکلمه کړه

**لــه زړه مـــې یـــو الله خبـــر دی**
**ددنیـــاګۍ عـــالم پـــرې خلـــه خبرومـــه**

مخامخ د پوهنځي په ودانۍ کې د ټولګي کړکۍ په غرب خلاصه شوه، ټولګیوالي شفیقې او مینې یې ورته رډ رډ وکتل، شمشاد د ټولګي په کړکۍ دواړه سترګې خښې کړې، سولې ته یې ویل:

اې ! شفیقه او مینه ګوره څنګه په ځیر ځیر راته ګوري لکه یې هېڅ یې چې لیدلي ونه اوسو

سولې وخندل ویل یې:





شمشاده ! هغوی ما او تا څاري، دوی څومره وزګاره دي او څومره یې له وسې کېږي چې ما او تاپسې وګوري چې چېرته ولاړ یو او څه کوو

دا سمستر هم پای ته ورسېده، دهرې ورځې په تېرېدو سره د سولې او شمشاد د زړه اړیکې نورې هم سره نژدې کېدې، یو بل ته خوږېدل، دیوه اوږده یوځای والي په تمه یې ورځې او شپې شمېرلې.

بله شپه شمشاد او کورنۍ یې ټول سره ناست و، ملالې ویل:

نومیالیه زویه ! دغه دی درې میاشتې وروسته لخیره شمشاد له پوهنتونه فارغېږي، بیا یې د شمشاد په سر لاس تېر کړ، افرین افرین یې کړل

نومیالي وخندل، په کوټه کې یې د ټولو سترګو ته وکتل چې څوک هېڅ نه وایي، له مخې یې د چای ډکه پیاله لرې کړه، له توشکې ورکوز شو او په قالینه کېناسته، مور ته یې ویل:

لخیره له پوهنتون نه خو فارغېږي خو تر څو چې فارغېږي یو چېرته به یې غم وخورو ، واده به ورته وکړو ، ملالې شمشاد ته وکتل، ویې لیدل چې شمشاد له شرمه ښکته ګوري، هېڅ نه وایي، ویل یې:

ما هم همدا خبره کوله، اوریدلي مې و چې زړه په زړه آینه وي نو هغه خبره ریښتیا ده، ما د واده خبره کوله خو تا راباندې وار ړومبی کړ، ملالې خپلو نګورګانو ته په خندا ویل :

تاسو خپلو کوټو ته درځۍ ، زه ، نومیالی او شمشاد سره پټې خبرې لرو ، هغوی روانې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چې دا خبرې پیل کړې د شمشاد په زړه راننوتل ، په زړه کې یې سل ډول خبرې راغلې .

ملالۍ رډ رډ نومیالي او شمشاد ته وکتل ، ویل یې :

شمشاده زویه غوښتل مې کوژده درته وکړم ، په زړه مې ارمان وخو څه وکړم پښتو ته په کور کې درې کونډې راته ناستې دي اوس که تاته چیرته بل ځای ښځه وکړم نو خلک به سل رنګه خبرې راپسې وکړي .

نومیالي ویل :

څه ووایم مورې ، خدای ج دغه ورځ په مونږ راوستې ده ، نصیب به مو خراب وي ، بیا یې شمشاد ته وکتل چې خپه ناست دی .

ملالۍ ویل :

شمشاده زویه ! چانس درکوو ، درې کونډې وریندارګانې دې ځوانې دي او په کور کې ناستې دي چې ډېر یې ساتل ښه نه دي ، پښتو ده نو ته یې یوه خوښه کړه چې درته یې نکاح کړو.

شمشاد غلی شو ، تر څو شیبو چوپ کېدو وروسته یې ویل :

مورې زه مې په خپله خوښه ځانته کوژده کوم ، وریندارګانې مې ماته د خویندو په څېر دي ، هیڅ نه کیږي چې زه دوی کې یوه ځانته نکاح کړم .

زریالی د کوټې په چت سترګې وګنډلې ، ویل یې :

شمشاد جانه څه وکړو اوس که وریندارګانې همداسې پرېږدو او تاته بل ځای کوژده وکړو داهم ښه نه او هم د پښتو د دود خلاف خبره ده .

شمشاد خپلې دوه پښې په یوه موزه کې کړې ویل :

نا ا مورې او وروره ! زه مې وریندارګانو کې یوه هم نه کوم .





دا شپه همداسې په خبرو تیره شوه ، سبا شپه ملالۍ او نومیالي جانباز هم راوغوښته څو شمشاد قانع کړي چې یوه کونډه ورینداره یې ورته نکاح کړي ، خبرې پیل شوې ، نومیالي ، ملالۍ او جانباز شمشاد ته نصیحتونه پیل کړل

خو شمشاد ویل :

چې په هیڅ صورت باندې مې وریندارګانې نه نکاح کوم ، زه مې په خپله خوښه ځانته کوژده کوم ، وریندار سره نکاح کول راته په هېڅ صورت د منلو نه ده .

ملالۍ ټینګار کاوه چې شمشاد باید خپله یوه کونډه وریندار خامخا نکاح کړي خو جانباز ویل :

نا وریندارې خیر دی شمشاد دې په خپل زړه ځانته کوژده وکړي ، ډېره پسې مه شله کیږه .

ددې خبرې په اورېدو شمشاد شین شو ویې خندل

سبا غرمه چې د ملالۍ ټولې نګورګانې په کوټه کې ناستې وې ورته ویې کتل، ویل یې:

وا نجونو زه خو دا دوه درې کاله کېږي چې کوژدو او ودو ته نه یم تللی، څوک ښه لور لري چې لخیره شمشاد ته یې ریباري وکړو، مشرې نګور یې زرلښتې ویل:

مورې ! د سپین ګل اکا لور نېکبخته ښه نجلۍ ده، که مو خوښه وي سبا به ورشو ریباري ته؟

زرکې ویل:

بیخي سمه ده ور به شو خو په دې وخت کې لېمې ورو ویل:

تاسو خان وپوښتۍ چې شوله خوري کنه، شمشاد لوستی ځوان دی، له پوهنتون فارغېږي، ښایي څوک په ده او یا دی په چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



میین وي هغه به ورته وکړو ، نالوستې ښځه څه کوي، بېړه مه کوئ.

نومیالي وخندل، ویل یې:

شمشاده ! وریندار دې څه وايي، په چا خو به میین نه یې، شمشاد غلی شو هېڅ یې ونه ویل، له ځمکې غږ ووت خو له شمشاد نه، زړه یې ټوپونه وهل

ملاله مسکۍ شوه ویل یې:

زویه څنګه غلی شوې؟ لکه چې په چا میین یې نو ماته یې ووایه، ریباري به یې درته وکړم

لېمې په زوره زوره وخندل، ویل یې:

د شمشاد په زړه زه پوهېږم، زه خبره یم چې څوک په ده میینه ده، څو ورځې وروسته یې لخیره ریباري پیل کوو زه له پخوا خبره یم.

ملالې ویل:

لېمې ته چې خبره وې نو زه دې ولې نه خبرولم خو خیر اوس مې خبره کړه چې شمشاد زوی ته مې د هغه په خپله خوښه واده وکړم.

درې ورځې وروسته لېمې ملالې ته کیسه وکړه چې شمشاد او سوله یو په بل میینان دي او کیسه یې د ښوونځي له وخته پیل شوې ده.

ملاله غلې شوه ، لېمې ته یې ویل :

دا د میینتوب کیسه لاپکې له کومه شوه ، په پښتو او پښتنو کې دا خبرې نشته ، د شمشاد دې وچې سترګې څنګه شي چې میین شوی دی او بیا زمونږ غریبي او د فتح خان خاني کله سره





جوړېږي چې د هغه په لور شمشاد میین شوی دی ، رېښتیا خبره ده چې لوستې نجونې او هلکان چې په پچه وخیژي کشمیر ویني او له پوهنتونه چې په فارغېدو وي نو آسمان ته زینې ږدي .

شپږ ورځې یې په همدې سوچ وکړ چې څنګه وکړي؟

یوه اونۍ تېره شوه، بله ورځ ملاله له خپلو پنځو نګورګانو سره د ملک فتح خان کور ته ورغله، ملاله وروسته تر شپږو کلونو د ملک فتح خان کور ته ورغلې وه، وروسته د ډوډۍ تر خوړلو ملاله او غوټۍ د سولې د مور کوټې ته لاړې، دې وخت کې ملک فتح خان کور ته راغی، ملالې سره یې ستړې مه شي وکړه ورته ویل یې:

ملالې وریندارې دا لمر له کومې خوا راختلی چې ته زمونږ کورته راغلې، لار خو به دې نه وي ورکه کړې؟

ملاله په خندا شوه ویل یې:

ملکه وروره زه به لخیره ډېره درته راشم، دې وخت کې فتح خان خپلې مېرمنې غوټۍ ته وکتل، حیران شو چې ملاله څه وايي او په زړه کې یې کومه خبره ده؟ غوټۍ غلې شوه خو فتح خان ویل:

وریندارې هر وخت راشې قدمونه مو په لېمو

ملالې وخندل، ویل یې:

ملکه وروره زه په نیمه نه پوهېږم اوته بیا په یوه نیمه، د ملالې ددې خبرو په اورېدو سره غوټۍ او فتح خان وخندل ویل یې:

هههههه زه بیا هم پوه نه شوم، سپینه خبره راته وکړه چې پوه شم.

ملالې ویل:

فتح خانه وروره لور چې پېغله او هلک په کور کې ځوان شو ساتل یې نه دي پکار، باید کوژده ورته وشي نو زه ستا د

نازولې لور سولې ربیارۍ ته راغلې یم چې شمشاد ته یې وکړم.
فتح خان چې پښتني دودونو او میلمه پالنې ته ډېر ژمن سړی و
ملالۍ ته یې وکتل ، کټ کټ ویې خندل ، ویل یې :
ورینداري خیښي به وشي او یابه ونه شي خو دغه زما کور ته دې
راتگ او میلمه کېدل ښه شول ، زما میلمانه ډېرخوښېږي چې
کور ته مې راشي ، بې میلمه کور ته پیکه او بدرنگه ښکاري.
د هغه خبرې نه وې خلاصې چې غوټۍ فتح خان ته وکتل، ویل
یې:
سوله خو وړه ده اوس یې نه ورکوو، فتح خان وپښېده ویل یې:
ملالې ورینداري سوله خو له پوهنتونه هم نه ده خلاصه شوې،
هغه خو لوستې ده پوښتنه به ترې وکړم که یې خوښه وه ولې نه،
تر تا ښه خوابنې او تر شمشاد ښه ځوان په دې ولایت کې کله
پیدا کېږي.
ملالې ویل:
مخصد ما نا امېده له کوره ونه لېږئ، زه په ډېرې تمې او پوره
باور ورورکه ستا کور ته راغلې یم، ته خان یې او زه غریبه خو
خیښي به راسره کوې.
غوټۍ هېڅ نه ویل خو فتح خان ویل:
ورینداري سمه ده مونږ به کور کې سلامشورې وکړو او بیا به
تاسو ته د هو او نه په اړه خبر درکړو.
اتم سمستر پیل شو ، بله ورځ سوله او شمشاد په ټولگي کې سره
ځنگ په ځنگ ناست و ، شمشاد ویل:
زما کورنۍ خو سولې ستا سو کور ته د ربیارۍ لپاره درغلې وه،
مور او پلار دې څه ویل؟





هغه موسکۍ شوه، په ټولگي کې یې یوخوا او بل خواته وکتل،
ویل یې:
ته نو په دومره آسانۍ سره غواړې چې د ملک فتح خان لور
کوژده کړې؟
هغه غلی شو ، یو دوه شېبې یې هېڅ خبرې ونه کړې، بیا یې ویل:
ته لکه چې په ما باندې د اوسپنو پنې زړوې او بیا راسره کوژده
کوې؟
سولې سترگې د شمشاد سترگو ته ښغې ونیولې ویل یې:
نو زړه دې څه غواړي؟
دې وخت کې ټولگي ته د هغوی ټولگیوال راننوتل، ملگرې یې
تلوسې ورته وکتل چې سوله او شمشاد بوڅ د ټولگي په کُنج
کې ناست، یو او بل سره یې مرکه ډېره خوږه پیل کړې، ویل یې:
کیسې مو خلاصې دي که مونږ له ټولگي بېرته ووځو؟
شمشاد وخندل ویل یې:
تلوسې ته څومره له خبرو ډکه یې، مونږ به د څه شي خبرې وکړو،
هسې مو د پایلیک لیکلو ته اندېښنه ده، خپلو کې یې په اړه
وغږېدو چې څه وکړو؟
د اتم سمستر دا ورځې هم تېرې شوې، شمشاد ته استادانو د
مونوگراف لیکلو موضوع د عرفاني ادبیاتو په برخه کې او
سولې ته یې د ښځو ونډه د لنډیو په لیکلو او ویلو کې ورکړه.
درسونه همداسې په عادي توگه روان و، د نورو ټولگیوالو نه
وړاندې سولې او شمشاد خپل پایلیکونه تیار کړل، د منې
علامې په ځینو ونو باندې راڅرگندې شوې، میوې پخې وې،
په کلي کې د مڼو یوې ونې ته ودرېده، یوه زېړه مڼه یې ترې

راوشکوله، لـه منهې سره یوه زېړه پاڼه هم لـه ونـې راولوېده، شمشاد حیران دې پاڼې ته وکتل، بیا یې ژر له خپله جېبه هنداره راووېسته، پـه چپـه لاس کـې یـې خپـل مـخ تـه مخامخ هنداره ونیوله، په ښي لاس یې په وېښتو کې د ګومنځې پـه څېر ګوتې کش کړې، ویې لیدل چې خپله هم د میینتوب درد اود ورونو غم لکه د مني پاڼه زېړ کړی، ژر د یوې غټې ونې لاندې کېناسته، پاس منهو ته یې وکتل چې پـه ونـه کـې ښکـته راځوړندې دي،بیا یې د ونـې پـه ډډ باندې تکیـه وکـړه، اوږ آسویلی یې وویسته، ټیلفون ته یې لاس کړ، د خپـل ګلکسي ټیلفون پـه ښیښـه یـې لـه خاورو ډکې ګوتې تېرې کړې، د سولې شمېره یې ډایله کړه،
هغې ټیلفون اوکې کړ ویل یې:
په ما میینه شمشاده څنګه یې؟
شمشاد ویل:
ښه یم دومره ډېر ښه نه، اوس مې د میروس اکا په بڼ کې یوه منهه له ونې وشکوله، بیا مې هنداره کې خپل مخ تـه وکتـل، دې مني زه هم لکه د مني پاڼه زېړ کړی یم.
سولې ورو ورو وخندل، ویل یې:
آه څومره ګیلې کوې، خیر دی بیرته به تیار شې او رنګ به دې تر او تازه شي
شمشاد وخندل، ویل یې:
نااا ! غم غـم د میینتـوب دی، درې میاشتې تېرې شوې چې زما کورنۍ ستاسې کور ته د ریباری لپاره درغلي خو تاسو د هو او نه ځواب مونږ ته نه دی رالېږلی، نه پوهېږم،حیران دریان یم چې دا وړی به شړی شي کنه خو تمه مې لا په زړه کې شته او همت له





لاسه نه ورکوم، پرون هم درباندې میین وم، نن هم او سبا بـه هم درباندې میین واوسم.
سوله مسکۍ شوه، ویل یې:
ما د هماغې ورځې په سبا مور او پـلار تـه ستا پـه اړه وویـل چې شمشاد سره مې کوژدې کولو ته زړه دی ته نو اوس زړه مه خوره چې لخیره فارغ شوو بیا به کوژده هم وشي، صبر ولـره، ببېړه ښه نه ده.
شمشاد ویل:
اې ! ته رېښتیا وایې؟
هغې ویل:
هـو نـو مـا کلـه تاتـه دروغ ویلي دي چې اوس یـې درتـه ووایـم.
اړیکـه دواړه سره پـرې کـړه، څو ورځې نورې هـم تېرې شـوې، منوګرافونـه یـې دفـاع کـړل او د پوهنتـون د فراغـت غونـډه هم برابره شوه، د فراغـت پـه ورځ شمشـاد د دریځ پـه سر ویاندویې کوله، په تور واسکټ او سپین کالیو کې بیخي ښایسته شوی و، سولې خو څه چې نورو هم زړونـه پـرې بایلل، د سولې مور غوټۍ پـه همدې ورځ پـه زړه کې ومنله چې لـور بـه یـې شمشـاد تـه ورکوي.
درې ورځې وروسته تر فراغتـه، ملاله بیا د سولې دوی کور تـه د ریباری لپاره راغله، فتح خان په دې پلمه ځواب ورکړ چې ګنې په خپلو کې یې سلامشوره نه ده کړې، بیایې ملالې ته ویل:
وریندارې ! ښایي زمونږ او ستاسو خیښي سره ونه شي خو مونږ به بیاهم په دې اړه وغږېږو ، دملالې سترګې له اوښکوډکې ډکې شوې، پـه کوټه کې یې غوټۍ او فتح خان ته په ځیر ځیر



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل، په زړه ماتې توګه د فتح خان له کوره د خپل کور پر لور روانه شوه.

له مني تر پسرلي شمشاد ددې سربېره چې د ځان لپاره د دندې پیداکولو په هڅه کې و د سولې په خپلولو پسې یې هم په ځان شپه او ورځ یوه کړې وه، تر پسرلي پورې یې ملالۍ، نومیالی او جانباز پرې ستړي کړل، څوارلس واره یې د سولې ریباري وکړه خو فتح خان خپلې دوه پښې په یوه موزه کې اچولې وې چې شمشاد ته یې لور نه ورکوي.

دوه شپې وروسته بیا ملاله، نومیالی او جانباز په توره شپه د ملک فتح خان کور ته راغلل، جانباز ویل:

مونږ ریبارۍ ته راغلي یو او دا وار به خامخا مونږ ته سم ځواب راکوې

پرته له سولې او مور یې نور هېڅوک راضي نه و چې دا کوژده دې وشي، ملک فتح خان نورې پلمې پیدا نه کړې، ویل یې:

جانبازه یاره ! شمشاد ښه هلک دی، دنده نه لري او زه مې لور داسې چا ته نه ورکوم چې څوک دنده ونلري، او بله خبره داده چې زه لس لکه افغانۍ ولور غواړم، خپه نه شئ، تاسو زما د خیښۍ زور نه لرئ

د سولې زړه هم نور کور ونیوه، داسې وه لکه په تاوده طبخي چې ولاړه وي، کور او کوټو ځای نه ورکاوه، هره شېبه به یې د شمشاد په اړه فکرونه کول، ورځ په ورځې یې رنګ زېړېده، څو واره یې مور په ښار کې تر ډاکتره بوتله خو پنډ پنډ درملو پرې هېڅ تاثیر نه کاوه او ورځ په ورځ د مېینتوب درد نوره هم کمزورې کوله، بله ورځ یې مور ته ویل:





زه یو خاوند حق لرم او غواړم چې له شمشاد سره واده وکړم، پلار مې په دوه درې کلو کې تر ټولو شتمن سړی دی، دی نو پیسو ته څه اړتیا لري چې لس لکه ولور غواړي، اخر ما په پیسو خرڅوي؟

مور یې غلې شوه، سر یې په زنګنو کېښووده، ویل یې:

سمه ده، زه دې د پلار سره په دې اړه خبرې کوم

دوه شپې وروسته ملالې خپل زوی شمشاد ته ویل:

زویه د سولې پلار آسمان په ډبرو ولي، تمه نلرم چې هغه دې له مونږ سره خېښي وکړي، ډول ډول پلمې کوي، راځه زویه د یو بل چا کور ته به د ریبارۍ لپاره لاړه شم، څه یې کوې، سوله ښه جلۍ ده خو مونږ ته یې نه راکوي.

شمشاد خپل سر په زنګنو کېښووده، ویل یې:

مورې! پرته له سولې زه هېڅ بله نجلۍ نه کوم، دوی په همدې خبرو بوخت و چې سولې د شمشاد ټیلفون ته زنګ وواهه، شمشاد یې له موره یو څه لرې لاړه، سولې سره یې په ټیلفون کې خبرې پیل کړې، سولې ویل:

شمشاده ! قربان دې شم، پلار مې نه درکوي او ما درسره ژمنه کړې، راته ګران یې، بې تا راته ژوند ناشونی دی، نه شم کولای یواځې واوسم او یا له بل چا سره کوژده وکړم.

شمشاد ویل:

خورې ! پنځلس ځلې مې کورنۍ ستاسو کور ته د ریبارۍ لپاره درغله، څه وکړم، ته راته یوه لاره راوښیه چې څه وکړم او له کومو لارو مخ ته لاړ شم.

سولې د زړه په زور وویل:

مېينــه يــم منكــره نــه يــم

كـه شـينكى خـال مـې د چـړو پـه څوكـو ځينـه

شمشاد غلى شو، سولې ويل:

غم مه کوه دوی چې ما خرڅوي ماته يې هم لارې معلومې دي چې څه وكړم، دوه لكه افغانۍ لرم او طلايي لاكټ به مې هم خرڅ كړم او دواړه به كوم بل هېواد ته پټ وتښتو.

شمشاد د زړه په زور وخندل ويل يې:

خپل كچكول بـه گرځومـه خپـل ربـاب بـه ټنگومـه

باباگـان بــه رالړزومــه شـاه زلمـي بيدارومــه

دقـام خيـر بـه ټولومـه د پښـتو پـت بـه سـاتمه

خپـل كچكـول بـه گرځومـه

سولې ويل:

ښه نوچې داسې ده، ته كوم ملاته لاړ شه او زما په لار باندې تاويذونه وكړه څو چې په تا مهربانه شي او مادرته دركړي.

دا دا مـې نـه دركـوي تالـه

راشــه زمــا پــه دا وكــړه تاويزونــه

هغه ويل سمه ده.

د همدې شپې په سبا باندې كوز كلي ته لاړه او هلته ملا برېتور ورته تاويذونه وكړل، هغه لاپې زياتې وكړې چې فتح خان به يې تاويذونه ژر مهربانه كړي.





لس ورځې همدا تاويذ سولې د خپل پلار د كوټې په دروازه باندې راځوړند كړ، بيايې شمشاد تـه ويـل چې بيا ريباران راولېږه، جانباز، ملاله او نوميالى بيا ورغلل، د ريباري يادونه يې ورته وكړه خو فتح خان چې په خپل خره سپور و او د هېچا خبره يې نه منله ټينگار يې كاوه چې شمشاد ته خپل لور نه وركوي او بيا يې ريباران ځواب كړل چې خپښي ورسره نه كوي.

يوه ورځ وروسته سولې شمشاد ته په پيغام خونه كې وليكل:

دادا پــه هــيڅ نــه رضـا كېـږي

د درواغجـــن مـــلا دې ورک شـــي تاويزونـــه

دوه مياشتې نورې هم تېرې شوې، دا ورځې نور په شمشاد او سولې داسې تېرېدې لكه د دوزخ په منځ كې چې ولاړ واوسي، ورځ پرې اونۍ، اونۍ پرې مياشت او مياشت پرې لكه د كال په څېر تېرېده.

٢٩ ځلې د شمشـاد كورنۍ ريبـاري وكـړه، د كلي ټـول مخـور كسان يې په فتح خان سترې كړل خو هغه لا په خپله خبره ولاړ و.

دېرشم ځل ريباري ته د شمشاد دوی د څانگې امر استاد جهانزيب، جانباز، د جومات امام مولوي جمعه دين او ملاله ورغلل، مولوي جمع الدين په خپلو ږيره لاس وواهه، دوه درې آيتونه او حديثونه يې تلاوت كړل، نصيحتونه يې وكړل، فتح خان په كوټه كې سر ټيټ نيولى و او سترگې يې په قالينه خښې كړې وې، په تروش تندي يې جانباز ته وكتل، ويل يې:

جانبازه! زه به مې لور شمشاد ته وركړم خو لس لكه روپۍ غواړم



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانباز ژر خوله راټوله کړه، نصوار یې د قالینې له څنډې لاندې توف کړل، په کوټه کې اِیسته اِیسته وکتل، ټول غلي و، ویل یې:
فتح خانه هوښیار سړی یې، په کلي او کور کې درې لکه ولور دی نو تا ولې دوه پښې په یوه موزه کې کړي او د بل چا خبره نه اورې؟
د شمشاد او سولې دوی آمر استاد جهانزیب ویل:
ګورئ! شمشاد او سوله دواړه زما محصلین و، زحمت مې ورسره ګاللی حق لرم چې ولور زیات یا کم کړم، اوه لکه افغانۍ سمې دي، فتح خان هېڅ ونه ویل:
جانباز په خپل ځای کې له غصې تور او شین واوښته، ویل یې:
سمه ده فتح خانه ورشه، دستمال راوړه، د خپل زاړه واسکټ د چپ اړخ له جیبه یو لک افغانۍ راوویستې او د فتح خان په مخ کې یې کېښودې.
د سولې ورور پاڅون ژر کورته منډه کړه، غوټۍ او سولې ته یې ویل:
ریبارانو سره جوړ راغلو په اوه لکه روپې مو خپښي وشوه، یو دستمال راکړئ چې ور یې کړو.
دستمال دوی د فتح خان له کوره بیرون کړ، چای څکلو او مجلس کولو ته هم تم نه شول، جانباز له ټولو ځان مخکې کړ، دستمال یې په اوږو اچولی و، د شمشاد دوی په کور ورننوته، د حویلۍ په انګړ کې یې په لوړ غږ نارې کړې چې چیرته یاستئ دستمال مې راوړ.





ملاله نومیالي له لاسه ونیوله اوله کوټې یې بیرون راوویسته، ویې لیدل چې د جانباز په اوږو دستمال پروت دی، لېمې د چاکلیټو ډک پاکټ راوړ او په جانباز یې وشینده، زرکې خپل بکس په بیړه خلاص کړ، د څو کلونو وړاندې ګلان یې راوړل او د شمشاد په غاړه کې یې ور واچول.
خوشالي وه، شمشاد او سوله دومره خوښ و چې حد یې نه و، لېمې چمبه راوړه، ملالې په ناستې له چمبې غړونه ووېستل، نومیالۍ یې د شمشاد په مخ کې ګډه کړ، بیا د شمشاد دوی د سولې مشر استاد جهانزیب او مولوي جمعه الدین دننه د حویلۍ انګړ ته راغلل، ملالې ته یې مبارکه ورکړه، مولوي جمعه دین ویل:
خدای ج دې دواړه سره واړه او زاړه کړي،نور هغوی روان شول د همدې ورځې په سبا سولې او شمشاد دواړو په ټیلفون سره خبرې پیل کړې، د خوشالۍ او مینې خبرې، شمشاد ویل:
سولې ! دیرش واره مې ریباران کور ته درولېږل، اوس د اوسپنې پښې نشته که هغه هم وای نو زړېدې
هغې کټ کټ وخندل ویل یې:
شمشاده ! که دې همدا سې ژر ژر ریباران نه وای رالېږي او جانباز اکا زیات ټینګار نه کولای زما او ستا کوژده هېڅ سره نه کېده، پلار مې هېڅ نه راضي کېده، ته ګوره آن د ملایانو تاویذونو هم پرې تاثیر ونه کړ، شمشاد ورو وخندل ویل یې:
ټول ټولګیوال خبر شوي چې ما او تا سره کوژده وکړه، ټول زنګونه وهي، بیا یې آسمان ته وکتل چې ورېځې په حرکت کې دي، کله د لمر سترګه پناه کړي، ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولې ! آسمان ته ګورم کله کله وربځې د لمر سترګه پناه کوي، داسې وخت دې رانه شي چې تا څوک له مانه پناه کړې او رانه لرې شې.

هغې په کړس وخندل، ویل یې:

اوه لکه روپۍ پیدا کول آسانه کار نه دی، یو لک روپۍ مو زما پلار ته ورکړي د شپږ لکه افغانیو نورو پیدا کول به دې یا په کلي کې زور کړي او یا به دې له هېواده ورک کړي.

شمشاد غلی شو هېڅ یې نه ویل، دې وخت کې د شمشاد ملګری ښایسته خان د هغه خواته راغی، ویل یې:

شمشاده ! مبارک د ملک فتح خان له لور سره دې کوژده وکړه، پرته له دې چې له سولې سره شمشاد مخه ښه وکړي اړیکه یې پرې کړه.

دوه شپې وروسته جانباز، نومیالي او ملالې یو لک افغانۍ نورې هم ملک فتح خان ته ور وړې، دپاتې پنځه لکه افغانیو پیدا کولو ته د ملالې توره تبه وه، تر هر لمانځه وروسته به یې دعا ګانې کولې چې خدایه ج ته پخیر د شمشاد واده وکړې، وختونه همداسې تېرېدل، منی راورسېده .

بله ورځ شمشاد چې لوستی و خپل وریرونو ته یې زده کړه ورکول پیل کړه ، خپلو بې پلاره وریرو ته یې ویل:

لوستی کاکا دې درنه ځار شي درس ووایئ ، زده کړې مو له سیالانو سره سیال کولای شي ، بیا یې خپلې وریرې بسو ته ویل

:

خورې بسو ته به ډېر درس وایې زه غواړم له تا په راتلونکی کې ډاکټره جوړه کړم او له وراره ګل مې نعمت جان انجنیر.......





د منې په لومړیو ورځو کې شمشاد او مور یې ملالۍ د څرګند خان کور ته په میلمستیا تللی و ، ناڅاپه کلي کې د جګړې آوازه خپره شوه، یوه بل ته ویل چې نن شپه جګړه کېږي،دا خبره په کلي کې زیاته شوه، ورو ورو له کلي کورنۍ په وتو شوې، ځینو خو آن خپل څاروي هم په مخکې واچول او هغه کلو ته روان شول چې د جګړې آوازه پکې نه وه.

نومیالي شمشاد ته زنګ وواهه، ویل یې:

شمشاده ! رانه شئ چې په کلي کې د جګړې آوازه توده ده مونږ هم ښار ته درځو

هغه ویل:

پخیر راشئ

مازدیګر مهال یې نومیالي خپله مېرمن، وربرونه او درېواړه وریندارګانې په خپل موټر کې کینولې او د ښار پر لور روان شول، د نومیالي په ګډون یولس ماشومان او ښځې په دې موټر کې سپرې وې، له خپل کلي تېر شول څو ښار ته ځان ورسوي، دوی له دې وېرې تښتېدل چې په کور یې مرمۍ ونه لګېږي، څوک مړه او ټپیان نه شي خو دوی له په خپل هغه قسمت ناخبره و چې لا دمخه یې انتظار باسي، په لاره کې ددوی موټر یوه خښ کړل شوي ماین ته برابر شو ، درز شول، سراچه موټر ټوټې ټوټې شو ، د بل کلي خلکو رامنډې کړې، ګوري چې د انسانانو د غوښو او د موټر ټوټې پرتې دي، کلیوالو د مړو ټوټې راټولې کړې، د ټولو له سترګو اوښکې روانې وې، حیران حیران یوه بل ته کتل، ټول کلي هڅه کوله چې په ماین چاودنه کې وژل شوي کسان وپېژني چې څوک دي، د ماین له ځایه سل متره لرې یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوټه ښکارېده، ددې کلي يوه اوسېدونکي چې تر لسم ټولګي
يې ښوونځي لوستی و ورمنډې يې کړې، واسکټ نيم پاټې و،
جېب يې وکوت چې پکې پېژند پاڼه پرته ده، ژر يې په پېژند پاڼه
سترګې ورخښې کړې، بيا يې خپل تندي ته پړق ورکړ، ويل يې :
وا خلکو ! معلوم شول چې دا وژل شوي څوک دي، دغه ده
پېژندپاڼه يې، يو وژل شوی نوميالی نوميږي د کوز کلي
اوسېدونکی دی، هغه چې دا دوه درې کلونو کې يې څلور
ورونه مړل شول.
ماښام شو، د برکلي ملک انارګل د کوز کلي ملک فتح خان ته
زنګ وواهه، ويل يې:
څو دقيقې وړاندې يو سراچه موټر زمونږ کلي سره نژدې ماين
والوزاوه، سپاره کسان پکې لکه چې ښځې او ماشومان دي،
ټول مړه شوي دي، هېڅ نه پېژندل کېږي، بيا يې ويل:
د واسکټ يوه ټوټه مو پيدا کړه، پېژندپاڼه پکې پرته وه، يو
وژل شوی نوميالی نوميږي ستاسې د کلي دي.
فتح خان په بېړه ويل:
اوس ريښتيا وايې؟
هغه ويل:
هو زمونږ کلي خواته ژر له څو نفرو سره راشه.
د سولې په سترګو تور ماښام شو، ژر يې د شمشاد ټيلفون ته
زنګ وواهه، هغه ټيلفون اوکې کړ، سولې ويل:
ته چېره يې؟
شمشاد ورته ځواب ورکړ چې زه او مور مې د څرګند په کور کې
يو او له نوميالي لالا سره مې نور ټول راروان دي، ويل يې:





ولې څه خبره ده.
سوله غلې شوه، بيا يې ويل:
همدا سې په کلي کې د جګړې آوازه وه ځکه مې دې پوښتنه وکړه
بيا غږېږو.
فتح خان د ماين ځای ته ځان ورساوه، ويې ليدل چې د شمشاد
دوی ټوله کورنۍ وژل شوې، دې وخت کې يې مېرمنې غوټۍ
ورته زنګ وواهه، ويل يې:
ملکه شمشاد اوملاله د څرګند کور ته تللی و، ته دا وژل شوي
وګوره چې څوک دي
فتخ خان ويل:
سمه ده، په مخه ښه
فتح خان او جانباز دواړو د وژل شوو د غوښو ټوټې ټولې کړې،
ژر يې بل موټر راوغوښته او د يولس وژل شوو د خوښو ټوټې
يې پکې بار کړې، په وژل شوو کې د لېمې، او هوسۍ جسدونه
لږ روغ و خود نوميالي، زرکې او نورو ماشومان مړي هېڅ نه
پېژندل کېدل،مخصد يې غوښې سره راټولې کړې.
جانباز ويل:
مړي به له ښاره خښ کړو، ښايي په کلي کې جګړه وشي، مړي
يې په موټر کې بار کړل او د روغتون په لور روان شول څو هلته
هر مړی تر پېژندو وروسته په کفن کړي او تابوت کې يې
کېږدي.
فتح خان خپل ټيلفون راوويسته، څرګند ته يې زنګ وواهه،
ويل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کورنۍ دې یوځه لرې لاړ شه کار درسره لرم
هغه ویل:
سمه ده وایه لرې لاړم.
فتح خان ویل:
نومیالي دوی له جګړې درتښتېدل، موټر یې ماین ته برابر شوی او ټول پکې وژل شوي دي، ته یې مور او شمشاد مه خبروه، یوه بانه ورته وکړه او د روغتون په لوري را روان شه مونږ مړي په موټر کې بار کړي دي او در روان یو.
ټوله شپه، څرګند ،فتح خان او جانبار په روغتون کې هم ژړا کوله اوهم یې مړي په کفن او تابوت کړل، څرګند به چې د خپلې لور لېمې او زوم نومیالي مړي ته ودرېده چیغې به یې بیخي په لوړ غږ شوې.
یولس جنازې یې په کفن کړې او تابوتونه یې ورلو ته تیار کړل، د سهار ملایانو چې اذانونه پیل کړل جانباز دوی مړي په امبولانسونو کې بار کړل، فتح خان سولې ته زنګ وواهه، ویل یې:
لورې شمشاد او ملاله جوړ دي نور ټول وژل شوي دي، ډېر مړي ټوټه ټوټه دي، هېڅ نه پېژندل کېږي، جنازه یې یولس بجې کوو، ته او مور دې راشئ، نور یې ټیلفون پرې کړ.
سهار یې مړي د څرګند د کور پر لور روان کړل، څرګند د خپلې لور لېمې او زوم نومیالي مړي چې په یوه موټر کې بار کړي و سر ته یې ناست و او تر خپل کوره یې لپې لپې اوښکې تویې کړې.





لا سمه رڼا شوې نه وه چې فتح خان او جانباز دوی د څرګند کور ته یوولس جنازې ور وړې، جانباز دوی جنازې د څرګند کور ته ننویستې، له مخامخ کړکۍ د شمشاد، ملالې او د څرګند د کشرې لور شیبې سترګې په جنازو ولګېدې، یوناڅاپه چیغې شوې، ټولو په چیغو جنازو ته رامنډې کړې، ملالې ویل:
جانبازه ! دا څوک مړه شوي دي؟
جانباز خړ څادر خپلو سترګو ته نیولی و او غلی ولاړ و، په دې وخت کې فتح خان او څرګند بل تابوت د حویلۍ انګړ ته رادننه کړ، فتح خان ویل:
ملالې خورې! څه چې د خدای رضا وي، ستا زریالی، نګورګانې او لمسیان ټول په لاره کې په خښ شوي ماین وربرابر شوي، یو هم جوړ نه دی، بیخي مړي پېژندل کېږي نه، موټر یې په بم الوتی، شمشاد د خپل خسر ددې خبرو په اورېدو سره په لوړ غږ چیغې پیل کړې او ملاله په خپل ځای کې راولوېده، د څرګند کورنۍ او شمشاد په زوره زوره کوکارې وهلې، ملاله بې هوښه پرته وه، شیبې لږ د بورې شربت په خولې کې ورڅڅاوه او نور د خپلې خور لېمې د تابوت سرته کېناسته.
فتح خان او جانباز غلي ولاړ و، له سترګو یې لارې لارې اوښکې روانې وې، د څرګند ګاونډیان په منډه د هغوی کور ته راغلل، په دروازه کې ټول لاس تر زنې ولاړ و، عمرخوړلې ښځې تابوتونو ته حیرانې ناستې وې، دوه بوډۍ د ملالې مخ ته یخې اوبه ورشیندلې او د بورې شربت یې په خوله کې ورڅڅاوه چې ببره په هوښ راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فتح خان او جانباز بیرون ووتل، د څرګند کلیوالو ته یې د کبر د کیندلو دنده ورکړه، اته بجې شوې چې د شمشاد دوی خپلوان او کلیوال هم راورسېدل، هره ډله سپین سرې ښځې به چې د څرګند په حویلۍ راننوتې ورسره سم به چیغې په حویلۍ کې څو برابره زیاتېدې، غوټۍ او سوله هم راورسېدې، غوټۍ ملالې ته ورمنډې کړې خو ملاله بې هوښه په خپل ځای کې پرته وه د سولې له سترګو اوښکې روانې وې، مخامخ شمشاد ته ودرېده، بیا یې یو مړی وکوت، څو شیبې وروسته ملاله په هوښ راغله، ویې لیدل چې دنګورګانو مړي یې پېژندل کېږي خو د زریالی او لمسیانو مړي یې ټوټې ټوټې دي، په لوړ غږ یې چیغې وهلې، غوټۍ له یوه لاسه او سولې له بله لاسه نیولې وه، د هر مړي سرته به یې چې وروسته سوې سوې کوکې به یې کولې او پرې ورټیټېده به.

د مور چیغې یې چې ډېرې شوې شمشاد بې هوښه شو، سولې ژر ورمنډې کړې، نور د کلي سپین سرې ښځې او خپلوانې یې راغلې، سوله لرې ودرېده .

ټول حیران حیران ولاړ و، یولس بجې شوې، جانباز او فتح خان د څرګند کور ته راننوتل، جانباز ویل:

هلئ ژر ژر مړي وګورئ چې وخت پوره دی جنازې کوو، مړي ډېر دي ترڅو یې چې خښوو ناوخته کېږي، دوه درې شیبې غلي غلي هغوی په خپل ځای کې ودرېدل، بیا جانباز په دروازه کې ولاړ ځوانانو ته لاس وخوازاوه، ورته ویل بې جنازې پورته کړئ دې وخت کې چیغې ډېرې شوې، د ملالې، شمشاد، شیبې او سولې په ګډون ټولو خپلو او پردیو ښځو چیغې ووهلې، آن





دومره په لوړ غږ چیغې وهل کېدې چې فکر به دې کاوه آسمان کړنګیږي.

ټولې یوولس جنازې د څرګند له کوره خاورو ته وسپارل شوې.

شپږ میاشتې تېرې شوې، شمشاد په دې موده کې هڅه وکړه چې چیرته دنده ځان ته پیدا کړي خو د زور او زر د نه شتون له امله چا دنده ورنکړه، بله ورځ تر سلا مشورو وروسته شمشاد او ملاله د جانباز کور ته ورغلل، ملالې ویل:

زه خو تباه شوم، کور مې په مرګ سپېره شو، جانبازه وروره یو لک افغانۍ به نورې مونږ فتح خان ته ورکړو، لږ زارۍ به هم ورته وکړو که مونږ ته واده راکړي، جانباز په خپل ځای کې وپشېده، ویل یې:

فتح خان ډېر بل ډول سړی دی فکر نه کوم چې د خپلې لور ولور دې درې لکه افغانۍ واخلي او نورې دې معاف کړي.

ملاله او جانباز یې په توره شپه کور ته ورغلل، یو لک افغانۍ یې ور وسپارلې، ملالې ساړه ساړه آسویلي وویستل، بیا یې ملک فتح خان ته ویل:

ملکه وروره ! خپله ناروغه یم، په لاره ګرځېدی نه شم، او ورځ په ورځ مې ناروغي زیاتیږي ښایي چې ښه نه شم نو خیر دی که دا نورې پیسې مونږ ته راوبښې څو مونږ واده وکړو ؟

مخکې تر دې چې فتح خان څه ووایي جانباز په خپل ځای کې په ګونډو نیغ کیناسته، ویل یې:

څومره د ډوډۍ لګښت چې کېږي ملک فتح خانه هغه به زه راوړم، اوس ددوی ټوله کورنۍ تباه شوه، دا ښه مونږ سره وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او واده راکړه خو جانباز تندی تروش نیولی و او خپلې پښې یې
په یوه موزه کې کړې وې چې د لور ولور یې کم نه اخلې.
یو کال نور هم تېر شو، شمشاد ټولو حکومتي ادارو ته لاړ څو
دنده پیدا کړي خو چا ورته دنده ورنه کړه ځکه د دندې معیار
د وطن په ډېرو ادارو کې د وړتیا او پوهې پرځای اړیکې، زور
او زر و، بله ورځ د سولې دوی کور ته ورغی، له ډېرې مودې
وروسته یې له خپلې کوژدنۍ سولې سره ولیدل، د شمشاد
رنګ زېړ اوښتی و او د کورنۍ د یوولسو غړو مرګ بیا بیخي
داسې تک تور اړولی و چې هېڅ پېژندل کېده نه.
سولې ته یې ویل:
چې له پوهنتون فارغه شوی یم دغه ده یو نیم کال تېر شو خو
دنده مې پیدا نکړه، بیا یې د هغې په تورو زلفو لاس وواهه،
سولې یې سترګو ته وکتل، د شمشاد سترګو کې ډنډ اوښکې
ولاړې وې، د یوې اوږدې بیوسۍ تصویر یې د سترګو په
نینیګک کې ښکارېده، نبغ نبغ یې ورته وکتل بیا یې د خپل
بکس په لور روانه شوه، په سنډو یوه ګنډل شوي سپین دستمال
کې تاوکړې یو لک روپۍ یې راوړې، شمشاد ته یې ویل:
دا پیسې واخله، سبا مې پلار ته راوړه چې دی پرې موړ شوي او
خېټه یې پرې ډکه شي.
هغه پیسې په جېب کې واچولې او د خپل کور په لور روان شو.
شپږ میاشتې نورې هم تېرې شوې، شمشاد دنده پیدا نه کړه،
ځمکې ځای نه ورکاوه، ملالې همدا یو لک روپۍ فتح خان ته
راوړې، ویل یې:





ملکه وروره دا یو لک روپۍ هم واخله خو خیر دی زمونږ واده
راکړه نورې پیسې نه لرو، زوی مې دنده نه لري، اخر څه وکړو
خو فتح خان په تریو تندي ویل:
ما خو په لومړیو کې درته ویلي و چې کم ولور نه اخلم، جانباز
شاهد دی اوس مې نو ولې غموئ.
لس واره ملاله د فتح خان کور ته راغله خو هغه په دې پلمه چې
درې لکه افغانۍ ولور یې پاتې دي نو واده یې ورنه کړ.
بله ورځ شمشاد او مور یې په کور کې ناست و، شمشاد ویل:
مورې! دنده مې پیدا نه کړه که دې خوښه وي ته یو کال د
جانباز اکا په کور کې واوسېږه او زه به ایران ته لاړ شم، درې
لکه افغانۍ به وګټم او را به یې وړم څو ولور خلاص شي او
فتح خان را ته واده راکړي.
ملالۍ دا شپه په ژړا تېره کړه، د همدې شپې په سبا یې شمشاد
ته ویل:
سمه ده زویه، زه د جانباز په کور کې اوسېږم او ته نو ایران ته
لاړ شه، د خسر له غمه دې ځان بې غمه کړه.
په همدې ورځ د سولې دوی کور ته ورغی، هغې سره یې ستړي
مه شي وکړه، سولې په خپلو وېښتانو مخ ته وواهه، شمشاد ته
یې کټ کټ وخندل، ویل یې:
ته څومره خوږ شوی یې، ډېر مې یادېږې، څه وکړم پلار مې ضد
نیولی او نغواړي چې ژر مې تاته در واده کړي، شمشاد غلی
شو، سولې ته یې په ځیر ځیر او په مینه وکتل، ویل یې:
تر څو به دلته بې دندې ګرځم، پلار دې پیسو ته هېڅ اړتیا نه
لري، ماته د زوم په سترګه نه ګوري دوښمني بې راسره پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، بیا یې د کوټې چت ته وکتل، د سولې ورته پام شو چې په سترګو کې یې اوښکې ډنډ دي، ویې خندل، ویل یې:
شمشاده وخانده، څومره په سختیو دې خپله کړم او څومره په آسانۍ به مې واده کړې، غم مه کوه دا وختونه تېرېږي.
شمشاد ورته مسکی شو، وروستی ځل یې ورته له نږدې وخندل، ویل یې:
سولې خورې ! ما اومور مې مشوره وکړه چې دا پیسې دلته نه پیدا کېږي، دنده نلرم نو زه به سبا ایران ته لاړ شم، خدای پاماني ته راغلی یم
سولې نه غوښتل چې شمشاد ته د تلو اجازه ورکړي خو د پلار فتح خان له ضده یې خپل زړه راغټ کړ، دا د زهرو غړپ یې هم وکړ، شمشاد ته یې ویل:
ورځه لاړ شه، زما قسمت به همدا و، بیا یې آسمان ته لاسونه پورته کړل، ویل یې:
خدایه! په څنګه یوه کورنۍ کې دې پیدا کړې یم چې پلرونه خپلې لونۍ د ولور په نامه خرڅوي، بیا یې آه کړل نور غلې شوه، سترګې یې پټې کړې، دا شېبه دواړو ته ډېره سخته وه، شمشاد سولې ته وکتل چې سترګې یې پټې نیولې دي، آه یې کړل او د خپل کور پر لور روان شو.
سبا د ایران په لوري وخوزېده، شل ورځې یې په لاره کې تېرې کړې، سختۍ یې په ځان وګاللې، اته میاشتې یې په ایران کې تېرې کړې، په دغه موده کې یې ۱۵۰۰۰۰ افغانۍ نورې هم راولېږلې خو لاهم ۱۵۰۰۰۰ نورې افغانۍ کمې وې څو د سولې اووه لکه افغانۍ ولورو خلاص شي.





شمشاد ته په ایران کې سوله او سولې ته په افغانستان کې شمشاد یادېده، هغه مینه چې تړون یې په ډېرو ستونزو او ننواتو شوی و خو ستونزو دواړه یوه اوږده بېلتون ته اړ کړل، څلور میاشتې نورې هم شمشاد په ایران کې تېرې کړې، د مساپرۍ یې کال پوره شو، دا یو کال په شمشاد باندې داسې تېر شو لکه سل کاله یې چې مساپري کړې وي، هره ورځ به یې سوله او خپله مور ملاله یادېده، ډېرې شپې به یې د سولې په یاد کې په رڼو سترګو سبا کولې.
ډېرو اندېښنو او غمونو ناروغ کړ، په خپله کوټه کې پروت و، تودې تبې نیولی و، سوله یې په زړه راوګرځېده، هغې ته یې زنګ وواهه، ورسره خبرې یې پیل کړې.
ویل یې:
سولې ! دعا راته کوه ناروغ یم، ستا اندېښنو بیخی داسې تک تور کړی یم لکه اور لونی، دا شل ورځې کېږي چې هېڅ کار ته هم نه یم تللی، چې سترګې پټې کړم ته او ملاله ادې مې یادېږئ، بیګا مې هم په خوب لیدې، اوف یې کړل او خپلې غزولې پښې یې راټولې کړې، بیا یې ویل:

مینه دې اور دی او په ما پور دی
رنګ مې تک تور دی غم دې زور دی مړ به شمه

سولې د شمشاد دا خبرې واورېدې، په ژړا شوه،د خپل ټیلفون په ښیښنه کې یې د شمشاد انځور ته وکتل، په ډېرې بېوسې سره یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدای دې د خولې لاړې دارو کړه
## زه درتلـــی نـــه شــمه دعـــا درتـــه کومـــه

شمشاد ورته ویل:
سولې که ښه شوم لخیره نیت مې دی چې ترکیې ته واوړم، هلته کارونه زیات دي، یو کال ترکیه کې کار کوم او بیا افغانستان ته درځم واده کوم.
سولې خپل زړه غټ کړ، ورته ویل یې:
افرین زمریه، غم ونه کړې په نارینه دا ورځې راځي، په زحمت پسې راحت شته، مخکې تر دې چې دواړه مخه ښه وکړي اړیکه یې پرې شوه، په اصل کې همدا اړیکه ددوی وروستۍ وه.
درې ورځې وروسته شمشاد ښه شو، ملالې مور او جانباز ته یې زنګ وواهه، هغوی ته یې ویل چې غواړي ترکیې ته واوړي، خدای پاماني یې ورسره وکړه، د خپل کلیوال زېړوک، لعل جان او غنمرنګ سره د ترکیې په لور روان شو، لاره کې یې زېړوک ته ویل:
چې ترکیه کې دوه لکه افغانۍ پیدا کړم یوه ورځ هم نوره پکې نه تېروم، ځم افغانستان ته او خپل واده کوم.
ترکیې ته دوی په ناقانونه لارو تلل، د سین د لارې د ترکیې خاورې ته په شپه کې تېر شول، دې وخت کې لعل جان ته زنګ راغی، ټیلفون یې وشرنګېده، د سین څنډې ته د ترکیې پولیسو پام شو، د شمشاد دوی په لور یې څو تنو رامنډې کړې، یوه یې ورباندې ډزې وکړې، د مرمیو یو جاغور یې په دا توره شپه کې په دوی تش کړ، منډې شوې، شمشاد ځان بېرته سین ته واچوه، ملګرو یې دی ونه لیده، ترکي پولیس په زېړوک، لعل جان او





غنمرنګ پسې لاړل، شمشاد چې هرڅومره هڅه وکړه خو ونه توانېده چې ځان د سین څنډې ته کړي.
اوبو کې ډوب شو، په اوبو کې یې هره خواته لاس واچوه، آن ځګونو ته یې لاس واچوه چې ځان پرې وژغوري خو بخت ورسره یاري ونکړه او اوبو ډوب کړ، کله چې د پولیسو پام شو هغه وخت شمشاد اوبو وژلی و.
شمشاد یو عالم هیلې درلودې څو له سولې سره واده وکړي، هغې ته په مینه وګوري، خپله راتلونکې ښه برابره کړي او د بورې مور ملالۍ هیلې یې پوره کړي خو له دې نه وخبر چې په څلورو پنځو زامنو بوره شوې مور ملالۍ به یې ده هم بوره کیږي. ملاله او سولې شمشاد ته په تمه وې چې د ولور پیسې به ګټي خو د ولور پیسو یې سر وخوړ، پولیسو د هغه مړی له اوبو راوویسته، د ترکیې پولیسو بلې پوستې زېړوک، لعل جان او غنم رنګ درې واړه یې ونیول، پولیسو له هغوی ټیلفونونه هم اخیستي و، لس ورځې تېرې شوې، په دې لسو ورځو کې د شمشاد ملګري له ترکیې پولیسو سره بندیان و او دده جنازه هم په سړه خونه کې ساتل کېده، په یولسمه ورځ د شمشاد جنازه ورته پولیسو په الوتکه کې بار کړه، لعل جان، زېړوک او غنم رنګ یې هم په همدې الوتکه کې کېنول، درېواړو یوه اوبل ته رډ رډ کتل، الوتکه هوا ته پورته شوه، وروسته تر څو شېبو یې جنازه او دوی د حامد کرزي په نړیوال هوایي ډګر کې ښکته کړل، مرجان او غنم رنګ دواړه د شمشاد تابوت ته ناست و او ژړل یې، زېړوک په هوایي ډګر کې له یوه سرتېري ټیلفون واخیسته، د جانباز شمېرې ته یې زنګ وواهه، ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه زېړوک یم، ترکیې ته اوښتو، پولیسو په موټر باندې ډزې وکړې، وتښتېدو، شمشاد ځان سین ته اچولی و، اوبو وړلی دی، جنازه مو د کابل هوايي ډګر ته راورسوله، نن شپه یې بغلان ته دروړو ته دې خبر یې د جانباز شونډې ورپېدې، ویل یې:

هلکه دورغ وايي که رېښتیا؟

زېړوک په ژړا شو، ویل یې:

کاکا والاکه دروغ وایم غنمرنګ او مرجان هم راسره دي، یواځې نه یم نور یې ټیلفون پرې کړ.

ټوله شپه جانباز ویده نه شو، فتح خان یې هم خبر کړ چې په ولور پسې تللی زوم یې د ترکیې اوبو کې غرق کړی دی او مړ دی.

سبا نهه بجې د جانباز کور سره یو سراچه ډوله موټر ودرېده، په کوڅه کې منډې شوې چې هله جنازه یې راوړه، زېړوک، غنم رنګ، مرجان، او بهیر جنازه د جانباز کورته راننوېسته، جانباز خپل ګریوان څېرې کړ، چیغې کړې، ویل یې:

وا شمشاده! اوف خدایه!

له کوټې ملالۍ جنازه ولیده رامنډه یې کړه، جنازې ته یې ځان راورساوه، ځان یې پورته کړ او په ځمکه یې ووشته، په خپلو وینښتو کې یې ګوتې بندې کړې، غوټه وېښتان یې له غمه وشکول ،د تابوت د مخ تخته یې لرې کړه چې شمشاد مړ دی، خپل مخ یې د شمشاد په مخ یې خپل مخ کېښوده، بې اختیاره یې له سترګو اوښکې روانې وې، لس دقیقې همداسې یې سر د شمشاد په مخ وراېښی و، بیا یې ځان پړمخې په تابوت ور واچوه، ټولو فکر کاوه چې ملاله ژاړي، د جانباز میرمن رڼا په





ببړه راغله، ملاله یې له لاسو ونیوله، ویې لیدل چې د ملالې زړه درېدلی او په وجود کې یې ساه نه چلېږي.

رڼا ویل:

هله جانبازه ملاله ترور ساه نه باسي، دې وخت کې د جانباز د ګاونډي ملک سلام بوډۍ میرمن ښاپیرۍ حویلۍ ته راننوته، د شمشاد د تابوت ترڅنګ یې ولیدل چې ملالۍ اوږده غزېدلې او رڼا یې کله په خوله لاس ږدي او کله یې په سینې لاس ږدي چې ساه باسي او کنه؟

ژر ژر ورته راغله، رڼا ویل:

ښاپیرۍ موري ته دا وګوره چې ساه باسي کنه؟

ښاپیرۍ خپل لړزېدلي لاسونه د ملالې په خولې او سینې کېښودل، ویل یې:

فکر کوم ساه نه باسي، هلۍ هنداره راوړئ چې په خوله یې ورته کېږدم، بیا معلومېږي چې ژوندۍ ده که مړه؟

رڼا ژر ورته هنداره راوړه، ښاپیرۍ چې د ملالې په خوله هنداره کېښوده، خپل لاسونه یې وټکول، ویل یې:

خدای ج دې وبښي دا هم مړه شوې ده.

دا وخت نو د جانباز حویلۍ له د کلیوالو ډکه وه، خپل او خپلوان یې حیران دریان ولاړ او سلګۍ یې وهلې.

د یوې دردېدلې او بورې مور د مهربان زړه په درېدو سره په کلي کې د یوې اولس کسیزې کورنۍ روښانه ډېوه په نړدې یوه لسیزه کې له یوې مخې مړه شوه، خپلوانو او کلیوالو ته یې یوازې ساړه اهونه او ځوروونکې یادونه پرېښودل، ددې آهونو او دردونو په اور کې تر ټولو ډېر درد او سوی د ګلونو رنګینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـولې تـه ور ورسـېده، د اور او میـنې پـه دې جګـړه کـې د هغـې محبوب سـمندرونو واخیست او دا د خپلو اوښـکو او فریـادونو په سیند کې ډوبه وه.

و من الله توفیق

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**